# دحضرت عیسیٰ

# په نوم

# د حضرت عیسیٰ په نوم

د حضرت عیسیٰ په کردار او نومونو باندې فکر.

او بنیاد یې د ساره هورنزبې په کتاب "د حضرت عیسیٰ په نوم" دے.

Translated from "At The Name Of Jesus"
By Sarah Hornsby
Copyright © 1983, Sarah Hornsby
First Pushto edition 2006

روشن بُکس

# کتاب د عیسی مسیح په نوم د استعمالولو یو ځو مفکوری

هره ورځ په خاموش وخت کښې تاسو کولے شئ:

۱ د خدائ ثنا دِ وی د حضرت عیسیٰ دپاره. ثنا ووایئ په هغه ورځ چه د حضرت عیسیٰ خاص خاصیتونه پکښې بیانیږی. د هغهٔ نه دُعا وغواړئ چه په روح کښې او حقیقی عبادت کښې ستاسو مدد وکړی. خپل خیالونه د هغهٔ لوئ والی او جلال ته متوجهٔ کړئ.

۲ کله چه تاسو ثنا وایئ نو د صفحی په لاندینئ برخه کښې کلام ولولئ. او دُعا وغواړئ چه حضرت عیسیٰ ستاسو سره خبری وکړی. دا به د خدائ د طرف نه خاص ستاسو دپاره د پالنی، سلا، او دادګیرنی لوظ وی. خدائ له وخت ورکړئ او واورئ چه د کلام په ذریعه هغه تاسو سره خبری کوی. په یوه کتابچه کښې تاسو د ځان سره لیکلے شئ چه هغه تاسو ته څهٔ وایی.

۳ د حضرت عیسیٰ په نوم کښې د حکومت دپاره، د ځان دپاره او د نورو دپاره دُعا وغواړئ. هغهٔ زمونږ سره دا لوظ کړے دے چه د هغهٔ قوت زمونږ دپاره موجود دے. تاسو په خپله کتابچه کښې دا درخواستونه ولیکئ او د خدائ

نه دعا وغواړئ چه د کلام نه تاسو ته څرګند کړی چه په داسی حالاتو کښی د هغهٔ مرضی څهٔ ده. وروستو چه کله دغه درخواستونه تاسو ګورئ نو په هغه قبولو شوو دعاګانو باندی تاریخ یا د ص (✓) نښان ولګوئ.

۴ د تیرو شوو ورځو نمونه، کلام او ستائنی بیا ولولئ چه د پرله پسی اثر زیاتیدل تر لاسه شی کله چه تاسو په نوی ورځ د هغهٔ ستائنه شروع کوئ. دا مخصوصاً د مدد باعث ګرځی کله چه تاسو ستړی یا بی حوصلی محسوسوئ.

۵ هغه څهٔ چه تاسو د دِ کتاب نه زده کړی دی، هغه خپلی کورنئ او دوستانو ته بیان کړه چه د هغوی دپاره هم د حوصلی باعث وګرځی.

# عیسیٰ مسیح الفا دے.

عیسیٰ مسیح الفا دے. الفا د یونانی لفظونو اول حرف دے. عیسیٰ مسیح زما زړۀ سره خبری کوی او فرمائی... چه د هر څۀ جوړیدلو نه مخکښی زۀ او روح القدوس خپل پلار خدای سره موجود وو. او دا کوم څیزونه چه لیدل کیږی او کوم چه نۀ لیدل کیږی دا ټول زما دپاره زما سره او زما په وسیله پیدا شوی دی. کائنات، دنیا، ټول قومونه، ستاسو کورنئ، صحت او ژوند، دا ټول هر څۀ په ما کښی پیوست دی-او دا هر څۀ زما په لاس کښی کیږدئ چه زۀ په تاسو کښی په خپلی طریقی سره کار شروع کړم...

"الفا اَؤ اومیګه زَۀ یم، الاول اَؤ الاخر، ازل اَؤ خاتمه."
(مکاشفه ۲۲ : ۱۳)

جنوری ۱

# عیسیٰ مسیح رسول دے.

عیسیٰ مسیح هغه څوک دے چه خدای د خپل سفارتکار په طور راولیږلو. ما واوریدل عیسیٰ مسیح وفرمائیل... چه زهٔ ستاسو دپاره راغلم، ستاسو دپاره په سولئ مړ شوم، ستاسو دپاره بیا ژوندے شوم او زهٔ اوس تاسو ته راغلم. چه خدای تاسو خپل ځان دپاره غواړی، او په دِ وجه زهٔ راځم او تاسو سره مینه کوم. او زهٔ غواړم چه ستاسو د زړهٔ په ملک د رښتیا او ژوندی خدای دعویٰ وکړم. او زهٔ غواړم چه خپل حکومت په تاسو کښی قایُم کړم...

"نو اےِ پاکو ورُوڼو! تاسو چه په آسمانِی بلنه کښی شریک یئ، په هغه رسُول اؤ مشرکاهن عیسیٰ غور وکړئ دَ چا چه مونږ اقرارکوؤ."
(عبرانیان ۳ : ۱)

# عیسیٰ مسیح مطلق واکدار دے.

هغه په هر څۀ باندی مطلق قدرت لری. څنګه چه ما خدای ته ووئیل چه ما سره خبری وکړه نو ما واوریدل هغۀ وفرمائیل... د زمکی او آسمان ټول اختیار عیسیٰ له ورکړے شوے دے. نن هغه ته اجازه ورکړئ چه خپل قدرت په تاسو کښی قایم کړی. هغه ته اجازت ورکړئ چه ستاسو د ژوند ټول بوج او ویره په ځان واخلي. نن هغه د دِ قابل دے چه په تاسو کښی، ستاسو دپاره، او ستاسو په وسیله لوی کارونه وکړی...

"او هر څۀ یی د هغۀ د پښو د لاندی کړل او هغه یی د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، او جماعت له یی ورکړو چه هغه د جماعت مالک شی."
(افسیان ۱ : ۲۲)

## عیسیٰ مسیح د خدای لاس دے.

هغه په کائنات کښې د خدای د مرضئ د پوره کولو قدرت دے. آیا عیسیٰ به تاسو ته دا خبری وفرمائی؟ چه زۀ به د خپلو لاسونو په زور د دغو قومونو رهنمائی وکړم او خپله بادشاهی به پری قایمه کړم. او زۀ به په مینه تاسو په خپلو لاسونو کښې ونیسم او اوچت به موکړم...

"او خدای خپل پاک لاس د ټولو قومونو د سترګو د وړاندی بربنډ کړے دے او ټوله زمکه به سراسر زمونږ د خدای نجات (خلاصون) وګوری." (یشعیاه ۵۲ : ۱۰)

## عیسیٰ مسیح د پخوانی زمانی سره (د تیری زمانی سره) دی.

هغه د هر څهٔ پیدا کیدو نه مخکښی خدای سره وو او هغهٔ به د ټولو د عدالت کولو دپاره هم خدای سره وی. عیسیٰ مسیح زما زړهٔ کښی خبری کوی او فرمائی... اوس تاسو خپلی ټولی د خودغرضئ لاری پریږدئ او ما ته راشئ. او زما تصویر په غریبانانو، قیدیانو، بیمارانو کښی وګورئ او زما خدمت وکړئ. نو بیا چه تاسو چا سره مینه کوئ هغه به ستاسو عدالت هم کوی...

"د سر ویښتهٔ یی لکه د واؤری یا سپینی وړئ په شان سپین وو اؤ سترګی یی د اور د شغلو په شان وی."
(مکاشفه ۱ : ۱۴)

## عیسیٰ مسیح د خدای غوره کړے شوے دے.

هغه خپل پلار خدای په هره لاره خوشحاله کړو. ما واوریدل عیسیٰ مسیح وفرمائیل... ما ته اجازت راکړئ چه خپل فطرت (قدرت) په تاسو کښې جوړ کړم. نو بیا به خدای خوشحاله شی، او تا به خپل ځان ته راغاړه باسی او وائی به چه "______ ستا نوم، تهٔ زما محبوب زوی یی، او زهٔ تا نه ډیر خوشحاله یم..."

"اؤ د دِ وریځی نه یو آواز راغی، "دا زما زوی دے، زما غوره کړے. دهٔ ته غوږ ونیسئ!"
(لوقا ۹ : ۳۵)

جنوری ٦

# عیسیٰ مسیح کشتئ ده.

کله چه مونږ د هغۀ په ژوند کښې داخل شو نو يو طوفان هم مونږ ته څۀ نقصان نۀ شي رسولی. عيسیٰ مسيح زما زړۀ ته فرمائی... ما ته راشه او چا سره چه مينه کوی هغه هم ما ته راوله. زۀ ستا نه ډير ستا د کورنئ خيال ساتم. زۀ هغه څوک يم څوک چه به هغوی د ژوند د طوفانونو نه بچ کړی ...

"د ايمان په وسيله نوح د هغه څيزونو په باب کښې چه تر هغه وخته په نظر نۀ راتلل، هدايت ومونډو اؤ د خدای د ويری يی د خپلی کورنئ د بچ کولو دپاره کشتئ جوړه کړه. هغۀ د خپل ايمان په سبب ټوله دنيا مجرمه کړه اؤ د هغه صداقت وارث شو چه د ايمان په سبب وو. "
(عبرانيان ۱۱ : ۷)

## عیسیٰ مسیح د وعدې کشتئ ده.

چا سره چه د خدای اختیار دے هغۀ ته مونږ د معافی او د خپلو دښمنانو نه د بچ کیدلو دپاره راځو. شاید عیسیٰ داسی فرمائی... چه من او سلوا ما سره ده (چه زۀ د همیشه روټئ یم)، ستاسو رازق یم او ما سره د خدای اختیار، لس حکمونه، او د خدای مرضی ده. د خدای په بادشاهی کښی زما وینه د رحم په ځائ کښی ده. او زما وینه به نن تاسو پاک کړی او تاسو به د دِ قابل کړی چه تاسو به د خدای په حضورئ کښی آرام او خوشحالی وکړئ ...

"او د دویمی پړدی نه وروستو هغه خیمه وه کومی ته چه پاک ترینه وائی. په هغی کښی د سرو زرو عُود مذبح او څلور طرف ته سرۀ زر پری راځیرخیدلی د وعدی صندوق وو. په دِ کښی د من نه ډک یو د سرو زرو مرتبان، او د هارون زرغونه شوی امسا، او د کاڼو تختئ چه پری حکمونه لیکلی شوی وُو. او د وعدی د صندوق د پاسه فرښتی جوړی شوی وی چه د خدای د جلال نخښی وی، کومو چه د فضل په تخت سورے کړے وو."
(عبرانیان ۹ : ۳-۵)

## عیسیٰ مسیح د خدای د حضورئ فرښته ده.

په هغهٔ کښې مونږ د خدای نور او صورت او د خدای خفاظت کونکی حضوری ګورو. کله چه ما د عیسیٰ مسیح آواز واوریدو هغه وفرمائیل... زهٔ همیشه تاسو سره یم. د پیدایښت نه تر د اسرائیل د تاریخ پوری ما خدای تاسو ته ظاهر کړو. ما سره مینه وکړئ چه تاسو د خدای لار وپیژنئ او په هغې لاړ شئ...

"ولی چه هغهٔ وئیل چه یقیناً هغوی زما خلک دي. داسی اولاد چه هغوی به هیڅ کله بی‌وفائی ونهٔ کړی. نو دِ دپاره هغه د هغوی بچکونکی شو. د هغوی په ټولو مصیبتونو کښې هغه مصیبت زده شو او د هغه د حضور فرښتی هغوی بچ کړل."
(یشعیاه ٦٣ : ٨-٩)

## عیسیٰ مسیح وکیل دے.

"د دِ دپاره چه څوک د دۀ په وسیله خدای ته راځی هغه هغوئ ته پوره پوره خلاصون ورکولی شی ځکه چه هغه د هغوئ د شفاعت دپاره همیشه ژوندے دے" (عبرانیان ۷ : ۲۵). عیسیٰ مسیح نن ما سره په دِ خیالاتو خبری کوی... چه شیطان اوس هم د خدای په وړاندی په تاسو تهمت لګوی. زۀ هلته په خپلی مینه تاسو بچ کووم. ماسره اودریږئ او ځان سره سره هغوی هم په خپله مینه او معافی بچ کړئ چا چه تاسو له زما په نوم تکلیفونه درکړی دی. هر انسان کمزورے دے او په یو ورکوټی جرم آسانی سره ماتیږی. او زۀ شفاعت کوونکے یم...

"خو کۀ چری څوک ګناه وکړی نو د پلار سره زمونږ یو شفاعت کوونکے دی، یعنی عیسیٰ مسیح چه صادق دے."
(اول یوحنا ۲ : ۱)

# عیسیٰ مسیح زمونږ د روح لنګر دے.

زمونږ خیالات، جذبات، فکرونه او خواهشات د هغۀ سره په داسی نۀ ماتیدونکی زنځیر سره تړل شوی دی کوم چه د خدای زړۀ کښی پیوست دی. په غلی آواز کښی هغه دا فرمائی... تاسو زما د نیولو کوشش مۀ کوئ. زۀ به تاسو کله هم نۀ پرېږدم. د ژوند په اوبو آرام وکړئ. ما پرېږدئ چه تاسو ونیسم او کوم اُمید چه زۀ تاسو نه کوم ما ته د هغی جواب راکړئ...

" دا اُمید زمونږ د ځان دپاره د یو داسی لنګر کار کوی چه پوخ او قائم دے او د آسمان د پردی دننه پاکترین مقام ته هم رسیدلے دے. چرته چه عیسیٰ د تل دپاره د ملک صدق د طریقی په مطابق د مشرکاهن جوړیدو سره زمونږ نه مخکښی او زمونږ د خاطره لاړو."
(عبرانیان ٦ : ١٩-٢٠)

## عیسیٰ مسیح جواب دے.

مونږ ته پکار دی چه خپل ټول سوالونه د هغهٔ خالی صلیب ته راوړو. ځکه چه ټول علم او عقل زمونږ د بیا ژوندی شوی مالک په لاس کښې دی. هغه زما زړهٔ سره خبری کوی او فرمائی... تاسو ولی سائنسی او دنیاوی علم ته برتری ورکوئ؟ او کله چه زما نُور په تاسو کښې وځلیږی نو تاسو به بیا په دنیاوی علم باندی ښهٔ پوه شئ. په ما کښې جواب دی. په ما کښې به تاسو پوه شئ چه د دنیا د سوالونو جواب به څنګه ورکوئ ...

" ما ته آواز وکړه نو زهٔ به تاته جواب درکړم او لوئ لوئ او پټ څیزونه چه تهٔ یئ نهٔ پیژنی په تا به یئ ظاهر کړم."
(یرمیا ۳۳ : ۳)

# عیسیٰ مسیح اختیار دے.

هغۀ وفرمائیل... "بیا عیسیٰ ورغے اؤ خبری یی ورسره وکړی اؤ ورته یی ووئیل چه "د آسمان او د مزکی ټول واک ما ته راکړے شوے دے. ځکه تاسو په مزکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدوس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ. او دا تعلیم ورکوئ چه په هغه ټولو خبرو عمل کوئ چه ما تاسو ته حکم کړے دے. او دا یقین لرئ چه زۀ به تل تاسو سره یم، تر آخره وخته پورې. (متی ۲۸ : ۱۸-۲۰) کله چه زۀ هغۀ ته غوږ ونیسم نو هغه ما ته داسی فرمائی... چه تاسو د دنیا د لارو نه ما ته راواوړی نو زما د معاف کولو، د تعلیم ورکولو، د بد روحونو د ویستلو او په قومونو د حکومت کولو اختیار به ستاسو شی ...

" د یکی یو خدای چه د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله زمونږ خلاصوونکے دے د جلال، شان و شوکت، قدرت او اختیار له ازل نه، اوس او تل تر تله وی آمین."
(یهوداه ۲۵)

# عیسیٰ مسیح د منې (سیبو) اونه ده.

د هغۀ په موجودګئ کښې مونږ ته سورے، آرام، ښکلا، خوشبو، تازه او خوږه میوه ملاویږی. نن هغه فرمائی... زۀ تاسو سره نۀ ختمیدونکئ مینه کومه. ماته راشئ. او زما په خاکسارئ او نیکئ ځان تازه کړئ. وآزمایه او وئی ګوره چه مالک خدای څومره ښۀ دے...

" څنګه چه د منو ونه د ځنګل په ونو کښې ده، هغه شان زما محبوب په ځوانانو کښې دے. او زۀ په ډیره خوشحالئ د هغۀ په سوری کښې کیناستم او د هغۀ میوه زما په خوله خوږه ولګیده."
(د سلیمان غزل ۲ : ۳)

# عیسیٰ مسیح تبر دے.

د هغهٔ کلام مونږ تراشی او مونږ د ټولو غلطو او د دهوکابازئ د کارونو نه پاکوی. هغه زما زړهٔ کښې خبری کوی او فرمائی... زهٔ ستاسو په تکلیفونو نهٔ خوشحالیږم. د یو طبیب په شان زهٔ تاسو نه هغه هر څهٔ کټ کوم، کوم چه تاسو تباه کوی. بیا زهٔ په نرمئ سره ستاسو زخمونو ته شفا ورکوم څکه چه تاسو کومه میوه پیدا کړئ چه هغه د خدای خوښه شی. نن پریږدئ چه ستاسو همسایه ستاسو نه مینه، خوشحالی، امن، صبر، مهربانی، وفاداری، ښهٔ والے او په ځان قابو ساتل زده کړی ...

" د ونو جړړو ته تبر نیولے شوے دے او هره هغه ونه چه ښهٔ میوه نهٔ نیسی هغه به پری‌کړے شی او اور ته به اچولی شی."
(متی ۳ : ۱۰)

جنوری ۱۵

# عیسیٰ مسیح بدل اخستونکی دے.

د عیسیٰ مسیح وینه د هغهٔ د ورونو خوایندو د ګناهونو په بدل کښې تویه شوه. اوس هغه مونږ ته فرمائی... کله چه تاسو ته یا چه تاسو چا سره مینه کوی هغوی ته څوک تکلیف رسوی نو هغه تکلیفونه او هغه څوک چه تاسو ته یئ تکلیفونه درکړی دی زما په وړاندې یی پریږدئ او د هغهٔ د معافی دپاره داسی دعا وکړئ. "ای خدایا دوی معاف کړه ځکه چه دوی نهٔ پوهیږی چه دوی څهٔ کوی. او د دِ دعا په وسیله به زما قوت د هغوی په ژوند کښې ما ته د راتلو دپاره کار شروع کړی. او په ما کښې ستاسو هم دغه یو مقصد دے چه د هر ځائ خلک ما او زما مینه وپیژني...

"ای زما عزیزانو! خپل بدل مهٔ آخلئ بلکه خدای ته موقع ورکړئ ځکه چه دا لیکلی شوی دی چه: "خدای فرمائی چه بدل آخستل زما کار دے، بدل به زهٔ آخلم." تر دی چه: "کهٔ دښمن د وږے وی نو هغهٔ له هم ډوډئ ورکړه او کهٔ تږے وی نو اوبه ورله ورکړه، ځکه چه ستا په داسی کولو به اور پری بل شی." "
(رومیان ۱۲ : ۱۹-۲۰)

جنوری ۱٦

## عیسیٰ مسیح آمین دے.

هغه د خدای د ټولو وعدو ثبوت دے. هغه فرمائی... ماته راشئ چه تاسو خپل ځان په حقیقت کښی وګورئ. ماسره ستاسو دپاره لوئ لوئ برکتونه دي، خو دِ دپاره به تاسو خپل هر څۀ پریږدئ. او تاسو به د خپل مرګ دپاره هم خوشحاله یئ ځکه چه زما په مینه کښی تاسو دپاره ستاسو د سوچونو او اُمیدونو نه هم ډیر هر څۀ دی ...

"چه ورته آمین وائی، چه هغه وفادار رښتینی ګواه دے اؤ د هغۀ په وسیله خدای هر څۀ پیدا کړل. هغه فرمائی چه... زۀ تا له دا صلاح درکوم چه له ما نه په اور کښی صفا شوی سرۀ زر واخله چه شته من شی اؤ سپینی جامی واخله چه د خپل بربندتوب شرم پری پټ کړی اؤ د سترګو رانجۀ را نه واخله چه تۀ بینا شی. هر چاسره چه مینه لرم هغوئ زۀ ملامت کوم اؤ په ادب یی ساتم، نو ځکه غیرت وکړه او توبه وکړه. ګوره، زۀ په دروازه ولاړ یم او ور ټکوم او کۀ څوک زما آواز واؤری او ور خلاص کړی نو زۀ به ورننوزم او د هغۀ سره به ډوډئ وخورم او هغه به ئی ما سره وخوری. چه څوک بریالے شی نو هغه به په خپل تخت کښینوم لکه څنګه چه زۀ بریالے شوم اؤ د خپل پلار سره په تخت کښیناستم." (مکاشفه ۳ : ۱۴، ۱۸-۲۱)

# عیسیٰ مسیح مسح شوے دے.

هغه مسیحا دے کوم چه خدای زمونږ دپاره نبی، کاهن، او بادشاه منتخب کړے دے. په هغهٔ کښی د خدای د علم، پوهی او قدرت روح دے. نن هغه فرمائی... زما ټول هر څهٔ ستاسو دی. ما پریږدئ چه تاسو په خپل روح القدوس، خوشحالئ سره مسح کړم او ستاسو زخمونو ته شفا ورکړم. زما د پاک روح تیل تیار کړے شوی، غوره شوی، قیمتی، خوشبودار، او د سرو زرو په شان پړقیږی. او کله چه تاسو زما روح القدوس حاصل کړئ نو ما او زما پلار به هم حاصل کړئ ...

"تا صداقت سره مینه وکړه او د بدکاری نه دِ کرکه وکړه دِ دپاره خدای پاک ته د خوشحالئ په تیلو د خپلو ټولو همسرانو نه زیات مسح کړی" (زبور ۴۵ : ۷)

## عیسیٰ مسیح د خدای فرښته ده.

هغه زمونږ دپاره د خدای هغه پیغام رسان دے، کوم چه د نورانی ښایُست نه ډک دے او زمونږ په دښمنانو غالب (زورآور) دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ زر راتلونکے یم تیار اوسئ. خپل ژوند ته زما د نوم نه جلال ورکړئ او د هغوی دپاره خاص دعا وکړئ څوک چه ما نۀ پیژني. دعا وکړئ چه دنیا د خدای د علم نه لکه د سمندر د اوبو په شان ډکه شی. دعا وکړئ چه د روحانی جوش نه ډک مزدوران لاړ شی او هغوی ما ته راولی څوک چه ما ته راتلل غواړی ...

"وګوره زۀ یوه فرښته ستاسو نه وړاندی وړاندی رالیږم چه په لاره کښی ستاسو نګهبان وی او تاسو هغه ځائ ته ورسوی کوم چه ما تاسو دپاره جوړ کړے دے او د هغه په وړاندی هوښیار اوسئ او د هغۀ خبره منئ."
(خروج ۲۳ : ۲۰-۲۱)

# عیسیٰ مسیح د ایمان بانی دے.

زمونږ د ایمان ابتدا او تکمیل په هغهٔ کښې دے. هغه فرمائی... ما تاسو ته د خپل زړهٔ په تخته باندی لیکلی دی. کهٔ تاسو خپل ځان زما د ایمان او د امن ژوند دپاره کولاو کړئ نو هغه به تاسو کښې راشی. زهٔ به ستاسو ټول غلط خیالونه پاک کړم او تاسو ته به خپلی طریقی، خپل خیالونه او خپل جلال درکړم ...

" او په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلیږو چه مونږ ته وړاندی ده. او د ایمان بانی او کاملوونکی عیسیٰ ته وګورو."
(عبرانیان ۱۲ : ۱، ۲)

# عیسیٰ مسیح د ټولو کامل کوونکے دے.

هغه په هره موقعه کښې د خپلو خلکو سره د هغوی د ښیګړی دپاره یو ځائ کار کوی. هغه په هر ځائ، په هره اجتماع، او د یونانیانو او یهودیانو او ستاسو په مینځ کښې د اُمید رڼا ده. عیسیٰ مسیح زما زړهٔ کښې دے خیالونو سره خبری کوی... چه ما ته د دنیا په واقعیات او په خپل حالات کښې وګورئ. زما کامیاب قدرت په هغه خلکو کښې وګورئ څوک چه تاسو نه نفرت کوی. زما مینه سخت زړونه نرموی. زما زړهٔ سواندی مینه ځان کښې پیدا کړئ ...

"اؤ هر څهٔ یی د هغهٔ د پښو د لاندی کړل اؤ هغه یی د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، اؤ جماعت له یی ورکړو چه هغه د جماعت مالک شی. جماعت د مسیح بدن دے، دا بدن د هغهٔ نه کامل کیږی چه هغه له ټولو نه په هر څهٔ کښې کامل وی."
(افسیان ۱ : ۲۲، ۲۳)

# عیسیٰ میںځګړے دے.

د هغه په ذریعه مونږ خدای سره یو کیږو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د خپل مرګ په ورځ ما ستاسو ټول ګناهونه، بیماریانی او غمونه په خپل ځان باندی واخستل. او تاسو دا هر څۀ ما ته پریږدئ چه تاسو آزاد شئ او چه تاسو چرته هم اوسئ زما د ژوند په شان ژوند تیر کړئ...

" ځکه چه سره د دی چه مونږ د خدای دښمنان وو نو مونږ د هغه د زوی د مرګ په وسیله ورسره پخلا شوو او د دِ نه زیات د هغۀ د زوی د ژوند په وسیله به بچ شو! خو یواځی دا نه، بلکه مونږ د خپل مالک عیسیٰ په وسیله په خدای کښی خوشحالی کوو ځکه چه د هغه په وسیله ورسره پخلا شوی یُو."

(رومیان ۵ : ۱۰ ، ۱۱)

جنوری ۲۲

## عیسیٰ مسیح ډیر (زیات) دے.

هغه زمونږ د ښۀ کیدو وسیله ده. د هغه نه مونږ ته ډیر جوش، مینه، ایمان، تسلی، تکلیف، د برداشت کولو طاقت، علم او ښه او بد څیزونو کښی د فرق کولو صلاحیت ملاویږی. عیسیٰ مسیح ماته په خپل نرم، وړوکی، او نری آواز کښی فرمائی... څۀ چه تاسو غواړئ او د څۀ چه تاسو سوچ کوی زۀ تاسو ته د هغی نه ډیر درکوم. او څۀ چه ستاسو ضرورت دے زۀ به هغه تاسو ته بغیر د څۀ بندیزه پوره کوم...

" ځکه چه څه رنګ د مسیح تکلیفونه په مونږ زیاتیږی دغه شان د مسیح په وسیله زمونږ تسلئ هم زیاتیږی."
(دویم کورنتیان ۱ : ۵)

## عیسیٰ مسیح زمونږ روټئ ده.

ټول خلک روټئ، یو ډیر اهم څیز (شئ) تصور کوی. عیسیٰ مسیح داسی اشاره کوی چه مونږ ټولو ته د ژوندی پاتی کیدو دپاره پکار دی چه هغه خپل ځان ته دننه کړو. هغه زما زړهٔ کښی خبری کوی او فرمائی... څنګه چه تاسو زما د حضورئ روټئ وخورئ نو زهٔ او تاسو به یو بدن، یو عقل او یو ساه شو. او تاسو به په ما کښی ښهٔ کیږئ او دا روټئ به د ځان نه ګیرچاپیره هغه خلکو کښی تقسیم کړئ څوک چه اوږی دی. او داسی به مونږ د آسمان په بادشاهئ کښی هم یوځائ روټئ خورو ...

" عیسیٰ هغوی ته ووئیل،"زهٔ د ژوندون ډوډئ یم. څوک چه ما له راځی هغه به هیڅکله نهٔ وږی کیږی او څوک چه په ما ایمان راؤړی هغه به هیڅکله نهٔ تږی کیږی."
(یوحنا ٦ : ٣٥)

# عیسیٰ مسیح زمونږ ورور دے.

د هغۀ په وسیله مونږ د خدای په ابدی کورنۍ کښې شامل شو. نن هغه فرمائی... ما سره پاتې شئ او وخت تیر کړئ چه زۀ تاسو ته خپل کلام او مرضی ظاهره کړم. نو بیا به زۀ ستا په وسیله ستا ورونړو او خویندو سره مینه وکړم. ستا په وسیله به هغوی معاف کړم. او ستا په وسیله به هغوی ته عزت ورکړم او د هغوی سرونه به اوچت کړم. ستا رڼا به روښانه شی او تاسو به پوه شئ چه تاسو زما د کورنۍ حصه یئ ...

" څوک چه د خدای په مرضۍ ځی هغه زما ورور خور او مور ده."
(مرقوس ۳ : ۳۵)

# عیسیٰ مسیح د وادهٔ زلمی دے.

هغه داسی مینه کوونکے زلمے دے څوک چه د خپلی ناوی (کلیسا) سره د وادهٔ کولو دپاره تیاریانی کوی. خدای اسرائیلو ته وفرمائیل... او زهٔ به همیشه دپاره تاسو په خپله نامه کړمه؛ آو زهٔ به تاسو په صداقت، عدالت، شفقت او رحمت باندی په خپله نامه کړم. او زهٔ به په وفاداری سره تاسو په خپله نامه کړمه او تاسو به خدای وپیژني. (هوسیع ۲ : ۱۹-۲۰) نن عیسیٰ مسیح مونږ ته فرمائی... زهٔ به په خپلی مینی یهودیان او غیر یهودیان او هغه څوک چه ما هر ځائ او هر وخت پیژنی هغوی ټول به متحد کړم. زهٔ تا سره څومره مینه وکړم اے زما مینه کوونکی ناوی ...

"راځئ چه خوشحالیږو او د خوشحالئ چغی وباسو اؤ د هغهٔ لوئی بیان کړو ځکه چه د ګډوری د وادهٔ ورځ راغلی ده او د هغهٔ ناوی ځان سمبال کړے دے."
(مکاشفه ۱۹ : ۷)

## عیسیٰ مسیح د خدای محبوب دے.

هغه د خدای محبوب دے. عیسیٰ زما زړۀ کښې په دی خیالونو سره خبری کوی... زما پلار تاسو سره دومره مینه کوی چه زۀ یئ تاسو ته راولیږلم، او هغۀ خپله مینه هغه وخت ښکاره کړه کله چه هغۀ زۀ تاسو ته درکړم. څنګه چه تاسو په هغۀ کښې خوشحاله شئ او زما د روح القدوس نه ډک شئ نو تاسو به پوه شئ (او د خدای به داسی تابعدار شئ چه هغه درته څوک اوښئ نو تاسو به د خدای دپاره خپله مینه هم هغه ته ورکړی.) او د خدای د مینی مکمل جواب به داسی ورکړئ چه هغه درته څوک اُوښئ نو تاسو به د هغه دپاره خپل ځان هم ورکړئ ...

"چه هغۀ د خدای پلار نه هغه وخت عزت او جلال وموندو کله چه هغۀ ته د هغه غوره جلال نه آواز راغے چه "دا زما محبوب زوی دے چه زۀ تری راضی یم." اؤ کله چه مونږ د هغه سره په مقدس غرۀ باندی وو نو د آسمان نه مو دا آواز واؤریدو."
(دویِم پطروس ۱ : ۱۷-۱۸)

## عیسیٰ مسیح برکت (مبارك، مقدس) دے.

هغه د خوشحالی سرچینه دے او مونږ ته خوشحالی او اطمینان راکوونکی دے. کله چه ما د عیسیٰ مسیح کلام وئیلو نو هغهٔ ما ته په غوږ کښی وفرمائیل چه... زهٔ مبارک (مقدس) یم ځکه چه زهٔ :

د زړهٔ نه غریب یم: زهٔ د هر څهٔ دپاره په خپل خدای اعتماد لرم.

زهٔ غمزده یم: زهٔ د دنیا په ګناهونو او دروغو باندی ډیر خفه یم.

زهٔ حلیم یم: زهٔ حلیم او نیک یم ولی چه زما مرضی د الله په اختیارکښی ده.

زهٔ وږی او تږی یم: زما بنیادی ضرورت دا دے چه تاسو مکمل د خدای طرف ته شئ.

زهٔ مهربان یم: زهٔ د هغوی په بدن کښی یم څوک چه د زخمیانو خدمت کوی.

زهٔ د زړهٔ نه مخلص یم: زهٔ په خپل ټول عقل ځان او طاقت خپل خدای سره مینه کوم.

زهٔ امن قایُم کوونکے یم: زهٔ د جنګونو په مینځ کښی امن پیدا کونکے یم.

او زهٔ ځورول شوے یم: څنګه چه تاسو ما سره اوسیږئ او زهٔ تاسو سره هم دا د خوشحالئ لار ده او د دِ پیروی کوئ.

# عیسیٰ مسیح برکت ورکوونکے دے.

هغهٔ خپل ځان زمونږ دپاره قربان کړو او مونږ یئ پاک او معاف کړو. هغهٔ مونږ دِ دپاره آزاد کړو چه مونږ په رښتیا هغه شان شو څنګه چه هغهٔ مونږ جوړ کړی یو. او مونږ په خوشحالئ سره وئیلی شو "چه د نن نه وروستو به ټول قومونه مونږ ته مبارک وائي!" عیسیٰ زما د زړهٔ په خاموشئ کښی ماته وفرمائیل... ستاسو خوشحالی په ما کښی د دِ دنیا د خوشحالئ په شان نهٔ ده. په دنیا کښی به تاسو باندی آزمیښتونه او تکلیفونه راځی. خو د دی په مینځ کښی به ستاسو خوشحالی زیاتیږی...

"مسیح مونږ په بیعه واخستو اؤ د شریعت د لعنت نه یی راخلاص کړلو ځکه چه هغه زمونږ دپاره لعنتی شو، ځکه چه په صحیفه کښی لیکلی دی چه "څوک چه په لرګی ځوړند کړے شو هغه لعنتی دے." دا ځکه وشو د دِ دپاره چه هغه برکت چه خدای ابراهیم ته د ورکولو وعده کړی وه، د مسیح عیسیٰ په وسیله غیریهودیانو ته هم ورسی، اؤ مونږ د ایمان په وسیله هغه روح القدس حاصل کړو د کوم چه خدای وعده کړی ده."
(ګلتیان ۳ : ۱۳-۱۴)

# عیسیٰ مسیح د خدای د جلال مظهر دے.

هغه د انسانانو دپاره د خدای مکمل عکس دے. څومره زیات چه مونږ د عیسیٰ مسیح جلال وپیژنو، نو دومره به مونږ د خدای جلال هم وپیژنو. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه تاسو زما رڼا وګورئ، نو تاسو به د هغه رڼا ذریعه او د کائنات جوړونکے هم وګورئ څوک چه زمونږ دپاره یو دے. زما د مینی شعاګانی پریږدئ چه تاسو نه هغه هر څۀ وسوځوی کوم چه تاسو زما دپاره د پړقیدو نه منع کوی، چه زما د قدرت بجلی ستاسو په ذریعه روښانه شی...

"چه هغه د خدای د جلال مظهر او د هغۀ د ذات عکس دے او ټول څیزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوی."
(عبرانیان ۱ : ۳)

# عیسیٰ مسیح د صباوون پرقیدونکی ستوری دے.

ځنګه چه د سحر رڼا تیاری او خړی لری کوی دغسی عیسیٰ زمونږ ژوند روښانه کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... د دِ دنیا د مایوسئ او د ویری وریځی نه زما د حضوری جلال او رڼا وګورئ کوم چه به امن او خوشحالی راولی. اوس ما پریږدئ چه ستاسو د ژوند نه تیاره لری کړم چه تاسو د هغی په ذریعه نورو خلکو کښی تیاره وګورئ او زما په رڼا یئ روښانه (ګرم) کړئ...

" زۀ د داؤد د ځانګی او نسل نه یم او د صباوُون پرقیدونکے ستورے. روح القدس او ناوی وائی چه "راشه!" او هر اوریدونکے د هم وائی چه "راشه!" او څوک چه ترږی وی، هغه دِ راشی، او څوک چه یی غواړی، د ژوندون له اوبو نه دِ ویړیا واخلی."
(مکاشفه ۲۲ : ۱٦-۱۷)

# عیسیٰ مسیح ښانګه ده.

د خدای د خلکو یعنی د اسرائیل د تنی نه یو بارآوره ښانګه پیدا شوه. عیسیٰ مسیح فرمائی... ماسره غټ شئ. څکه چه په ما کښې د باغ ښایسته والے،او د خدای قربت دے. په ما کښې به تاسو ښۀ او خراب کارونه وپیژنئ. او زۀ د ژوندون اونه یم په ما کښې غټ شئ. زۀ به تاسو د تابعداری (منلو) قابل جوړ کړم کۀ تاسو په ما کښې غټ شئ...

"او د یسی د تنی نه به یو غوټئ راوزی او د هغی د جړی نه به یو درنه ښانګه پیدا کیږی او د خدای د حکمت او پوهیدلو، د مصلحت او د قدرت او د علم او د هغه د ویری روح به هغه کښې ایساریږی."
(یشعیاه ۱۱ : ۱-۲)

# عیسیٰ مسیح د صداقت څانګه ده.

هغه خدای دِ دپاره راولیږلو چه د انسان او د خدای ترمینځه کټ شوی رشته بیا جوړه کړي. هغه فرمائی... کله چه تاسو په ما کښې پیوند شئ نو کومه رشته چه زما خدای سره ده د هغې فائده ستاسو ده. ما ټولی وعدی پوره کړلی. اوس تاسو د صداقت قابل یئ او د غریبانانو، یتیمانانو، کونډو، مسافرو، قیدیانو، څناورو او د زمکه دپاره برکت یئ...

"وګورئ هغه ورځی راتلونکی دی خدای فرمائی چه زۀ به د داؤد دپاره یوه صادقه څانګه پیدا کړم او هغه به په زمکه بادشاهی په عقلمندئ په عدالت او په صداقت سره وکړی."
(یرمیا ۲۳ : ۵)

فروری ۲

# عیسیٰ مسیح وړوکی ماشوم دے.

ولی هغه د خدای په شکل وو خو بیا یئ هم خپل حیثیت اوچت ونهٔ ګنړلو، او ځان یئ خالی کړو او د یو یهودی ښځی په غیږ کښی پیدا شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کهٔ تاسو غواړی چه زما په شان شئ نو تاسو ته بیا ژوندی کیدل ضرور دي. د دِ مطلب دا دے چه تاسو خپل ځان او څهٔ چه ستاسو دی داسی وګڼئ چه دا هیڅ هم نهٔ دی نو بیا به زما ژوند په تاسو کښی حکومت وکړی. خپل ټول خواهشات صلاحیتونه او اُمیدونه زما د مرضئ په مطابق کړئ. ما پریږدئ چه ستاسو په ژوند کښی په خپلی طریقی سره کار وکړم چه تاسو ته خوشحالی ملاؤ شی ...

"هغوی په منډه لاړل او د مریمی او یوسف پته یی ولګوله او ماشوم چه په اخور کښی پروت وو."
(لوقا ۲ : ۱٦)

# عیسیٰ مسیح شارونکی دے.

هغه زمونږ نګهبان او زمونږ د روحونو سرپرست دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ ستاسو د ژوند په هر تکلیف او غم کښی شریک یم. هغه هر څۀ ما په خپل سر باندی د دِ دپاره واخستل چه تاسو آزادئ سره د خپل خدای عبادت او حمدوثناء وکړئ. خپله ګناه، بیماریانی، او غمونه ما ته راکړئ چه زۀ درته شفا درکړم او په خپله لاره کښی به ستاسو رهبری وکړم کومه چه ستاسو دپاره صحیح ده...

"هغۀ زمونږ ګناهونه سولئ ته د خپل ځان سره یوړل د دِ دپاره چه مونږ ګناهونو ته مړۀ شو او د صداقت دپاره ژوند تیروو، او د هغۀ په زخمونو تاسو شفا ومونده. ځکه چه وړومبی تاسو د بی لاری ګډو په شان ګرزیدلئ خو اوس د خپلو روحونو شپونکی او شارونکی ته بیا راغلی یئ."
(اول پطرس ۲ : ۲۴-۲۵)

فروری ٤

# عیسیٰ مسیح ټوټه ټوټه شوے دے.

هغهٔ په خوشحالئ سره زمونږ ګناهونه، بیماریانی، او غمونه په خپل سر واخستل. دِ څیزونو د هغهٔ ځان او روح مغلوب کړو او هغه په کوږو او څپیړو ووهل شو، او ورته یئ د ازغو تاج واچولو او د هغهٔ بدن یی په سولئ باندی کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ تاسو سره مینه کوم. ما خپل ژوند ستاسو دپاره ورکړو چه ستاسو ټوټه شوی او زخمی شوی بدن ته شفا ملاؤ شی. ما قبول کړئ ...

"خو زمونږ د خطاګانو په وجه په هغهٔ باندی ظلم وشو او زمونږ د بدکردارئ په وجه هغه ټوټه ټوټه شو او زمونږ د سلامتئ دپاره هغهٔ ته سزا ملاؤ شوه او د هغهٔ د وهلو په وجه مونږ ته شفا ملاؤ شوه."
(یشعیاه ۵۳ : ۵)

# عیسیٰ مسیح خالق دے.

هغه د خدای په شان د روح القدس په وسیله د ټولی دنیا شکل جوړ کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د وخت او خلا د تخلیق کیدو نه مخکښی تاسو زما په ذهن کښی وئ. ما تاسو دِ دپاره تخلیق کړیٔ چه زهٔ تاسو سره مینه کوم او خپل ځان تاسو سره تقسیمول غواړم. ما پریږدئ چه زهٔ خپل تازه او نوی ساه تاسو کښی واچوم. او چه زهٔ ستاسو په بدن کښی صفا زړهٔ، نوی ذهن تخلیق کړم...

"خو په دِ آخره زمانه کښی یی مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه یی د ټولو څیزونو وارث وګرزولو اؤ د هغهٔ په وسیله یی هم ټول کائنات پیدا کړل. چه هغه د خدای د جلال مظهر او د هغه د ذات عکس دے او ټول څیزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوی."
(عبرانیان ۱ : ۲-۳)

## عیسیٰ مسیح (مسیح) دے.

هغه خدای مونږ ته زمونږ د تکلیفونو تیرولو دپاره په انسانی بدن کښې د غلام په حیثیت راغلو. عیسیٰ مسیح فرمائی... څۀ چه ما په ګلیل او یروشلم کښې د اوسیدونکو دپاره کړی دی زۀ هغه شان تاسو سره هم کول غواړم. معافی، شفا، آزادی او زما روح القدس حاصل کړئ. زما په تنګه لار کښې راننوځئ او زما د راتلونکی بادشاهئ یوه حصه جوړه شئ...

"هغی ووئیل، "مالکه! زما ایمان دے، هم تۀ مسیح یی، د خدای زوی څوک چه دنیا ته راتلونکے وو."
(یوحنا ۱۱ : ۲۷)

# عیسیٰ مسیح زمونږ صلاح کار دے.

په هغۀ کښې د خدای دپاره د لوئ تعظیم د پوهه، علم او طاقت روح موجود دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو زما آواز واورئ نو تاسو چه د ژوندی خدای سره د یوځائ کیدو کوم خواهش لرئ هغه به پوره شي. ما ته د هغه ټولو رشتو، فیصلو، او د هغه تیرو شوو او راتلونکو حالاتو پته ده د کوم چه تاسو ته د پیژندلو ضرورت دے. نو ما پریږدئ چه ستاسو رهنمائی وکړم...

"د دِ په وجه مونږ دپاره یو هلک پیدا شو او مونږ له یو زوئ راکړے شو او بادشاهی به د هغۀ په اوږو وی او د هغۀ نوم به عجیبه صلاح کار د قادرابدیت پلار او د سلامتی شهزاده وی."
(یشعیاه ۹ : ٦)

# عیسیٰ مسیح رحمدل دے.

د هغۀ د دردمندئ په نتیجه کښې ړاندۀ د کتلو قابل شول، جذامیان پاک شول، مړی ژوندی شول، اوڼی ماړۀ شول، او بې علمو ته علم ملاؤ شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما رحم ستاسو سره دے. زما مینه او معافی د هغوی دپاره ده څوک چه یی غواړی. کله چه تاسو زما رحمدلی وګورئ نو تاسو ته به شفا ملاؤ شی...

"دغه شان عیسیٰ په ټولو کلو او ښارونو وګرزیدو او د هغوئ په عبادت خانو کښې یی تعلیم ورکاوو او د بادشاهئ زیری یی آورووو او هر رنځ او هره کمزورتیا یی جوړوله. د هغه خلکو په لیدو یی زړۀ وسوځیدلو ځکه چه هغوئ د بې شپونکی ګډو په شان خوارۀ وارۀ او پریشانه وو." (متی ۹ : ۳۵-۳۶)

فروری ۹

## عیسیٰ مسیح غوره کړے شوے دے.

هغه خدای دِ دپاره راولیږلو چه شریعت او د زوړ عهد ټولی پیشنګوئی پوره کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما قیمت ورکړو (ما خپل ځان ستاسو دپاره قربان کړو) او تاسو می دخپل ځان سره د کائنات د خزانو وارثان کړئ. د ټولو نه لویه تحفه دا ده چه د هغه مینی سره منسلک اوسه او هغه پریږدئ چه ستاسو په وسیله نور خلک غوره کړی...

"اؤ د دِ وریځی نه یو آواز راغی، "دا زما زوی دے، زما غوره کړے. دهٔ ته غوږ ونیسئ!"
(لوقا ۹ : ۳۵)

## عیسیٰ مسیح ترکاڼ دے.

هغه يو ماهر هنرمند، ښيزونه جوړونکی او تکړه کاريګر دے. عيسیٰ مسيح فرمائی... زۀ اوس ستاسو دپاره جغ جوړوم کوم چه به آسان او سپک وی. ما ستاسو يوه تيره کړه کومه چه به زما په فصل کټ کولو کښې ستاسو اوزار وی. او ستاسو دپاره صليب دے چی په هغی به تاسو ټول مړه شئ. دا هر څۀ زۀ تاسو ته په ميخونو سورو لاسونو باندی وايم (کوم) ...

"دا هغه ترکاڼ نۀ دے، د مريمې زوی، د يعقوب، د يوسف، د يهوداه او د شمعون ورور نۀ دے؟ او يا د دۀ خويندی دلته مونږ سره نه دے؟ دغه شان هغوئ د هغه په حقله تيندک وخوړو."
(مرقوس ٦ : ٣)

# عیسیٰ مسیح سردار دے.

هغه سربراه، مشر، جنرل، ګورنر، نګهبان، مالک، د کار ماهر، شهزاده، سبق ښوونکے، او حکمران دے. په زرګونو خلک بغیر د څۀ سوال نه د هغۀ پیروی او تابعداری کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو ته آواز وکړو چه زما پیروی کوئ. زما د روح توره به تاسو وځیری او تاسو نه به هغه هر څۀ کټ کړی کوم چه ما کښی نشته. نو بیا به تاسو زما په قدرت زما د هدایاتو په مطابق ځئ او داسی به زما حکمرانی ستاسو په خاندان، چرته چه تاسو کار کوئ او په دنیا کښی چه چرته تاسو اوسیږئ هلته قایمه شی ...

"او کله چه یشوع د یریحو سره نژدی وو نو هغۀ خپلی سترګی اوچتی کړی او څۀ ګوری چه یو سړے د هغۀ مخامخ توره په لاس نیولی ولاړ دے. او یشوع هغۀ ته نژدی ورغلو او ورته یی وئیل چه تۀ زمونږ طرف ته یی یا زمونږ د دښمنانو طرف ته یي؟ هغۀ ورته ووئیل نه بلکه زۀ اوس د خدای د لښکر سردار یم."
(یشوع ۵ : ۱۳ ، ۱۴)

## عیسیٰ مسیح شمع ده.

هغه د اوو شمعو ډیوه ده کومه چه د خدای د اوو روحونو په مینځ کښې بلیږی. "د حکمت او د پوهې روح، د مصلحت او قدرت روح د معرفت او د خدای د ویرې روح او د هغهٔ خوشحالی به د خدای په ویره کښې وی او هغه به د خپلو سترګو د نهٔ کتلو په مطابق انصاف کوي. (یشعیاه ۱۱ : ۲-۴) هر ښهٔ بخشش او هر کامل انعام د آسمان نه راځی اؤ د خدای نه موندلی کیږی چه د نمر سپوږمۍ اؤ د ستورو پیدا کوونکے دے. په هغهٔ کښې نهٔ خو څهٔ تبدیلی راځی او نهٔ د ګردش له عمل روښانه کیږی اؤ نهٔ تیارهٔ کیږی (یعقوب ۱ : ۱۷). عیسیٰ مسیح فرمائی... زما د پلار نه زما د رڼا بخشش وغواړئ. زهٔ غواړم چه تاسو ته برکت ملاؤ شی او چه تاسو زما د علم د روح په وجه روښانه شئ ...

"او ښار ته د نمر یا د سپوږمۍ د ځلیدو حاجت نشته ځکه چه دا د خدای په نور روښانه دے اؤ د هغهٔ ډیوه ګډورے دے. د دِ په رڼا به قومونه ګرزی."
(مکاشفه ۲۱ : ۲۳-۲۴)

فروری ۱۳

# عیسیٰ مسیح تاج دے.

تاج د شاهی اختیار نخښه ده. عیسیٰ مسیح د تاج په شان د کل کائنات د بادشاه خدای په ښی لاس خپل حکمرانی او بادشاهی ظاهروی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ خپلو خلکو اسرائیلو او هغه خلکو سره مینه کوم څوک چه ما ته راغلی دی. هر هغه وخت (لمحه) چه تاسو یی ما دپاره تیروئ او یا ما له یی راکوئ زهٔ به د هغی په بدل کښی تاسو ته د فتح او عزت تاج درکړم. تاسو ته به دا نهٔ ښکاری، خو نورو ته به: خاص طور باندی هغه اوږی ته چا ته چه تاسو روټئ ورکړی وی، هغه مسافر ته چا ته چه تاسو په کور کښی ځائ ورکړے وی، هغه بربنډ ته چا ته چه تاسو جامی ورکړی وی، هغه بیمار ته د چا تپوس ته چه تاسو زما د شفا قوت سره تللی یئ او هغه قیدی ته چا ته چه تاسو زما معافئ سره ورغلی یئ ته به ښکاری ...

"هغه وخت به خدای د خپلو خلکو د بقاء دپاره د شوکت افسر او د حسن تاج وی. او د عدالت په کرسئ د کښیناستونکو دپاره به د انصاف روح او په پهاټکونو د جنګونو ختمونکو دپاره به توانائی وی."
(یشعیاه ۲۸ : ۵ ، ٦)

فروری ۱٤

# عیسیٰ مسیح زمونږ ملګرے دے.

هغه زمونږ په ژوند کښې شریک او حصه دار دے. هغۀ خپل ځان لوی ونۀ ګڼلو او مونږ یئ خپل ملګری منتخب کړو. هغه فرمائی... زۀ به هغه وخت ستاسو ملګری شم کله چه تاسو خپل فطرت عاجز کړئ او ما سره په هغه لار لاړ شئ کومه چه زۀ تاسو ته ښایم...

"خو د خپل زوی په حقله وائی چه: "ای خدایه! ستا تخت به تل تر تله وی اؤ ستا د بادشاهئ امسا د صداقت امسا ده. تا د صداقت سره مینه او د بدکارئ نه نفرت وکړو، په دِ وجه خدای، یعنی ستاسو خدای، تۀ په تیلو مسح کړلی او د خپلو ملګرو په نسبت یی زیات خوشحاله کړلی." "
(عبرانیان ۱ : ۸ ، ۹)

# عیسیٰ مسیح د پناه ځائ دے.

هغه د پناه، د پټیدلو، او یو خاص محفوظ ځائ دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو د خپلی ناوی دپاره غوره کړئ. زما په مینه کښی تاسو محفوظ یئ. او تاسو زما د اختیار په پناه کښی یئ. ستاسو دننه او بهر داسی شیطانان دی چه ستاسو تلاش کوی چه تاسو تباه کړی. تاسو په ما باندی باور وکړئ. او دا فیصله وکړئ چه تاسو به همیشه دپاره ما سره د داسی خاوند په شان وفادار یئ ځوک چه تاسو سره د همیشه دپاره مینه کوی ...

"زهٔ به خپل خفه زړهٔ سره د زمکی د انتها نه تا له آواز کوم. تهٔ ما هغه کاڼی ته بوځه کوم چه ما نه اوچت دے ولی چه تهٔ زما پناه او د دښمنانو نه د بچ کیدلو دپاره اوچت برج یی. زهٔ به همیشه ستا په خیمه کښی اوسیږم. او زهٔ به ستا د وزرو په سوری کښی پناه اخلم. (سلاه)."

(زبور ٦١ : ٢-۴)

# عیسیٰ مسیح د ګوټ سر کاڼي دے.

هغه د خدای د هغه کور بنیادی جز دے د کوم چه مونږ هم حصه یو. هغه د بنیاد هغه مضبوط کاڼی دے کوم چه زمونږ زور او قوت دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کوم بنیاد چه ما تاسو ته درکړے دے هغه د خلاصون واحد یوه لاره ده. په دِ باندی ځان جوړ کړئ نو تاسو به زما په نظر کښی جلال حاصل کړئ. او کۀ چری تاسو دا رد کړئ نو زما سترګی به ستاسو دپاره بندی شی...

"نو اوس بیا تاسو پردی او مسافران پاتی نۀ شوئ بلکه د پاکانو د وطن او د خدای د کورنئ شوئ. او د رسولانو او نبیانو په بنیاد تاسو ودان کړے شوی یئ چه د ګوټ سر کاڼے په خپله مسیح عیسیٰ دے. مسیح په خپله د هغی ماڼئ هره یوه حصه یو ځای ساتی چه په رب کښی یو پاک کور جوړ شی. نو تاسو هم د هغه په یووالی کښی د نورو سره د خدای یو داسی کور جوړیږئ چه په کوم کښی خدای د خپل روح په وسیله اوسیږی."
(افسیان ۲ : ۱۹-۲۲)

## عیسیٰ مسیح تسلی ورکونکی دے.

هغه مونږ ته د هر غم او مصیبت په وخت کښی اُمید طاقت او خوشحالی راکوی. هغه به مونږ کله هم نهٔ پریږدی او نهٔ به مونږ رد کوي. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو په پریشانئ او غم کښی یئ نو ما ته راشئ. زهٔ به تاسو ته آرام او امن درکړم. کله چه تاسو د خپلو سوچونو او تکلیفونو مرکز ما کړئ نو تاسو ته به یو عجیبه خوشحالی معلومه شی. حمدوثناء ستاسو نه ویره، ستومانتیا، غم او مایوسی ختموی. زما تسلی ورکونکی روح حاصل کړئ...

"اوس د زمونږ مالک عیسیٰ مسیح په خپله او زمونږ پلار خدای چه زمونږ سره مینه وکړله او د فضل په وسیله یی آبدی تسلی او ښهٔ امید راوبخښلو، ستاسو زړونو ته تسلی درکړی او په هر ښهٔ کار او کلام باندی مو د مضبوط کړی."
(دویم تسلونیکیان ۲ : ۱۶-۱۷)

# عیسیٰ مسیح تسلی ده.

هغه د اسرائیلو او د نورو ټولو خلکو دپاره تسلی ده. هغه زمونږ غمونه او د نقصان درد لری کونکے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ دنیا ته ستاسو د تسلئ او اطمینان دپاره راغلے یم. زما طاقت او تسلی به ستاسو طاقت او تسلی شی. په زمکه باندی به ستاسو د ضرورت هر شی موجود وی کۀ چری تاسو ما خپل بچکوونکے وګڼئ ...

"په هغه ورځو کښی د خدای په لوی ښار کښی شمعون نومی یو سړے وو. د ا سړے رښتینی او ایماندار وو، دا هغه سړے وو چه د اسرائیل په ځای کولو په انتظار وو او روح القدس په هغه نازل وو. روح القدس هغۀ ته د ا وئیلی وو چه تر څو چه هغۀ مسیح لیدلی نۀ وی تر هغی به هغه نۀ مری. نو هغه د روح القدس په لارښودنه د خدای کور ته راغی او هر کله چه د عیسیٰ مور پلار هغه ماشوم عیسیٰ دننه راوړو چه د هغه دپاره د شریعت په لاری عمل وکړی، هغۀ هغه په غیږه کښی واخستو."

(لوقا ۲ : ۲۵-۲۸)

## عیسیٰ مسیح په سولۍ (مصلوب) شوے دے.

زمونږ پلار مونږ سره دومره مینه کوی چه هغهٔ خپل زوی راولیږلو چه هغه د مرګ په وسیله زمونږ ګناهونه په ځان واخلی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ هغه وینه یم چه تاسو لټوی او زما بدن تاسو غواړئ. ما پوری ونخلئ او زهٔ به تاسو خپل زړهٔ کښی کښینوم ...

"نو د دِ دا جواب دی چه تاسو ته او د بنی اسرائیلو ټول امت ته دا معلوم وی چه دا سړے د هغه عیسیٰ مسیح ناصری د نوم په قوت سره روغ جوړ ولاړ دے کوم چه تاسو په سولۍ کړے وو او خدای هغه د مړو نه بیا ژوندے کړو. دا عیسیٰ هم "هغه کاڼے دے چه تاسو ګلکارانو رد کړے وو او هغه د کټ سر کاڼے شو." د بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه چه په ټوله دنیا کښی بل نوم هیچا ته نهٔ دے ورکړے شوے چه په هغی مونږ خلاصون ومومو."
(اعمال د رسولانو ۴ : ۱۰ ، ۱۲)

## عیسیٰ مسیح لارښونکی دے.

مونږ هغهٔ ته ګورو چه هغه به مونږ د دِ ژوند او مرګ په وسیله ابدی ژوند ته بوځی. عیسیٰ مسیح فرمائی... داؤد سره دا ووایئ، "ای زمونږ خدایه، مونږ وګوره او زمونږ زړهٔ وپیژنه؛ مونږ وآزمایه او زمونږ خیالونه وپیژنه؛ او په مونږ کښی وګوره چه څهٔ غلطی خو نشته او مونږ په ابدی لاره بوځه." (زبور ۱۳۹ : ۲۳-۲۴). زهٔ به داسی وکړم. چه تاسو به تیار کړم، تاسو په وسله وال کړم، تاسو له به درکړم، او بیا به ستاسو وړاندی ځم ...

"وګورئ ما هغه د امتونو دپاره ګواه مقرر کړو. بلکه هغه می د امتونو دپاره لار ښونکے او فرمانروا جوړ کړو."
(یشعیاه ۵۵ : ۴)

## عیسیٰ مسیح د قید نه آزاد کولو والا دے.

هغهٔ خپل ځان زمونږ د ټولو ګناهونو، بیماریانو او غمونو سره د شیطانی طاقتونو په حواله کړو. او هغه عالم بالا ته ورننوتو، او په شیطان غالب شو او چا چه هغه قبول کړو هغوی ټول به هغهٔ سره بیا ژوندی شی. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما کښې نن ستاسو کامیابی ده. ما په دنیا باندی غلبه حاصله کړې ده. او کله چه تاسو زما په رڼا کښې اودریږئ نو ټول شیطانی قوتونه به تاسو نه وتختی ...

"تا عالم بالا ته صعود وکړ، تا قیدیان د ځان سره بوتلل، تا ته د خلکو نه نه بلکه د باغیانو نه هم هدیئ ملاؤ شوی، ځکه چه خدای د هغوی سره وی."
(زبور ۶۸ : ۱۸)

## عیسی مسیح هلک دے.

یشعیاه وئیلی وو چه هغه به د خدای خلک د امن دنیا ته بوځی. د هغه په موجودګئ کښی ګډی بغیر د څۀ ویری نه د لیوګانو سره پریږدئ. هغه فرمائی... اګرکۀ زۀ خدای یم، خو ماشوم پیدا شوم. ما ته ستاسو د غمونو، ویرو او خوبونو پته ده. هغه زما په حواله کړئ. راځئ چه نن د ماشومانو په شان ګانی ووایو، وګډیږو، لوبی وکړو او د خدای تعریف وکړو. د ورځی په آخر کښی به زۀ تاسو ځان سره کښینوم او د خپلی مینی زړی زړی قیصی به درته وکړم. او زما د مینی بادشاهی زر راتلونکی ده ...

"هلک لوئیدو، حکمت او طاقت یی موندو او د خدای فضل ورسره وو."
(لوقا ۲ : ۴۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ د اوسیدو ځائ (پناه ګاه) دے.

هغه زمونږ کور، قلعه، د اوسیدلو ځائ، او د څرند ځائ دے. په هغۀ کښې مونږ ترقی کوو او د هغۀ محفوظ کارونه پیژنو. په هغه کښې به زمونږ کور هیڅ کله نۀ ختمیږی. هغه فرمائی... ما ستاسو دپاره یو ځائ تیار کړے دے. چرته چه مونږ آرام کولے شو او یو ځائ روټی خوړلے شو. په ورځ کښې ما سره دِ ځائ ته راځئ. زۀ تاسو کور ته راغواړم...

"ای ربه! هم تۀ زمونږ د پناه ځائ تیر شوے یی د دِ نه اول چه غرونه پیدا شول، یا زمکه او دنیا تا جوړ کړل، د ازل نه ابد پورې ته خدای یی."
(زبور ۹۰ : ۱ ، ۲)

# عیسیٰ مسیح زموږ منزل دے.

هغه هغه ځائ دے کوم چه زموږ د دِ ژوند د سفر د ختمیدو نه وروستو دپاره تیار کړے شوے دے. او زموږ مقصد دا دے چه هغۀ سره اوس او همیشه دپاره یو ځائ یو. هغه فرمائی... راشئ "... خو تاسو د صهیون غر ته او د ژوندی خدای ښار ته، یعنی د آسمان بیت المقدس او لکونو فرښتو ته راغلی یئ. او تاسو د خدای اول پیدا شوو مجلس، یعنی جماعت ته راغلی یئ چه نومونه یی په آسمان کښی لیکلے شوی دی، تاسو خدای ته راغلی یئ چه د ټولو منصف دے، تاسو د صادقانو روحونو ته راغلی یئ، یعنی هغه چه کامل شوے دے، او تاسو د نوی وعده ترونکی عیسیٰ او د هغه نوستلی شوی د شهادت وینی ته راغلی یئ،

(عبرانیان ۱۲ : ۲۲-۲۴)

"زما د پلار په کور کښی د اوسیدو ډیر ځایونه دی. کۀ چرې داسی نۀ وے نو بیا به ما تاسو ته وئیلی وو. ځکه زۀ ځم چه ستاسو دپاره هلته ځای تیار کړم. او کۀ هلته زۀ لاړشم او تاسو ته ځای تیار کړم نو په خپله به بیا راشم او تاسو به د ځان سره بوزم، ځکه چه چرته چه زۀ یم هلته به تاسو یئ." (یوحنا ۱۴ : ۲ ، ۳)

# عیسیٰ مسیح زمونږ خوشحالی ده.

د هغهٔ کلام، د هغهٔ شان، او د خدای سره د هغهٔ نژدی والے د انسانانو دپاره د ډیری خوشحالئ خبره ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... ماته نژدی راشئ. او هره ورځ زما خبره واورئ. او چه زهٔ تاسو ته ووایم چه څهٔ څیز زما خوښ دے، او چه ابدیت څهٔ څیز دے. کله چه تاسو دعا کوئ نو خپل قوم او د نورو قومونه دپاره دعا وکړئ چه هر یو زنګون او ژبه دا اقرار وکړی چه زهٔ مالک یم ...

"خدای سره خوشحاله اوسئ او هغه به ستاسو د زړونو خواهشونه پوره کړی."
(زبور ۳۷ : ۴)

## عیسیٰ مسیح خلاصوونکے دے.

خدای خپل مخلوق د مصريانو د غلامئ نه د اردن په درياب کښې او د بابليانو او د نازيانو د تباهئ نه بچ کړل. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ يهودی يم. زهٔ داسی رد کړے شوے، څورول شوے، او مړ شوے يم لکه څنکه چه زما مخلوق شوے دے. زهٔ په مينه خپل لاسونه د هغوی نه چاپيره کوم. او هغوی ته حکم کوم چه ما خپل خلاصوونکے قبول کړئ چه تاسو په ما کښې کامل شئ...

" او هر کله چه دا تر سره شی نو ټول اسرائيل به د صحيفو د دِ وعدی په مطابق خلاصون بيا مومی چه: "خلاصوونکے به د صيون نه راپورته شی. هغه به د يعقوب د نسل نه بی دينی لری کړی. او دا هغه وعده ده چه زهٔ به يی د هغوئ سره کوم کله چه د هغوئ ګناهونه لری کړم." د زيری د مخالفت په وجه خو هغوئ ستاسو د خاطره د خدای دښمانان دی خو د خدای د غوره والی په وجه هغوئ د خپلو نيکونو د مخه په هغهٔ ګران دی. ځکه چه د خدای نعمتونه او د هغهٔ بلنه بدليدے نهٔ شی."

(روميان ۱۱ : ۲۶ ، ۲۸-۲۹)

فروری ۲۷

# عیسیٰ مسیح حفاظت کوونکے دے.

پریږدئ چه نن ټول اسرائیل خپل بچکوونکے عیسیٰ مسیح وګوری. لکه څنګه چه زکریا نبی د هغهٔ په باره کښې فرمائیلی دی...

"په هغه ورځ به خدای د یروشلیم د خلکو حمایت کوی او په هغوی کښې به د ټولو نه کمزورے په هغه ورځ د داؤد په شان وی او د داؤد کورنئ به د خدای په شان یعنی د خدای د هغه فرښتو په شان کومې چه د هغوی نه وړاندی وړاندی ځي. او زهٔ به په هغه ورځ د یروشلیم د ټولو مخالفو قومونو د هلاکت قصد کوم. او زهٔ به د داؤد په کورنئ او د یروشلیم په خلکو د فضل او مناجاتو روحونه نازل کړم او هغوی به په هغه نظر کوی د چا لاسونه چه هغوی سوری کړی وو او د هغه دپاره به داسی ماتم کوی لکه څنګه چه خلک خپل یو زوئ دپاره کوی او هغوی به په دی کار داسی وژاړی لکه څنګه چه خلق خپل وړومبی پیدا شوی دپاره ژاړی."
(زکریا ۱۲ : ۸ ، ۱۰)

## عیسیٰ مسیح زمونږ خواهش (مقصد) دے.

د قومونو خواهش دولت، طاقت، او زمکه ده او دا هر څۀ د عیسیٰ په لاس کښې دی. مونږ دِ دپاره پیدا شو چه مسیح زمونږ د زړونو د امیدونو پوره کونکے دے. د هر څۀ چه مونږ ته ضرورت دے هغه هر څۀ په هغۀ کښې دی. هغه فرمائی... یو ورځ په ما کښې هیڅ ښایسته والے نۀ وو چه چا زما خواهش کړے وو. دا هر څۀ زما د مصلوب کیدو د ویری بدل شول. او د هغه بدرنګتوب په وجه نن تاسو زما مینه ګورئ، او زما خواهش هم کوی...

"زمونږ د ځان خواهش ستا او ستا د یاد طرف ته دی. د شپې زما ځان ستا خواهش (مشتاقه وي) کوی. او زما روح به ستا لټون دپاره ځلیږی."
(یشعیاه ۲۶ : ۸ ، ۹)

# عیسیٰ مسیح شبنم دے.

څنګه چه هغه په خاموشی کښې مونږ ته راشی نو مونږ بیا پیل شو او تازه شو. د هغۀ په وسیله مونږ ډیر میوه دار جوړیږو. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما کښې د هغوی ټولو اتفاق دے څوک چه ما پیژنی. زۀ ستاسو په مینځ کښې یم. زما د حضورئ شهادت په هغه خلکو کښې وګورئ څوک چه زما نوم په خپل زړۀ کښې ساتی. زما شکر ادا کړئ چه ما څنګه ستاسو په ژوند کښې کار وکړو. خوشحاله اوسئ ځکه چه زما شبنم په تاسو دے...

"زۀ به د اسرائیل دپاره د شبنم په شان یم. او هغوی به د سوسن په شان غټیږی او د لبنان په شان به خپلی جرړی خوروی."
(هوسیع ۱۴ : ۵)

مارچ ۱

# عیسیٰ مسیح د قومونو تقسیمونکی دے.

چرته دی هغه قومونه چا به چه وږو له روټئ، تږو له اوبۀ ورکولی، چا به چه مسافرو ته هر کلے وئیلو، چا به چه بربنډو له جامی ورکولی، او د بیمارانو او قیدیانو تپوس به یئ کولو؟ کوم ځائ دے هغه وطن چرته چه په حقیقت کښی د خلکو حفاظت کیږی؟ دا حکومت به د خدای د حکومت حصه وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... صرف خدای دپاره دا ممکن دی. تاسو خپل قومونه د شفاعت دپاره د خرابو لارو نه زما لارو ته راولئ نو بیا به زۀ تاسو معاف کړم او ستاسو زمکی ته به شفا ورکړم...

"او ټول قومونه به وروړاندی راټول کړے شی هغه به بنی آدم په دوؤ ډلو کښی جدا کړی لکه څنګه چه شپونکے ګډی د بزو نه جدا کوی. او هغه به ګډی خپل ښی لاس ته او بزی خپل ګس لاس ته کړی."
(متی ۲۵ : ۳۲ ، ۳۳)

# عیسیٰ مسیح مینځګړے (ثالث) دے.

هغه زمونږ او د خدای ترمنځه صلح کونکے دے او هغه غواړی چه د هر انسان سره خپله رشته صحیح اوساتي. عیسیٰ مسیح فرمائی... د هر قوم بادشاه، وزیراعظم، فوجی مشرانو، قاضیانو، او سپاهیانو ته دعا کوئ. خپل ځان عاجز کړئ او ځان نه امن پسند جوړ کړئ. ما خپل امن تاسو ته درکړو...

"ولی چه هغه زما په شان انسان نۀ دے چه زۀ ورته جواب ورکړم او مونږ به په عدالت کښی یو ځائ حاضریږو. زمونږ په مینځ کښی داسی منصف نشته څوک چه په مونږ دواړو خپل لاس کیږدی."
(ایوب ۹ : ۳۲ ، ۳۳)
"خو ما له پته ده چه زما مخلصی کونکے ژوندے دے، او آخر به هغه په زمکه باندی ولاړ وی."
(ایوب ۱۹ : ۲۵)
"ځکه چه یو خدای دے او د خدای او د انسان په مینځ کښی مینځګړے هم یو، یعنی مسیح عیسیٰ چه انسان دے، چا چه خپل ځان د ټولو دپاره په فدیه کښی ورکړلو."
(اول تیموتیوس ۲ : ۵ ، ۶)

مارچ ۳

# عیسیٰ مسیح دروازه ده.

"هغه څوک چه قدوس او رښتینے دے او چه ورسره د داؤد کنجی ده او چه دروازه خلاصه کړی نو هیڅوک به یی بنده نهٔ کړی او چه دروازه بنده کړی نو هیڅوک به یی خلاصه نهٔ کړی" (مکاشفه ۳ : ۷). د عیسیٰ مسیح مطلب د خدای څیزونو ته رسیدل دی. هغه زمونږ د دننه تللو لار او دروازه ده کهٔ چری مونږ د هغه په منتخب کړے شوو لارو باندی لاړ نهٔ شو نو هغه به زمونږ د لاری دیوال جوړ شی. عیسیٰ مسیح فرمائی... دغه شان چه کله تاسو د خپلو خوبونو دروازی ته لاړ شئ او هغه بنده وګورئ نو تاسو مه مایوسه کیږي. زهٔ به تر هغه پوری ستاسو نه څه کټ نهٔ کړم تر څو چه تاسو د دِ قابل نهٔ کړم چه د دِ نه لوی او قیمتی برکتونه په تاسو کښی او ستاسو په وسیله وشی. او تاسو زما آواز پیژنئ. او زهٔ به تاسو هغه ځایونو ته بوځم کوم به چه ستاسو دپاره صحیح وی...

"زهٔ دروازه یم او څوک چه په دِ دروازه شپول ته ننوزی هغه به په امان وی هغه به دننه بهر تلے راتلے شی او ګیاه به هم مومی."
(یوحنا ۱۰ : ۹)

# عیسیٰ مسیح د سحر نمر دے.

هغه د مشرق نه راختونکی رڼا ده. تیاری د عیسیٰ مسیح په راتلو ختمی شوی. هغه فرمائی... زما د راتلو رڼا ته هر کلی ووائي. پریږدئ چه زما شغلی تاسو ګرم او روښانه کړی، او تاسو د جهالت د قید او د تیارو او د مرګ ویری نه آزاد کړی. نن ما سره زما په رڼا کښی وګرځئ...

"د سحر نمر په مونږ راوخیژی، او په هغو به وځلیږی څوک چه په تیارهٔ کښی او د مرګ په سوری کښی ناست وی او چه زمونږ قدمونه د سلامتئ په لاره سم کړی."

(لوقا ۱ : ۷۸ ، ۷۹)

# عیسیٰ مسیح د صبا ستورے دے.

د هغهٔ رڼا هیڅکله نهٔ ختمیږی. د هغهٔ په دویم ځل راتلو سره به مونږ د ربښتینی خوشحالئ نه ډک شو. هغه فرمائی... ما تاسو ته د خپل پلار خدای ټول احکامات درکړل او تاسو سره می پوره مینه وکړله. زما په کلام عمل وکړئ نو تاسو به کامیاب شئ. هم زهٔ ربښتینے یم. څوک به هم تر هغه وخته پوری خوشحالئ ونهٔ ګوری تر څو چه ما تلاش نهٔ کړئ او زما په کلام عمل ونهٔ کړئ...

"او زمونږ سره د نبوت هغه کلام دے کوم چه ډیر معتبر دے، او تاسو ښهٔ کوئ چه په دِ وجه په هغی غور کوئ چه دا یوه ډیوه ده کومه چه د تیاری په ځای کښی رڼا ورکوی، تر څو چه سحر نهٔ شی او د صبا ستوری ستاسو په زړونو کښی ونهٔ ځلیږی."

(دویم پطروس ۱ : ۱۹)

# عیسیٰ مسیح عمانوایل دے.

هغه "خدای مونږ سره دے." کله چه مونږ عیسیٰ ته ګورو نو مونږ ته په هغه کښې د کائنات جوړونکے زمونږ پلار ژوندی خدای ښکاریږی. هغه فرمائی... زهٔ حق، لار، او ژوند یم. او په دی باندی ایمان اوساتئ...

"''ګورئ، یوه پیغله به امیدواره شی او زوی به یی وشی اؤ د هغه نوم به عمانوایل کیږدی'' چه معنی یی ده، خدای زمونږ مل دے."
(متی ۱ : ۲۳)

## عیسیٰ مسیح د خدای برابر دے.

عیسیٰ مسیح چه کومه دعویٰ کړی ده په هغی کښی د هیڅ قسم وضاحت کولو ضرورت نشته. چه هغه د خدای برابر دے یا نهٔ دے. کله چه مونږ عیسیٰ پیژنو نو مونږ خدای هم پیژنو ولی چه خدای د هغهٔ پلار دے، او هغوی یو دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما په خپل ژوند کښی پریږدئ نو تاسو به د خدای هغه یووالی وپیژنئ په کوم کښی چه زهٔ خوشحالی کوم. د دنیا خلک به تاسو ته د زلت په سترګه ګوری خو زهٔ به تاسو ته په خپلی بادشاهئ کښی هغوی سره مینه کول خایم...

"هم هغه شان خوئ لرئ لکه څنګه چه د مسیح عیسیٰ وو. هغه اګر کهٔ د خدای په صورت وو د خدای سره برابریدل یی په قبضه کښی د ساتلو څیز ونهٔ ګڼلو. بلکه خپل ځان یی د هغه ټولو اختیارونو نه خالی کړو او د غلام شکل یی اختیار کړو، او د انسان په شان شو. او په انسانی جُسه کښی ښکاره شو، خپل ځان یی عاجز کړو او دومره تابعدار شو چه مرګ، بلکه د سولئ مرګ یی وزغملو. په دغه وجه خو خدای هم هغه ډیر سربلند کړو."
(فیلیپیان ۲ : ۵-۹)

مارچ ۸

## عیسیٰ مسیح د ابدیت (نه ختمیدونکی) پلار دے.

عیسیٰ مسیح دایُمی دے. هغه د اول نه تر آخره پوری نه صرف د ټولو څیزونو په خلقت کښی بلکه هغه د خدای او د انسان په مینځ کښی شوی وعدی کښی هم شامل وو کوم چه به همیشه قائمه وی. ځکه چه هغهٔ مونږ خپل کورنئ کښی شامل کړی یو او مونږ ته یئ ابدی ژوند راکړے دے... عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ غواړم چه تاسو زما د هغه مینی تجربه حاصله کړئ د کوم خواهش چه ستاسو په تصور کښی د اول نه وو. په نرمئ او عاجزئ، په مضبوطئ او وفادارئ سره زهٔ پابند یم چه خپل ځان ستاسو دپاره د یو وفادار، رښتونئ، مقدس خدای او ستاسو د ابدی پلار په حیثیت ظاهر کړم ...

"هم دغه شان زمونږ دپاره یو هلک پیدا شو او مونږ ته یو زوئ راکړے شو او سلطنت به د هغهٔ په اوږو باندی وی د هغهٔ نوم به عجیبه مشیر خدای او د ابدیت پلار او د سلامتی شهزاده وی."
(یشعیاه ۹ : ٦)

مارچ ۹

# عیسیٰ مسیح بیرغ ده.

هغه زمونږ بیرغ او نښه ده کومه چه دا ظاهره وی چه مونږ د خدای خلک یو او د هغه په بادشاهئ کښې شامل یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما اطاعت وکړی. د وفادارئ اور زما د بادشاهی دپاره په خپل ځان کښې بل پرېږدئ. دعا وکړئ، خاکساره اوسئ او د غلطو لارو نه منع شئ چه ستاسو ملک زما په بادشاهئ کښې راشی. د دنیا په شان کیږئ مه ځکه چه تاسو مسافر یئ او تاسو د بادشاهانو د بادشاه او د حاکمانو د حاکم مشیران یی ...

"او هغه به د قومونو دپاره یوه جهنډا اودروی او هغه اسرائیلیان کوم چه خارج شوی دی هغوی به جمع کړی او ټول بنی یهوداه کوم چه خوارۀ وارۀ دی هغوی به د زمکی د څلورو واړو اړخونو نه یو ځائ کړی."
(یشعیاه ۱۱ : ۱۲)

مارچ ۱۰

## عیسیٰ مسیح د خدای د ذات عکس دے.

د هغهٔ شکل، بدن او صورت د هغه خدای د صورت په شان دے ځوک چه د کائنات جوړونکے دے. هغه فرمائی... تاسو د خدای په شکل جوړ شوئ خو تاسو هم د آدم په شان خپله لار پخپله منتخب کړه او هغه مو زما د لارې نه بنهٔ اوګڼله. کهٔ چرې تاسو خپل غرور او خودغرضئ د بیخ نه اوباسئ او وئی غورځوئ، او ما قبول کړئ نو تاسو به بیا د دِ قابل شئ چه د خپل خالق سره به په ماښام کښې په یخ باغ کښې ګرځئ...

"چه هغه د خدای د جلال مظهر اؤ د هغهٔ د ذات عکس دے اؤ ټول ځیزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوی. هغهٔ ګناهونه پاک کړل اؤ په آسمان کښې د قادر مطلق خدای په ښی لاس کښیناستو."
(عبرانیان ۱ : ۳)

# عيسیٰ مسيح زمونږ اميد دے.

مونږ په هغه باندې باور او اميد ساتلے شو. هغه فرمائی... وګورئ او دعا وکړئ، ما نن خپل شاګردانو ته ووئيل. زما روح القدس پريږدئ چه تاسو ډير کړی ځکه چه دنيا زما د خلکو په ډيريدو غمزده ده. او څنګه چه يو مور د خپل اول بچی د پيدا کيدو انتظار کوی دغسی تاسو په خوشحالئ سره زما د بيا راتلو دپاره تيار اوسئ...

"ځکه چه زۀ پوهيږم چه ستاسو په دعا او د عيسیٰ مسيح د روح په مدد به آزاد شم. ځکه خو زما د زړۀ آرزو او اميد دغه دے چه زۀ په څۀ خبره کښې شرمنده نۀ شم، بلکه زما د زياتی زړۀ ورتيا په وجه لکه څرنګ چه زما په وسيله هميشه د مسيح جلال ښکاره شوے دے، هغه شان به اوس هم کيږی، کۀ زۀ ژوندے يم يا مړ شم."
(فيليپيان ۱ : ۱۹-۲۱)

# عیسیٰ مسیح زمونږ دپاره یو نمونه (مثال) دے.

خدای هغه مونږ ته د یو انسانی نمونی په شکل کښی راولیږلو چه مونږ ته معلوم شی چه د انسان څۀ مطلب دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه زۀ په تاسو کښی اوسیږم نو په عجیبه ډول به د خدای عکس په تاسو کښی جوړ کړم او هغه به ستاسو د شخصیت نه ظاهریږی. زما په شان د جوړیدلو کوشش مۀ کوئ. کله چه تاسو په خپل ټول زړۀ، ټول ځان، ټول عقل او ټول طاقت ما سره مینه کوئ او زما خواهش کوئ نو تاسو به په خپله خپل ځان کښی د یو ښۀ انسان په شان بدلون وګورئ ...

"او تاسو د دِ دپاره رابللی شوی یئ، ځکه چه مسیح هم ستاسو دپاره مصیبت وزغمو او تاسو ته یی یوه نمونه درکړی ده چه د هغۀ په قدم روان شئ. او د هغۀ په زخمونو تاسو شفا موندله."
(اول پطروس ۲ : ۲۱ ، ۲۴)

## عیسیٰ مسیح ابدي (تل عمري) دے.

په هغهٔ کښې زمونږ د خدای سره نهٔ ختمیدونکے او بې دخله یووالے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما فطرت وخورئ او وسکئ ولې چه دا ستاسو د ژوند د تازه کولو یوه لویه ذریعه ده. په ما کښې هره ورځ ستاسو دپاره بدنې مرګ دے خو دا هغه دروازه ده د کومې په ذریعه به چه تاسو زما په تل عمری ژوند کښې راشئ. کومه چه به ډیره جلالي وی...

"ځکه چه تا هغهٔ له په ټول بنی آدمو اختیار ورکړے دے چه هغه ټولو له تل عمری ژوندون ورکړی چه ورته تا حواله کړے دے. دا تل عمری ژوندون دے چه تا وپیژنی چه تهٔ یواځې رښتینی خدای یې او عیسیٰ مسیح چه تا راستولے دے."
(یوحنا ۱۷ : ۲ ، ۳)

# عيسىٰ مسيح سربلند دے.

هغه د دِ زمکی د ټولو دروغژنو خدايانو نه اوچت دے. هغه زمونږ د عزت تعظيم او د ډير تعريف وړ دے. هغه فرمائی... ما ځان حليم کړو او آسمان می پريښودو او د يو ماشوم په شان پيدا شوم. زۀ غټ شوم او د خدای د هداياتو په مطابق می خدمت وکړو او په بد مرګ مړ شوم. او ما خپل ځان حليم کړو او خدای زۀ سربلند کړم. او کۀ تاسو هم داسی وکړئ نو خدای به تاسو هم داسی کړی...

"... په دغه وجه خو خدای هم هغه ډير سربلند کړو او هغۀ ته يی هغه نوم وبخښلو کوم چه د ټولو نومونو نه اعلٰی دے، دپاره د دِ چه د عيسىٰ په نوم هر يو موجودات په سجده شی، خوا کۀ په آسمانونو کښی، يا په مزکه کښی، يا هغه چه د مزکی د لاندی وی، او د خدای پلار د جلال دپاره هره يوه ژبه اقرار وکړی چه عيسىٰ مسيح مالک دی."
(فيليپيان ۲ : ۹-۱۱)

مارچ ۱۵

# عیسیٰ مسیح لوئ (افضل) دے.

د خدای ښهٔ والی او د ښهٔ انسان ټول خاصیتونه په هغهٔ کښې ښکاره شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما پریږدئ چه تاسو ته د مینی ټولو نه لویه لار وښایم. او زهٔ هغه لار یم. کله چه تاسو په خپل زړهٔ سره زما تلاش وکړئ نو تاسو به زما د مینی تجربه حاصله کړئ. او هغه به تاسو د نورو سره د مینی کولو قابل کړي...

" هغهٔ ګناهونه پاک کړل او په آسمان کښې د قادر مطلق خدای په ښی لاس کښیناستو. نو داسې یې زوی له فرښتو نه دومره غوره شو څومره چه هغهٔ په میراث کښې د هغوئ نه لوی نوم موندلی وو."
(عبرانیان ۱ : ۳ ، ۴)

## عیسیٰ مسیح د تل ژوندون دے.

زمونږ د مینی رشته عیسیٰ مسیح سره د وخت او فاصلی د ځۀ بندیز نه بغیر زیاتیږی خو کله چه مونږ په هغۀ باندی ایمان وساتو او د هغۀ حکم ومنو. عیسیٰ مسیح فرمائی... صرف په ما کښی به تاسو پوهه شئ چه ژوند څۀ دی او څومره پاک دی. کله چه تاسو په ما کښی ژوند کوئ نو تاسو به د خپلی کورنئ، دوستانو، ګاونډیانو او دښمنانو په خپل پاک زړۀ سره قدر کوئ...

" خو کومی اوبۀ چه زۀ ورکوم د هغی د څښلو نه پس به څښونکے هیڅکله هم بیا نۀ تږے کیږی. زۀ چه کومی اوبۀ ورکوم هغه به په هغۀ کښی دننه یوه چینه شی چه همیشه به بهیږی او د تل ژوندون به ورله ورکوی."
(یوحنا ۴ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح برداشت کوونکی (صابر) دے.

ځکه چه هغۀ په صلیب باندی د تکلیف برداشت کولو په وجه د خدای په ښی لاس کښیناستو. هغه په هر سخت وخت کښی زمونږ ډاډګیرنه کوی چه مونږ همت ونۀ بائیلو. هغه فرمائی... د تل د خوشحالئ دروازه د هغوی دپاره خلاصیږی ځوک چه زما د مینی قابلیت حاصل کړی کۀ هغوی تاسو نه نفرت هم کوي. زۀ به د مرګ د وادئ په سوری کښی ستاسو رهنمائی وکړم او تاسو به خپلی بریالئ مینی ته راولم...

" نو د دِ دپاره په خپلو کښی د زړۀ نه ډیره مینه لرئ. ځکه چه تاسو د فانی تخم نه نه، بلکه د خدای د کلام په وسیله کوم چه ژوندے او قائم دے، د غیر فانی تخم نه بیا پیدا شوی یئ. خو د خدای کلام به تل تر تله قائم پاتی وی. او دا د هغۀ د زیری کلام دے چه تاسو ته آؤرولی شوی وو."

(اول پطروس ۱ : ۲۲ - ۲۳ ، ۲۵)

# عیسیٰ مسیح انجام دے.

په هغۀ کښی د اوسیدو صحیح لاره، منزل مقصود او د خدای د ټولو توقعاتو تکمیل دے. هغه فرمائی... "بس په هغه څۀ تر هغی ټینګ پاتی شئ تر څو چه زۀ درنۀ شم. هغه څوک چه بریالے شی او هغه چه زما د وینا په مطابق تر آخره عمل کوی نو زۀ به ورله په قومونو اختیار ورکوم..." (مکاشفه ۲: ۲۵-۲۶). "... الفا او اومیګه زۀ یم، الاول او آلاخر زۀ یم. هر څوک چه تږے وی زۀ به هغۀ ته د ژوندون د اوبو له چینو نه د ښځلو حق ویړیا ورکړم." (مکاشفه ۲۱: ٦)

" په مسیح د شریعت هدف انجام ته رسیدلی دے، د دِ دپاره چه هر څوک چه پری ایمان راوړی، د خدای سره به صادق وی."
(رومیان ۱۰ : ۴)

# عیسیٰ مسیح معاف کوونکی دے.

د هغهٔ په مهربانئ عیسیٰ مونږ معاف کړو او د دنیا د قید، د بدن د خواهشونو او د شیطان د قید نه یی مونږ آزاد کړو. هغهٔ مونږ دِ دپاره آزاد کړو چه مونږ هم نور خلک د خپلی خوا بدئ او غُصی د زنځیرونو نه آزاد کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو ته هغه لوی اختیار درکړے دے کوم چه زما د پاک او قدرت لرونکی روح د ټولو نه لوی نعمت دے او هغه دا دے چه تاسو هغه هر څهٔ معاف کړئ کوم چه تاسو په خپل ځان کښی د بل چا خلاف لرئ...

" د هر قسم تریخوالی، قهر، غضب، شور زوږ، بدخواهش او بد خویونه دِ له تاسو نه لری وی. او هر یو په بل مهربانه اوسئ او یو تر بله نرمی کوئ، او لکه چه خدای په مسیح کښی ستاسو ګناهونه معاف کړل، تاسو هم یو بل معاف کوئ."
(افسیان ۴ : ۳۱ ، ۳۲)

مارچ ۲۰

# عیسیٰ مسیح زمونږ دوست دے.

هغه مونږ سره دومره مینه کوی چه خپل ځان یئ زمونږ دپاره قربان کړو. اوس هغه مونږ سره د نژدی خپلولئ کولو خواهش کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ ستاسو دوست یم آیا تاسو هم زما دوستان یئ؟ آیا تاسو د خپل ژوند امیدونه، خوبونه او خواهشونه زما د صلیب د لاندی ایښی دی؟ آیا تاسو داسی ویلی دی چی اے مالکه ته نن زمونږ نه څۀ غواړی؟ زما دوستانو زۀ ستاسو دپاره ښۀ غواړم. او څوک چی ستاسو نه ګیرچاپیره دی هغوی دپاره په خپل ځان کښی مینه پیدا کړئ...

" دا زما حکم دے، د یو بل سره مینه کوئ لکه چه ما تاسو سره مینه کړی ده. د دِ نه زیاته نوره مینه نشته چه یو سړے دِ د خپل دوست دپاره خپل ځان ورکړی. تاسو زما دوستان یئ کۀ زما په حکمونو تاسو عمل وکړو."
(یوحنا ۱۵ : ۱۲-۱۴)

# عیسیٰ مسیح وفادار دے.

مونږ په هغهٔ باندې ایمان لرو. د خدای د منصوبو هره برخه په هغهٔ کښې تکمیل (پائی) ته رسی. د خدای ټولی وعدی په هغهٔ کښې سرته رسیدلی دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما ته راشئ او تر آخره پورې ما نه د برداشت کولو قوت حاصل کړئ. او ما سره شئ او زهٔ به په هر آزمایښت کښې تاسو سره یم...

" بیا ما آسمان پرانستلے ولیدو او هلته زما په وړاندې یو سپین آس وو او د هغه د سوارهٔ نوم وفادار او رښتینے دے، ځکه چه هغه په عدالت کښې او په جنګ کښې رښتونے دے."
(مکاشفه ۱۹ : ۱۱)

مارچ ۲۲

# عیسیٰ مسیح زمونږ پلار دے.

هغه په زمکه کښې زمونږ د آسمانی پلار یو علامه ده. هغه دِ دپاره راغلو چه مونږ د کائنات د جوړونکی خدای د کورنۍ رشتی خوشحالی وپیژنو... عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه یو پلار د خپل زوی سره د دِ دپاره مینه کوی چه هغه د دۀ اولاد دے، نو ما هم تاسو سره داسی مینه وکړه او تاسو ته می خپل فضل درکړو. تاسو خپله مرضی ما له راکړئ چه زۀ ستاسو نژدی راشم او ستاسو د زړۀ په کور کښې اووسیږم...

" تۀ دوئ ټول یو کړه. لکه چه تۀ پلاره په ما کښې یی او زۀ په تا کښې یم دغه شان دِ دوئ هم په مونږ کښې یو وی چه دنیا دا ایمان ولری چه زۀ تا را استولے یم. کوم جلال چه تا ما له راکړے دے هغه ما دوئ ته ورکړے دے چه دوئ یو وی لکه چه مونږ یو یُو."
(یوحنا ۱۷ : ۲۱-۲۲)

# عیسیٰ مسیح چینه ده.

د هغهٔ وینی مونږ پاک کړو او مونږ یئ د خدای د ژوند د څښلو قابل کړو. هغه فرمائی... آیا تاسو ډیر د خدای تږی یئ؟ ما پریږدئ چه تاسو ته اطمینان درکړم. کله چه تاسو زما نه ډک شئ نو زهٔ به تاسو نه د ژوندون د نهٔ ختمیدونکو اوبو دریابونه روان کړم او داسی به ډیرو خلکو ته د ژوندون د اوبو برکت ملاؤ شی...

" بنی آدم به ستا د لاسونو په سوری کښی پناه آخلی او هغوی به ستا د کور د نعمتونو نه ښهٔ مطمین وی. تهٔ به په هغوی د خپلی خوشحالئ د دریاب نه وڅکی. ځکه چه د ژوندون د اوبو چینه تا سره ده. او ستا د نور په وسیله به مونږ رڼا ګورو."
(زبور ٣٦ : ٧-٩)

# عیسیٰ مسیح ښائسته دی.

د صحیح ایماندار په نظر او ذهن کښې عیسیٰ مسیح ډیر ښکلے دے. په هغۀ کښې هغه پاک او صفا خاصیتونه دی د څۀ چه هر څوک خواهش کوی. هغه فرمائی... کله چه تاسو دنیاوی مینه پریږدئ نو تاسو به زما هغه درنه مینه وګورئ کومه چه ستاسو دپاره ده. زۀ په تاسو کښې خوشحاله یم او غواړم چه تاسو د خپلی غوره شوی ناوی د ښکلا برخه کړم...

" وګوره هم تۀ ښکلے یی زما محبوبه! تۀ زما زړۀ پوری یی او زمونږ پالنګ هم شین دے."
(د سلیمان غزل الغزلات ۱ : ۱٦)

مارچ ۲۵

# عیسیٰ مسیح پریښودلی شوی دی.

د خدای سره د مکمل اتحاد نه پس زمونږ ګناهونو، بیماریانو، او غمونو هغه رشته ماته کړه،او عیسیٰ مسیح یواځی د مرګ په صلیب باندی پاتی شو. هغه فرمائی... زهٔ اوس هم د هغه وخت درد محسوسوم کله چه تاسو هغه هر څهٔ ماته رانهٔ کړل کوم چه د آسمانی پلار او ستاسو ترمنځه جدائی راولی. زهٔ به تاسو نه هیڅکله هم انکار ونهٔ کړم او نهٔ به مو پریږدم، خو زهٔ به تاسو د دِ قابل کړم چه تاسو خپل ټول بار ما له راکړئ...

" او دری بجی عیسیٰ په زوره چغی کړی چه "ایلی! ایلی! لما شبقتنی؟" چه ترجمه یی دا ده "زما خدایه! زما خدایه! تا زهٔ ولی پریښودلم؟"
(مرقوس ۱۵ : ۳۴)

## عیسیٰ مسیح اور دے.

د هغۀ کلام زمونږ دننه دِ دپاره بلیږی چه زمونږ د زړۀ نه هغه هر څۀ اوسوځوی کوم چه د خدای د تل عمری حضورئ په وړاندی نۀ شی اودریدلے. هغه فرمائی... خپل ځان د ژوندئ قربانئ په توګه پیش کړئ چه زۀ تاسو کښی د خپلی بپتسمی اور بل کړم. او دا به ستاسو زړۀ کښی هر څۀ اوسوځوی او څۀ چی پاتی شی هغه به خالص سرۀ زر وی او هغه به ډیره قیمتی وی...

" آیا زما کلام د اور په شان نۀ دے؟ خدای فرمائی او د څټک په شان نۀ دے چه کاڼی ریزه ریزه کوی."
(یرمیا ۲۳ : ۲۹)

# عیسیٰ مسیح د ګناهګارانو دوست (آشنا) دے.

دا څومره د خوش قسمتی خبره ده چه هغه مونږ ته په هغه وخت کښې په مینې سره راغلو کله چې مونږ پوهه شو چې مونږ د خپل فطرت، چال چلن، خیالونو، او د خپلو زړونو د خواهشونو په وجه د خدای نه جدا شوی یو. هغه فرمائی... زهٔ ستاسو لټون کوم. په خپل ځان کښې د غلطو څیزونو په پټولو زما دوستئ نه انکار مهٔ کوئ. زما کلام تاسو پاکوی او مونږ په آزادئ سره همیشه خپل زړونه یو بل ته ښکاره کولے شو...

" او هر کله چه ابن آدم راغے چه خوری څښی نو تاسو وایئ چه دهٔ ته وګورئ! دا ګیډور شرابی د محصولچیانو او ګناه ګارو آشنا دے!."
(لوقا ۷ : ۳۴)

مارچ ۲۸

هغه د مرګ په وسیله زمونږ نه مخکښې د خدای حضوری ته ورغلے دے. هغه زمونږ د راتلو اعلان کوی او زمونږ دپاره لار جوړوی. هغه فرمائی... د خپل ژوند په سفر کښې ما سره اوسئ. زهٔ ستاسو د دښمنانو د کردارونو او خطرناکو ارادو نه خبر یم. مونږ به په یو ځائ او حفاظت سره په ابدی جلال کښې ورداخل شو...

" دا اُمید زمونږ د ځان دپاره د یو داسی لنګر کار کوی چه پوخ او قائم دے او د آسمان د پردی دننه پاکترین مقام ته هم رسیدلے دے. چرته چه عیسیٰ د تل دپاره د ملک صدق د طریقی په مطابق د مشرکاهن جوړیدو سره زمونږ نه مخکښې او زمونږ د خاطره لاړو."
(عبرانیان ٦ : ١٩-٢٠)

## عیسیٰ مسیح کاملوونکی دے.

هغهٔ هغه ایمان صحیح او مکمل کړو کوم چه هغه مونږ ته راکړے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو د ژوند د مزاحمت نه تیریږی نو ما ته ګورئ. او څه چه ما تاسو کښی شروع کړی دی هغه به ختم کړم...

" نو راځئ چه مونږ هم هر یو پیټی او هغه ګناه چه مونږ په آسانئ سره نښلوی د ځان نه لری کړو، او په هغه منډه کښی په صبر سره وزغلیږو چه مونږ ته وړاندی ده. او د ایمان بانی او کاملوونکی عیسیٰ ته وګورو چه د هغی خوشحالئ په ځای چه د هغهٔ د نظر د وړاندی وه."
(عبرانیان ۱۲ : ۱ ، ۲)

مارچ ۳۰

# عیسیٰ مسیح اول دے.

هغه د هر څیز د ابتدا نه مخکښې خدای سره دے. عیسیٰ مسیح په ټولو څیزونو کښې دے او د هر شی اختتام په هغهٔ کښې دے. هغه فرمائی... په ما کښې ناآشنا ویره نشته. چرته چه تاسو ځئ هلته زهٔ تاسو نه مخکښې تلے یم. زما لاس ونیسئ...

"خو هغهٔ خپل ښے لاس په ما کیښودو او وی وئیل، "ویریږه مه، زهٔ الاول او الاخر یم، او القیوم، زهٔ مړ وم خو اوس تل تر تله ژوندے یم او د مرګ او د عالم ارواح کنجیانی ما سره دی."
(مکاشفه ۱ : ۱۷ ، ۱۸)

## عیسیٰ مسیح اول ژوندے شوے دے.

هغه د مریم اول زوی دے او د ټول مخلوقات نه اول پیدا شوی دی. عیسیٰ مسیح زمونږ ټولو نه مخکښې مرګ تیر کړو او مونږ ټولو نه اول ژوندے شو. مونږ د خدای په کورنۍ کښې د هغهٔ په وسیله پیدا شو. هغه فرمائی... په ژوندون یا مرګ کښې داسې څهٔ نشته چه د هغی نه تاسو وویریږئ. ځکه چه زهٔ په خپله د خپلو ورړو ورونړو او خویندو حفاظت کوم...

"او د عیسیٰ مسیح وفادار ګواه چه له مړو نه اول ژوندے پاڅیدو او د مزکی د بادشاهانو سردار دے. هغه مونږ سره مینه کوی او مونږ یی د خپلی وینی په قربانۍ له ګناهونو نه آزاد کړو. او مونږ یی د خپل خدای پلار دپاره د بادشاهت کاهنان جوړ کړلو."
(مکاشفه ۱ : ۵-۶)

# عیسیٰ مسیح اوله میوه ده.

یهودیان د خپل فصل اوله میوه د پینتکاست په ورځ خدای ته نذر کوی. خدای هغوی ټولو ته خپل روح القدوس ورکوی ځوک چه عیسیٰ د خپلی اولی میوی په صورت قبول کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... خدای تاسو ته خپل د ټولو نه ښهٔ څیز درکړو. څنګه چه زهٔ تاسو کښی د روح القدوس په وسیله اوسیږم، نو تاسو به خپله خوشحالی، اطمینان، مینه، نرمی، وفاداری، صبر، ښه والے، جزبات او خواهشونه خدای ته ورکړی...

"خو په حقیقت کښی مسیح راژوندے شوے وو. داسی هغه په مړو کښی اولنے ژوندے شوے سړے دے. ځوک چه د مسیح دی ټول به ژوندی کړے شی. خو هر یو به په خپل خپل وار، اول مسیح، بیا د مسیح په راتلو د هغهٔ خلک. بیا به آخرت راشی، او کله چه مسیح ټول حکومتونه او ټول اختیارونه او قدرتونه نشت کړی نو بادشاهی به خدای، یعنی خدای پلار ته په حواله کړی."
(اول کورنتیان ۱۵ : ۲۰ ، ۲۲-۲۴)

اپریل ۲

## عیسیٰ مسیح زمونږ ملګرے (دوست) دے.

په غلطی سره، د دروغو په الزامونو، او د نفرت په وجه هغه ته ملګرے وئیلے شو. په دِ خبره هغه چپ وو او په صلیب باندی یی دا دعا کوله "اے پلاره دوی معاف کړه،" هغه فرمائی... پطروس او پولوس هم په هغه خلکو کښی شامل شول په چا چه زما د مینی کولو په وجه الزامونه لګول شوی دی. نن زما نوم په خپل ځان براداشت کړئ کۀ دِ دپاره څۀ قیمت هم ورکړئ...

"آخر دوو سړو دا ګواهی وکړه چه "دۀ وئیلی وو چه زۀ د خدای کور نړولے شم اؤ په دریو ورځو کښی یی بیا ودانولے شم." خو عیسیٰ چپ پاتی شو."
(متی ۲۶ : ۶۰ - ۶۱ ، ۶۳)

# عیسیٰ مسیح زمونږ بنیاد دے.

مونږ د عیسیٰ مسیح په قیمتی کانړی خپل ژوند د مقدس عبادت خانی په شان جوړو. د هغهٔ د روح اور زمونږ نه هغه هر څهٔ لری کوی کوم چه د خدای د کور لائق نهٔ دی. هغه فرمائی... په سوځیدو باندی خوشحاله شئ. او خوشحالی وکړئ چه یو ماهر کاریګر تاسو غوره کړئ او ما سره یئ په حفاظت کښی ولګولئ...

"ځکه چه بغیر د هغه بنیاد نه چه ایښودلے شوے دے، او هغه عیسیٰ مسیح دے، بل څوک بنیاد نهٔ شی کیښودے."
(اول کورنتیان ۳ : ۱۱)

اپریل ٤

# عیسیٰ مسیح زمونږ رهبر دے.

هغه د ژوندون لار پیژنی او هغهٔ مونږ سره د نهٔ پریښودلو او د نهٔ ترک کولو وعده کړی ده. زمونږ لاسونه به د عیسیٰ مسیح په لاس کښې وی او هغه به زمونږ رهنمائی کوی. هغه فرمائی... کله چه د دنیا دباؤ په تاسو راشی او شیطان په تاسو حمله وکړی نو ما باندی نظر وکړئ. زهٔ لار یم،زهٔ حق او ژوندون یم. زهٔ به په رښتیا سره ستاسو نه شک او ټولی مایوسئ ختمی کړم. او هغه به تاسو ته هیڅ نقصان نهٔ رسوی او زما د موجودګئ ګرمایش سره به لوګے شی او لری به شی...

"ځکه چه د هغهٔ رحمت په هغوی باندی دے او هغه به د هغوی رهنمائی کوی او هغه به د اوبو د چینو طرف ته د هغوی رهبری وکړی."
(یشعیاه ۴۹ : ۱۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ فضل دے.

ولی مونږ د مرګ د سزا لائق وو، خو خدای مونږ ته عیسیٰ مسیح په تحفه کښې راکړو. د هغۀ په شکرګزارئ سره اوس مونږ د هغۀ یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ ستاسو د بار اوړلو او ستاسو د ضرورتونو پوره کولو دپاره راغلے یم. ځکه چه زۀ تاسو سره مینه کوم نو راغلم...

"د دِ دپاره مونږ ستاسو دپاره هر وخت دعا کوو چه زمونږ خدای دِ تاسو د دِ بلنې جوګه وګڼی، او ستاسو د نیکئ هر یو خواهش او د ایمان هر یو کار د په قدرت پوره کړی، تر دِ چه زمونږ د خدای او مالک عیسیٰ مسیح د فضل په مطابق زمونږ د مالک عیسیٰ نوم په تاسو کښې جلال ومومی او تاسو په هغه کښې."
(دویم تسالونیکیان ۱ : ۱۱-۱۲)

# عیسیٰ مسیح جمع کوونکی دے.

هغهٔ مونږ دِ کار دپاره راوغوښتو چه هغه ټول خلک د هغهٔ طرف ته راولو څوک چه د هغهٔ د بادشاهئ حصه جوړیدل غواړی. هغه فرمائی... د خپل ځان نه ګیر چاپیره زما په نظر هغوی ته وګورئ چاته چه د دِ ګواهئ ضرورت دے چه زهٔ ژوندے یم او هغوی سره مینه کوم. هغوی ته خپل وخت او مینه ورکړئ. د دنیا په هغه ملکونو باندی نظر وکړئ په کوم کښی چه زما په خوشخبرئ باندی بندیز دے. د هغوی دپاره دعا وکړئ. په ټولو ملکونو کښی زما د کلام ضرورت دي. او هلته خپل وسائل استعمال کړئ چه هغوی ماته راشی...

"څوک چه ما سره نهٔ دی هغه زما برخلاف دی. څوک یی چه زما سره نهٔ راغونډوی هغه یی خوروی."
(متی ۱۲ : ۳۰)

# عیسیٰ مسیح لوئ (عظیم، بزرګ) دے.

د عیسیٰ مسیح په عظمت، قدرت، او مهربانئ کښی مونږ د خدای لوئی ګورو. هغه فرمائی... د آسمان دولت او رتبی زهٔ ستاسو د تعریف کولو قابل کړے نهٔ یم. بلکه زهٔ په خپل خواهش تاسو ته د یو بی مددګاره ماشوم په شان راغلم. ما د خدای د رضا حاصلولو دپاره او د هغهٔ د تابعدارئ دپاره ډیر تکلیفونه وزغمل. زهٔ ستاسو دپاره مړ شوم او بیا ژوندے شوم او اوس زهٔ په دی کولو سره لوی (عظیم، بزرګ) یم. آیا تاسو کمیږئ چه زهٔ په تاسو کښی زیات شم؟

"او تهٔ به د هغهٔ نوم عیسیٰ کیږدی. هغه به لوی وی اؤ هغه به د الاعلیٰ زوی وبللے شی. مالک خدای به هغهٔ ته د نیکهٔ داؤد تخت ورکړی."
(لوقا ۱ : ۳۱-۳۲)

# عیسیٰ مسیح زمونږ بخښنه ده.

خدای په خوشحالۍ سره خپل ځان د عیسیٰ په شکل هغوی ته ورکوی چا چه هغه قبول کړے وی. هغه فرمائی... ما یعنی زما ژوندی کلام خلاص کړئ چه زۀ تاسو ته ټولی رښتیا خبری وکړم. زۀ هغه څوک یم د چا چه تاسو همیشه خواهش کوئ...

"عیسیٰ هغی ته جواب ورکړو چه: کۀ تۀ په دِ خبره وی چه د خدای بخښنه څۀ ده او تا نه چه څوک اوبۀ غواړی، دا دی څوک، نو تا به د هغۀ نه خواست کړے وو اؤ هغۀ به تا ته د ژوندون اوبۀ درکړی وی."

(یوحنا ۴ : ۱۰)

## عیسیٰ مسیح بخښونکے دے.

ستاسو د ژوند جوړولو دپاره د ښۀ تحفو ضرورت دی او د خدای بادشاهی په عیسیٰ مسیح کښی راغلی ده. هغه فرمائی... ما سره چه څۀ ستاسو دپاره دی هغه ټول ښکاره کړئ. څۀ چه تاسو ته زما په تابعداری کښی ملاؤ شوی دی زما د هدایاتو په مطابق یی استعمال کړئ. زما نعمتونه به په تاسو کښی زیاتیږی او تاسو به هغه قومونه وګوری کوم چه به زما په حکومت کښی راشی...

"او په مونږ کښی هر یو له د مسیح د بخښنی د اندازی په مطابق نعمتونه راکړے شوے دے. دغه وجه ده چه هغه فرمائی چه: "هر کله چه هغه د آسمان نه پورته وختلو نو قیدیان یی د ځان سره بوتلل او خلکو له یی تحفی ورکړلی." "
(افسیان ۴ : ۷-۸)

# عیسیٰ مسیح جلال دے.

د خدای شان وشوکت په هغهٔ کښې ځلیږی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو د دنیا په غمونو کښې زما جلال ته وګورئ نو تاسو ته به نوی خوشحالی ملاؤ شی. نو بیا به تاسو هغه دنیا وګورئ کومه چه زما د رڼا په ذریعه بدله شوی ده. نو دغه شان تاسو د بدو نه ښو ته راوګرځئ او زما د مصلحت حصه کښې شامل شئ...

"نو کلام جسه شو او هغه زمونږ سره اوسیدو او مونږ د هغه لوئی ولیده، داسی لوئی لکه چه د پلار د یو زوی چه په فضل او حقیقت معمور وی."
(یوحنا ۱ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح مهربان دے.

څنګه چه مونږ په هغهٔ کښې غټیږو، نو عیسیٰ د ژوند په مشکلاتو کښې زمونږ رهنمائی کوی. هغه مونږ ته هغه خوراک راکوی د کوم چه زمونږ بدن ته، ذهن ته، او روحانی ژوند ته ضرورت دے. هغه فرمائی... زما رحم همیشه ستاسو دپاره دے. تاسو زما د ضرورت دپاره پیدا شوی او زهٔ ستاسو د ضرورت پوره کولو دپاره موجود یم...

"د نوؤ پیدا شوو بچو په شان د خالص روحانی پیو خواهشمند اوسئ چه د هغو په وسیله د خلاصون موندلو دپاره لوئیږئ. تاسو د مالک د مهربانه کیدو خوند څکلے دے. نو مسیح ژوندی کانړی له راشئ چه بنی آدمو رد کړے خو خدای قیمتی غوره کړے دے."
(اول پطروس ۲ : ۲-۴)

# عیسیٰ مسیح خدای دے.

هغه دعویٰ کوی کومه چه رښتیا ده یا بیا د یقین کولو وړ نهٔ ده چه هغه خدای دے خو د یو مکمل انسان په بدن کښې مونږ ته راغلو. صرف ایماندار دا رښتیا ګڼی. عیسیٰ مسیح فرمائی... توما زما زخم سره ولګیدو او پوهه شو چه زهٔ هغه څوک یم چا چه د هغه د مالک او د خدای کیدو دعویٰ کړی ده. تاسو بختور ئی چه بغیر د کتلو نه په ما ایمان لرئ. کله چه تاسو ما باندی ایمان راوړئ نو تاسو به د قادر مطلق خدای په حضور او قوت کښې داخل شئ...

"مسیح د نالیدلی خدای په عکس اؤ د ټول مخلوق نه اوچت دی." (کولوسیان ۱ : ۱۵)
"زه او زما پلار یو یُو." (یوحنا ۱۰ : ۳۰)

اپریل ۱۳

# عیسیٰ مسیح زمونږ سردار دے.

هم هغهٔ سره اختیار دے چه د خدای د خلکو ژوند او حالات بدل کړی. هغه فرمائی... زما خلک په ټولو قومونو کښې دی. د خپلو حاکمانو احترام کوئ. د هغوی دپاره دعا وکړئ چه هغوی هم ما وپیژنی. یواځې ما له د خپل ژوند اختیار راکړئ ولې چه زما لارې د انسانانو د لارو په شان نه دی. زما د نمائنده په حیثیت خپل هغه اختیار استعمال کړه کوم چه ما تا ته په نورو خلکو باندې درکړے دے...

"هغوئ ووئیل چه "د یهودیه په بیت لحم کښې." اؤ هغوئ د هغې پیشن ګوئ حواله ورکړه چه په کښې د نبی په معرفت لیکلې شوې دی چه: "اې د یهودیه د مزکې بیت لحم ښارې! تهٔ د یهودیه په لویو ښارونو کښې هیڅکله هم ورکوټې نهٔ یې، ځکه چه ستا نه به هغه سردار راوزی چه زما د خلکو اسرائیلو شپون به وی." "
(متی ۲ : ۵ ، ٦)

## عیسیٰ مسیح د اسرائیلو جلال دے.

هغه د خدای هغه نور دے چه د عبرانیانو تاریخ یی په دنیا کښی روښانه کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... خدای یهودیان د خپلو خلکو په حیث غوره کړل. زۀ د یو یهودی ماشوم په شان په انسانی بدن کښی راغلم او خپل ژوند می قربان کړو او تاسو می د خدای د نزدی راتلو قابل کړئ. کله چه تاسو په ما کښی اوسیږئ نو زما جلال به ستاسو په وسیله ظاهر شی. دعا وکړئ چه زما خلک اسرائیل ما ته په دِ نظر وګوری چه زۀ د هغوی د شریعت او امیدونو کاملونکے یم...

"هغۀ هغه په غیږه کښی واخستو اؤ د خدای ثنا یی ووئیله، ځکه چه ما په خپلو سترګو ستا هغه خلاصون ولیدلو چه تا د ټولو قومونو په وړاندی تیار کړے دے، هغه نور چه د نورو قومونو دپاره رڼا وی اؤ ستا د امت اسرائیل لوئی."
(لوقا ۲ : ۲۸ ، ۳۰ - ۳۲)

# عیسیٰ مسیح زمونږ مقصد دے.

زمونږ ټول کوشیشونه د هغهٔ نه مکملیږی. هغه فرمائی... کله چه تاسو ما ته ګورئ نو تاسو به صحیح طرف ته ځئ. پریږدئ چه د شیطان حملی تاسو نور هم ما ته نژدی راولی. کله چه تاسو د ژوند په منډه کښی ستړی شئ نو پریږدئ چه زهٔ تاسو ورسوم. زهٔ ستاسو د ساه نه هم تاسو سره نژدی یم، او زهٔ د هغه انعام نه هم اوچت یم د کوم چه د منډی وهلو نه وروستو خلک خواهش کوی...

"د مقصد په طرف په منډه یم چه هغه انعام حاصل کړم چه د کوم دپاره چه مونږ خدای د عیسیٰ مسیح په وسیله آسمانی ژوند ته بللی یُو."
(فیلیپیان ۳ : ۱۴)

اپریل ۱٦

## عیسیٰ مسیح زمونږ د اوسیدو ځائ دے.

هغه غواړی چه مونږ هغهٔ سره یو ځائ پاتی او اوسیږو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو ما سره اوسیږئ نو تاسو سره به هغه هر څهٔ وی څهٔ چه تاسو غواړئ. تاسو به تپوس کوی چه د خدای کامله مرضی څهٔ ده ځکه چه ستاسو خواهشونه به پاک شوی وی. کله چه تاسو ما سره اوسیږئ نو ستاسو سختیانی او مشکلات به زما شی. او دا څومره د خوشحالی خبره ده!

"خو تهٔ اے خدایه زما پناه یئ! تا حق تعالی خپل د اوسیدو ځائ جوړ کړلو. په تا به هیڅ آفت نهٔ راځی او نهٔ به هیڅ قسمه وبا ستا د خیمی نژدی راشی."
(زبور ۹۱ : ۹ -۱۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ د پناه ځائ دے.

صرف هم هغه یو سړے دے چه ځان یی زمونږ دپاره په خطره کښې واچولو. د هغهٔ زخمی او بیا ژوندے شوے بدن اوس په دنیا کښې د ټولو نه محفوظ ځائ دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو ما سره په یو ځائ کښې اوسئ نو تاسو به د ټولو شیطانی حملو نه محفوظ یی. د تکلیف په وخت کښې به امن او آرام ستاسو دپاره وی...

"ګورئ یو بادشاه به په صداقت سره حکومت کوی او شاهزادګان به یی د عدالت نه حکمرانیانی کوی او یو سړے به د وریځی نه د پناه د ځائ په شان، د طوفان نه د پټیدو د ځائ په شان، په وچه زمکه به د اوبو د دریابونو په شان او په نوره زمکه به د یو لوی کاڼی د سوری په شان وی."
(یشعیاه ۳۲ : ۱ ، ۲)

## عیسیٰ مسیح پاک (مقدس) دے.

د هغهٔ بدن ځان او روح کامل او خالص دے... هغه زمونږ دپاره د رعب، ثنا، او مکمل فرمانبردارئ لائق دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... پاک، پاک، پاک (مقدس، مقدس، مقدس) خدای قادر مطلق ستاسو دپاره په حلیمی سره د یو ماشوم په شان داسی راغلو لکه څنګه چه یو خواهشمند سړے راځی خو هغه تاسو نه څه غوښتو دپاره نه راځی... راشئ او وئی ګورئ...

"فرښتی جواب ورکړو، روح القدس به په تا نازل شی اؤ د الاعلیٰ قدرت به په تا سورے وکړی اؤ په دِ وجه به هغه پاک پیدا کیدونکے ماشوم د خدای زوی بللے شی."
(لوقا ۱ : ۳۵)

## عیسیٰ مسیح ځټک دے.

هغه داسی کلام دے چه زمونږ د ژوند په سخت ځایونو کښی بیا بیا ټک وهل کیږی او دا د دِ دپاره چه مونږ د خدای د ابدی کور په تعمیر او جوړلو کښی استعمال شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ځنګه چه یو کولال په لاس کښی خاوره واخلی او په خپله مرضئ یی لونده او پسته کړی نو داسی تاسو هم یئ. کله چه تاسو خپل زړهٔ زما دپاره سخت کړئ نو زهٔ به په خپل کلام او ځټک سره ستاسو د زړهٔ سختوالی مات کړم...

"خدای فرمائی آیا زما کلام د اور او د هغه ځټک په شان نهٔ دی کوم چه کانړی هم ریزه ریزه کوی؟"
(یرمیا ۲۳ : ۲۹)

## عیسیٰ مسیح قدوس دے.

صرف هم هغه یو سړے دے چه زمونږ د عبادت لائق دے. په هغه کښې کاملیت او د خدای لاره ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو دِ دپاره راوغوښتلئ چه زما تعریف وکړئ.او بل هیچا ته هم دومره لوی تعظیم ورنهٔ کړئ. کله چه تاسو په خپل ژوند کښې ما ته توجو وکړئ نو تاسو ته به د خپل روزانه هغه کارونو دپاره کاملیت او خوشحالی ملاؤ شی کوم چه زهٔ تاسو ته هره ورځ درکوم او تاسو به زما بنیادی مقصد پوره وپیژنئ...

"خو په تاسو روح القدس نازل شوے دے او تاسو ټولو ته حقیقت معلوم دے."
(اول یوحنا ۲ : ۲۰)

# د عیسیٰ مسیح زړۀ مات شوے دے.

په هغۀ باندې زمونږ ټول ګناهونه، بیماریانې، او غمونه واچولے شول. هغۀ نه نفرت وشو او رد کړے شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما څوریدنه (تکلیف) ستاسو د ژوند د خوشحالیانو دروازه ده. کله چه تاسو زما په قدمونو باندې څئ نو تاسو به د دِ دنیا په غمونو کښې زما حصه دار شئ، خو تاسو به زما کامیابی هم وپیژنئ...

"ملامتئ زما زړۀ مات کړے وو. او زۀ ډیر خفه وم او په دِ انتظار وم چه څوک به په ما باندې رحم وکړی، او د تسلئ د ورکوونکی منتظر وم خو څوک ملاؤ نۀ شول. هغوی ماته خوراک کښې اندراین راکړو او زما د تندې ماتولو دپاره یئ ما باندې سرکه وڅکله."
(زبور ٦٩ : ٢٠ ، ٢١)

# عیسیٰ مسیح زمونږ خاوند دے.

هغهٔ خپل ژوند زمونږ دپاره قربان کړو او په مرګ یی کامیابی حاصله کړه، هغه مونږ سره مینه کوی او د دِ دپاره راروان دے چه مونږ د هغه په مینه کښی د همیشه حصه دار شو. هغه فرمائی... تاسو به زما په شان شئ کله چه تاسو ما سره وخت تیر کړئ او د نورو د ښیګړی دپاره خپل ځان قربان کړئ. زما خوشحالی به همیشه دپاره تاسو سره وی...

"ای خاوندانو! د خپلو ښځو سره مینه کوئ لکه څنګه چه مسیح د جماعت سره منیه کړی ده اؤ خپل ځان یی د هغهٔ دپاره مرګ ته سپارلے دے، د دِ دپاره چه هغهٔ ته د کلام سره په اوبو غسل ورکړی، پاک یی کړی او مقدس یی کړی، اؤ داسی د جلال جماعت ساز کړی او ځان ته یی حاضر کړی، چه په بدن کښی یی نهٔ داغ وی، نهٔ ګنجی، اؤ نهٔ په کښی بل داسی څهٔ څیز وی، بلکه پاک او بی عیبه وی."
(افسیان ۵ : ۲۵-۲۷)

# عیسیٰ مسیح حلیم دے.

ټول طاقت او عزت هغۀ سره وو، خو بیا هم عیسیٰ دا هر څۀ پریښودل او ځان نه یې د ظالمانو خلکو دپاره یو نازک او حساس ماشوم جوړ کړو. د دِ مطلب مرګ وو خو هغۀ بیا هم د خدای اراده قبوله کړه. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو خپلې خودغرضئ او خواهشات پریږدئ او د خدای د هدایاتو په مطابق خپل ژوند تیروئ نو تاسو به په رښتیا سره د خپل مقصد او ارادو تکمیل وګورئ. او زۀ به تاسو سرفراز او اوچت کړم...

"هم هغه شان خوئ لرئ لکه څنګه چه د مسیح عیسیٰ وو. خپل ځان یې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چه مرګ، بلکه د سولئ مرګ یې وزغملو. په دغه وجه خو خدای هم هغه ډیر سربلند کړو اؤ هغۀ ته یې هغه نوم وبخښلو کوم چه د ټولو نومونو نه اعلیٰ دے."
(فیلیپیان ۲ : ۵ ، ۸-۹)

# عیسیٰ مسیح زمونږ سر دے.

هغه د خدای د کورنئ اعلیٰ غړے او هغه اختیار دِ د کوم چه هر مسیحی ډیر احترام کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... مینه او صداقت هغه کوتک (اعزاز) دے په کوم چه زۀ تاسو اصلاح کوم. زۀ همیشه ستاسو د مدد دپاره بیدار او تیار یم. د خدای په کورنئ کښی تاسو هم داسی رویه اوساتئ، نو بیا به زمونږ خوشحالی په ټوله دنیا کښی خوره شی...

"اؤ دغسی مسیح د ټولو څیزونو نه اول دے اؤ ټول څیزونه په هغۀ کښی قائم دی. اؤ هغه د بدن، یعنی د جماعت سر دے، هغه یی ازل دے، اؤ د مړو نه بیا ژوندی کیدونکو نه د ټولو نه اول پیدا شو دپاره د دِ چه په ټولو خبرو کښی د هغۀ درجه اول وی."
(کولوسیان ۱ : ۱۷-۱۸)

اپریل ۲۵

# عیسیٰ مسیح د خدای پټ حکمت دے.

کله چه مونږ عیسیٰ مسیح وپیژنو نو خدای مونږ نه یو راز هم نۀ پټوی. خدای غواړی چه مونږ د هغۀ لاری او خیالونه وپیژنو کوم چه د دنیا د خلکو دپاره غلطی دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه یو عاشق د خپلی معشوقی سره په غوږ کښی د خوشحالئ خبری کوی، نو ما هم پریږدئ چه تاسو سره هغسی اوکړم. زما مینی ته په خپل ژوند کښی اوله درجه ورکړئ چه زۀ تاسو ته د خدای د مینی ژوروالی بیان کړم...

"بلکه مونږ د خدای د هغه پټ حکمت راز بیانوؤ چه خدای د دنیا جوړولو نه مخکښی دا فیصله کړی وه چه مونږ د هغه حکمت په وسیله جلال ومومو، اؤ کوم چه د دِ زمانی په سردارانو کښی یو هم نۀ دے پیژندلے ځکه چه کۀ هغوئ پیژندلے وی نو د جلال مالک به یی په سولئ کړے نۀ وو."
(اول کورنتیان ۲ : ۷-۸)

# عیسیٰ مسیح زمونږ شافی دے.

د هغهٔ همدردئ سره زمونږ بدن، دماغ، او روح ته آرام او شفا ملاویږی. هغه فرمائی... کله چه تاسو ما ته راشئ نو زما د شفا تحفی قبولی کړئ. پریږدئ چه دا ستاسو په ذریعه ستاسو په رشته دارانو کښی خوری شی. زهٔ غواړم چه تاسو په دِ دنیا کښی زما مضبوطی وسلی شئ چه زما بادشاهی په دِ دنیا کښی داسی شی لکه څنګه چه په آسمان کښی ده...

"کله چه ماښام شو نو خلکو عیسیٰ له ډیر داسی کسان راوستل چه پیریانو نیولی وو اؤ هغهٔ د هغوئ نه په یو حکم پیریان وشړل اؤ ټول رنځوران یی جوړ کړل، چه دغه رنګ د یشعیاه نبی په وسیله وئیلی شوی دا پیشن ګوئی پوره شی چه: "هغهٔ زمونږ رنځونه او کمزورئ اوچتی کړی." "
(متی ۸ : ۱٦-۱۷)

# عیسیٰ مسیح زمونږ اُمید دے.

په هغۀ مونږ مطمئن يو چه خدای به زمونږ ايماندارانو سره شوی ټولی وعدی پوره کړی. هغه فرمائی... کله چه تاسو په ما باندی ايمان وساتی نو زۀ به تاسو کښی هغه هر څۀ واچوم کوم چه خدای تاسو کښی غواړی. کله چه تاسو په آزاده توګه ما ته راشئ نو په تاسو کښی به پائيداری، امن او مينه پيدا شی. او زۀ به هغه هر څۀ په تاسو کښی پوره کړم کوم چه ما په تاسو کښی شروع کړی دی...

"د پولوس له طرفه چه زمونږ د خلاصوونکی خدای اؤ زمونږ د اُميد د مرکز مسيح عيسیٰ په حکم د مسيح عيسیٰ رسول دے."
(اول تيموتيوس ۱ : ۱)

# عیسیٰ مسیح زمونږ مددګار دے.

هغه مونږ سره سره کار کوی. هغه مونږ د دِ قابل کوی چه هغه کارونه وکړو کوم چه خدای خوشحاله وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ به همیشه تاسو سره یم او په هر مشکل کښی به ستاسو پوره پوره مدد کوم. په ما باندی ایمان وساتئ...

"خو هغه ښځه راغله، د دۀ په پښو پریوته اؤ چغی یی کړی، "مالکه! زما مدد وکړه!" عیسیٰ په جواب کښی ووئیل، "دا مناسب نۀ دی چه د ماشومانو برخه ډوډئ د څوک واخلیاؤ سپو ته د یی واچوی." هغی جواب ورکړو چه "ربنتیا دی مالکه! خو بیا هم سپی هغه ټکړی خوری کومی چه د مالکانو د دسترخوان نه غورزیږی." نو بیا عیسیٰ جواب ورکړو چه "ای ښځی! ستا څومره لویه عقیده ده! چه څنګه تۀ غواړی، دغسی دِ وشی." اؤ هم په هغه ساعت د هغی لور جوړه شوه."
(متی ۱۵ : ۲۵-۲۸)

# عیسیٰ مسیح د خدای لاس دے.

خدای د عیسیٰ مسیح په ذریعه خپل ځان او خپلی لاری ښکاره کوی. د عیسیٰ مسیح په وسیله شفاګانی معجزی او عجیبه کارونه کیږي. هغه فرمائی... نن خدای خپل ځان ته نژدی پریږدئ. د هغۀ سوځیدونکے او تسلی والا لاس پریږدئ چه تاسو ته آرام درکړی. تاسو زما د بدن برخی یئ. آیا نن به ستاسو د لاس په لګیدو څوک د خدای حضوری ته راشی؟

"اۆ اوس اے مالکه! د هغوئ زورنی ته پام وکړه او خپلو غلامانو ته دا قوت ورکړه چه مونږ ښۀ په زړورتیا سره ستا کلام بیان کړو. خپل لاس راوږد کړه چه ستا د پاک خادم عیسیٰ په نوم د روغولو معجزی څرګندولو او عجیبه کارونو عمل جاری پاتی شی."
(اعمال د رسولانو ۴ : ۲۹ -۳۰)

# عیسیٰ مسیح د جلال اُمید دے.

د ابراهیم، اسحاق، او د یعقوب خدای د تاریخ په ذریعه هغوی دپاره راغلو چا چه اُمید نهٔ لرلو. په مونږ کښې صرف عیسیٰ د جلال اُمید دے. هغه زمونږ د احترام، شکرگزارئ او عبادت لائق دے. هغه فرمائی... زما د راتلو نه مخکښې ستا نوم هیڅ نهٔ وو. خو اوس تاسو زما په نوم پیژندلے کیږئ. ډیرو ما نه نفرت کړے دے او نن تاسو هم رد کوی ځکه چه تاسو ما سره مینه کوئ. په هغه اُمید قائم اوسئ کوم چه تاسو سره دے او دا به ستاسو د خوشحالئ سبب شی...

"او هغه راز دا دے چه مسیح په تاسو کښې اوسیږی اؤ هم هغه د راتلونکی جلال اُمید دی."

(کولوسیان ۱ : ۲۷)

# د دِ دپاره عیسیٰ مسیح انسان دے.

اګرکۀ عیسیٰ کامل خدای دے، خو هغه یو کامل انسان هم دے. هغۀ فرمانبرداری زده کړه او خپله مرضی یی د خدای د مرضئ تابع کړه. هغه فرمائی... زۀ ستاسو کمزوری پیژنم او دا چه په آزمایښت کښی اچول څومره آسان دی. خو بیا هم زۀ تاسو سره یم او تاسو ته دا ښایم چه د شیطان، د دنیا او د بدنی خواهشونو مقابله به څنګه کوئ...

"بیا لکه چه د هغۀ بچی انسانان دی، دغه شان عیسیٰ هم انسان شو د دِ دپاره چه د مرګ په وسیله هغه څوک چه په مرګ یی قدرت حاصل وو، یعنی ابلیس، تباه کړی، اؤ څوک چه ټول عمر د مرګ د ویری په غلامئ کښی ګرفتار وو هغوئ خلاص کړی."
(عبرانیان ۲ : ۱۴ ، ۱۵)

# عیسیٰ مسیح آسمانی دے.

اګرکۀ عیسیٰ مسیح نۀ صرف کامل انسان دے بلکه آسمانی هم دے. هغه د هر یو پیدا شوی شی نه مخکښی خپل پلار خدای سره وو. د هغۀ په وسیله هر څۀ تخلیق او یو ځائ شول. هغه فرمائی... ما ستاسو دپاره لاره آزاده کړه چه تاسو ما سره د خدای د بادشاهی په تخت د همیشه دپاره یو ځائ شئ. اوس په ما کښی خوشحاله اوسئ. زما مینه او طاقت به تاسو د شیطان د حملی د مقابلی کولو قابل کړی...

"او خدای مونږ د مسیح عیسیٰ سره راژوندی کړو اؤ په آسمان کښی یی د هغۀ سره کښینولو، چه هغۀ د مسیح عیسیٰ په وسیله مونږ ته د مهربانئ په طور دا کړی وو، هغۀ دا ځکه وکړو چه په راتلونکو زمانو کښی هغه خپل بی اندازی فضل په مونږ ښکاره کړی."
(افسیان ۲ : ٦ ، ۷)

# عیسیٰ مسیح د سر کانړی دے.

هغه د خدای په تیر شوی زمانی کښی د شوؤ ټولو کارونو ژوندے یادګار دے او د هغه څیزونو بنیاد دے کوم چه هغه کوونکے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما باندی قائم شئ، په ما کښی پوره او کامل شئ، او یا بیا زما نه انکار وکړئ او ستاسو ټول کوششونه به ښکته راغورځیږی...

"کوم کاڼے چه ګلکارانو رد کړو هم هغه د ګوټ د سر کاڼے شو دا د خدای د طرف نه وشو او زمونږ دپاره عجیبه وو."
(زبور ۱۱۸ : ۲۲-۲۳)

# عیسیٰ مسیح د خلاصون ښکر دے.

کله چه مونږ هغۀ ته د خپل حفاظت دپاره آواز وکړو او مونږ د خپلې عاجزئ اقرار وکړو نو هغه به مونږ کښې د طاقت، لياقت او جلال په شکل راشي. عیسیٰ مسیح فرمائی... چه حالات هر څنګه وی خو زۀ به په هر مشکل کښې تاسو سره یم. په ما ایمان وساتئ. زۀ ستاسو هر ضرورت پوره کولو کښې وفادار یم او ستاسو کامله خوشحالی هم یم...

"ای خدایه! اے زما قوته! زۀ تاسره مینه کوم. خدای زما ګټ زما قلعه او زما خلاصونکے دے. زما خدای او زما ګټ په چا چه زۀ ایمان لرم. زما ډال او زما د خلاصون ښکر، زما اوچت برج دے. زۀ به خپل هغه خدای ته آواز کوم چه د عبادت لايق دی. او داسی به زۀ د خپلو دښمنانو نه بچ یم."
(زبور ۱۸ : ۱-۳)

# عیسیٰ مسیح د آسمانی بادشاهئ وارث دے.

هغه د خپل پلار خدای د ملکیت او ټول حثیت مستحق دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ د خپل پلار د هغه بادشاهئ وارث یم چه هغه به هیڅ کله هم نهٔ ختمیږی. ما دا سلطنت ستاسو دپاره هم جوړ کړو. په ما ایمان وساتئ او زما د کورنئ حصه شئ. او تاسو به هم د خدای د بادشاهئ وارثان شئ...

"خو په دِ آخره زمانه کښی یی مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه یی د ټولو څیزونو وارث وګرزولو اؤ د هغهٔ په وسیله یی هم ټول کائنات پیدا کړل."
(عبرانیان ۱ : ۲)

## عیسیٰ مسیح د خپل ځان په حقله وئیلی دی "زه یم".

هغه خپل ځان هغه خلکو ته ښکاره کړو چا چه هغه د خدای له طرفه د وعده شوی په حثیت قبول کړی وو. عیسیٰ مسیح د خپل ځان په باره کښی فرمائی... زه د ابراهیم نه مخکښی موجود وم. زهٔ ابتدا او اختتام، اول او آخر یم. زهٔ د ژوندون روټئ، او د دنیا نور یم. زهٔ دروازه، لاره، حق او ژوندون یم. زهٔ ښهٔ شپون یم. زهٔ حلیم او خاکساره، مالک، اُستاد او بادشاه یم. زهٔ حقیقی می (شراب) یم، زهٔ قیامت او ژوندون یم. زهٔ عیسیٰ یعنی عیسیٰ مسیح یم.

"عیسیٰ ووئیل، "زهٔ تاسو ته ربښنیا ربښتیا وایم چه ابراهیم لا پیدا هم نهٔ وو چه زهٔ یم."
(یوحنا ۸ : ۵۸)

## عیسیٰ مسیح پټ (نهٔ ښکاریدونکې) دے.

کله چه هغه زمونږ په ژوند کښې راشی، نو هغه زمونږ بدنی سترګو باندی نهٔ ښکاری، خو په روحانی سترګو مونږ د هغهٔ کتل شروع کوو. هغه فرمائی... هغه څیزونه کومو سره چه تاسو لګیږئ محسوسوئ یی او ذایقه یی اخلئ دا هر څهٔ سره د دِ چه ستاسو بدن به هم ختم شی. خو زهٔ به تر آخره وخته پوری تاسو سره یم. په ما کښې حقیقت دی...

"لږ ساعت پس به دنیا بیا ما نهٔ وینی خو تاسو به می وینئ. ځکه چه زهٔ ژوندے یم نو تاسو به هم ژوندی یئ. بیا به تاسو پوهه شئ چه زهٔ په خپل پلار کښې یم اؤ تاسو په ما کښې یئ اؤ زهٔ په تاسو کښې یم. (یوحنا ۱۴ : ۱۹-۲۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ معلم اِصلاح کار دے.

هغه د خدای په کارونو کښې زمونږ اُستاد دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... خپل ذهنونه د هغه روحانی څیزونو نه ډک کړئ کوم چه تاسو په ما کښې مضبوطه وی. پریږدئ چه زما روح القدس تاسو ته د خدای کلام آزاد کړی. ما پریږدئ چه ستاسو د ذهنونو نه هغه ټول تصورات ختم کړم کوم چه دِ دنیا ستاسو په ذهنونو کښې جوړ کړے دے. او کوم تصویر چه زهٔ په تاسو کښې جوړوم هغه په رښتیا، د عزت وړ، صحیح، پاک، ښهٔ شهرت، او د تعریف لایق وی. او د دِ په باره کښې سوچ وکړئ...

"خو روحانی سړی ټولی خبری و آزمئی خو په خپله به په چا ونهٔ شی آزمائیلی. څنګه چه صحیفی وائی چه: "د مالک په خیالونو څوک پوهیدی شی چه هغهٔ ته یی صلاح ورکړی؟" خو مونږ د مسیح په شان عقل لرو."

(اول کورنتیان ۲ : ۱۵-۱۶)

# عیسیٰ مسیح زمونږ شفاعت کوونکے دے.

په زړۀ سواندی سره هغۀ ته زمونږ د دننه مشکلاتو او بهرنی حالاتو علم وو نو هغۀ زمونږ په خاطر خپل ځان خدای ته ورکړو. هغه فرمائی... حوصله مۀ بائیلئ. هیڅکله هم حوصله مۀ بائیلئ. هر څومره چه مشکلات وی هیڅ خبره نۀ ده. زۀ تاسو سره یم دِ دپاره چه تیارۀ رڼا کړم او ریګستان په باغ بدل کړم...

"د دِ دپاره چه څوک د دۀ په وسیله خدای ته راځی هغه هغوئ ته پوره پوره خلاصون ورکولے شی ځکه چه هغه د هغوئ د شفاعت دپاره همیشه ژوندے دے."
(عبرانیان ۷ : ۲۵)

مئی ۱۰

## عیسیٰ مسیح عمانوایل دے.

فرښتی یوسف ته وئیل چه عیسیٰ مسیح عمانوایل دے چه مطلب یئ "خدای زمونږ مل دے". عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ به همیشه تاسو سره یم ستاسو د عمر آخر پوری. چه ځومره هم تیارۀ یا مشکل وخت وی زۀ به تاسو په خپلی وسیلی د هغه ځائ نه تیروم...

"ګورئ، یوه پیغله به اُمیدواره شی اؤ زوی به یی وشی اؤ د هغۀ نوم به عمانوایل کیږدی. چه معنی یی ده، خدای زمونږ مل دے."
(متی ۱ : ۲۳)

# عیسیٰ مسیح زمونږ میراث دے.

هغه اوس زمونږ خلاصوونکے او د مرګ نه وروستو ازلی ژوند دے. هغه فرمائی... آیا تاسو زما د مینی په خاطر څه څیز یا څوک پریښودی دی؟ آیا تاسو زما د پیروی کولو څه قیمت ورکړے دے؟ ما تاسو ته د هغو څیزونو د ورکولو سل ځل وعده کړی ده کوم چه زما ازلی پلار خدای چه لوی او عظیم دے هغه سره دی...

"زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح اؤ د خدای پلار دِ ثنا وی، چه د عیسیٰ مسیح د مړو نه د بیا ژوندی کولو په سبب یی په خپل لوی رحمت سره مونږ د ژوندی اُمید دپاره بیا پیدا کړو، چه یو نۀ فنا کیدونکی، بی داغه اؤ لازواله میراث حاصل کړو چه هغه ستاسو دپاره په آسمان کښی ساتلے شوے دے."
(اول پطروس ۱ : ۳-۴)

## عیسیٰ مسیح زمونږ غیرفانی ژوندون دے.

په هغۀ کښې زمونږ د ډیر ژوند مزه شروع کیږی کوم چه به وروستو غیرفانی وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... اوس پوره حوصلی سره ژوند تیروئ. په هغه دنیا کښې زما د نور لټون وکړئ په کومه کښې چه شیطان تیارۀ کړی ده. تاسو به ما پیدا کړئ. پریږدئ چه زما روح القدس ستاسو بدن ته توانائی او طاقت ورکړی چه تاسو زما روښانه ګواهان شئ او بیا به تاسو اوس او همیشه دپاره د ژوند په مزه پوهه شئ...

"بلکه د خدای د قدرت په مطابق د زیری د خاطره ما سره تکلیفونه وزغمه، چه مونږ ته یی خلاصون راکړو اؤ راوی بللو چه د هغۀ خلک شو، نه چه زمونږ د کارونو په وسیله، بلکه په خپله خاص اراده اؤ د هغه فضل په مطابق چه د مسیح عیسیٰ په وسیله په مونږ د ازل نه وشو. خو اوس زمونږ د خلاصوونکی مسیح عیسیٰ په راتلو سره ښکاره شو چه مرګ یی نشت کړو، او غیرفانی ژوندون یی د هغه زیری په وسیله څرګند کړو."
(دویم تیموتیوس ۱ : ۸-۱۰)

# عیسیٰ مسیح د خدای عکس دے.

هغه د ابدی رڼا انعکاس دے د خدای د کارونو یو بی داغه آئینه ده او د خدای د ښیګڼو عکس دے. (د سلیمان حکمت ۷ : ۲۵-۲۶) عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو د خدای د عکس دپاره تخلیق شوی یئ. زما ژوند په تاسو کښی کیدو سره به تاسو هم خدای ظاهروئ، خو کله چه تاسو خدای ته توجو ورکړئ. او کله چه تاسو خدای سره مخامخ شئ نو تاسو به هم روښانه شئ...

"مسیح د نالیدلی خدای په عکس اؤ د ټول مخلوق نه اوچت دے."
(کولوسیان ۱ : ۱۵)

# عیسیٰ مسیح مجسم کلام دے.

هغه مجسم دے. مجسم لاطینی لغت دے. چه معنی ئی غوښه جوړیدل یا غوښه اخیستل ده. عیسیٰ مسیح د خدای هغه کلام دے. کوم چه په انسانی بدن کښی راغلی دے. صرف د هغهٔ په طریقو عمل کولو سره مونږ د خدای حصه جوړیدلی شو. هغه فرمائی... د خدای کلام ته په خپل ځان کښی هر کلی ووائي. او د خپل ځان پټ ځایونه زما د آرام ورکوونکی کلام دپاره پرانزئ. پریږدئ چه دا هر څهٔ په تاسو کښی هم راشی...

"نو کلام جُسه شو اؤ هغه زمونږ سره اوسیدو اؤ مونږ د هغهٔ لوئی ولیده، داسی لوئی لکه چه د پلار د یو زوی چه په فضل او حقیقت معمور وی."
(یوحنا ۱ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح خلاصوونکے دے.

د هغهٔ په وسیله خدای دا فیصله کوی چه مونږ راستباز یو او د خلاصون وړ یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د خپل ځان بیګناه ثابتولو کوششونه بند کړئ. تاسو خپل کردارونه، خیالونه، او حرکتونه زما د صفاکوونکی اور حضور ته د صفاکولو دپاره راوړئ. او دوئ چه د کومو زخمونو، او مرګ لائق دی هغه مخکښی نه ادا کړے شوی دی. خپل ځانونه عاجز او خاکساره کړئ چه زهٔ مو سر بلند کړم...

"نو د خدای فضل به د دِ په مقابله کښی ډیر زیات وی اؤ د هغهٔ د صداقت بخښنه به ژوندون وی، د هغه یو سړی په وسیله بادشاهی کوی چه عیسیٰ مسیح دے... نو د یو سړی د صداقت په وجه به ټولو خلکو له خلاصون اؤ ژوندون ورکړی."
(رومیان ۵ : ۱۷ ، ۱۸)

## عیسیٰ مسیح ناصری دے.

هغه په ناصرت کښی غټ شو چه د ګلیل یو کلی وو او د رومیانو په قبضه کښی وو. هغه وخت کښی د ډیرو خلکو نومونه هم عیسیٰ یا یسوع وو چه مطلب یئ نجات یا خلاصون دے. صرف عیسیٰ مسیح ناصری دا نوم پوره کړو. هغه فرمائی... خپلی سترګی پرانزئ او زما د بیا ژوندی کیدو قوت ته وګورئ. تاریخی عیسیٰ مهٔ لټوئ بلکه ما ولټوئ ولی چه زهٔ ستاسو مالک او ستاسو خدای یم او زما عبادت وکړئ...

"د عیسیٰ ناصری په حقله چه د خدای په وړاندی په کلام اؤ عمل دواړو کښی یو زورور نبی وو. اؤ زمونږ مشرانو کاهنانو اؤ حاکمانو اؤ ټولو خلکو هغه حواله کړو چه د مرګ حکم پری وشی اؤ په سولئ یی کړو. نو زمونږ یو څو کسان قبر ته لاړل اؤ څهٔ چه هغه ښځو وئیلی وو هغه شان یی ولیدل خو هغه یی ونهٔ موندو."

(لوقا ۲۴ : ۱۹ -۲۰ ، ۲۴)

## عیسیٰ مسیح زمونږ خوشحالی ده.

په هغهٔ کښې مونږ ته هغه خوشحالی ملاویږی کومه چه زمونږ د اظهار کولو نه بهر ده. هغه فرمائی... کله چه تاسو ما خوشحاله کړئ او په ما کښې خوشحالی وکړئ نو تاسو کښې به زما د پیروی کولو خواهش نور هم زیات شی. زما د جلال نژدی اوسئ او د خدای حمدوثنا وکړئ او د هغه شفا دپاره د خدای شکرګزاری وکړئ کومه چه تاسو ته ملاؤ شوی ده...

"دا ما تاسو ته وئیلی دی د دِ دپاره چه زما خوشحالی دِ په تاسو کښې وی اؤ ستاسو خوشحالی د پوره شی."
(یوحنا ۱۵ : ۱۱)

مئی ۱۸

# عیسیٰ مسیح انصاف دے.

هغه په خپلو رشتو کښې پاک، مقدس، او مخلص دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما د ایمان لرلو په وجه به تاسو په راستبازانو کښې شمارلی کیږئ. تاسو د خپل ځان نه ګیرچاپیره غریبان خلک مۀ هیروئ. څنګه چه تاسو هغوی ته ورکړئ نو خدای به تاسو ته د هغه نه ډیر درکړی د دِ دپاره چه تاسو یئ بیا، بیا، او بیا ورکړئ...

"زۀ په خپله هیڅ نۀ شم کولی. زۀ فیصله کوم څنګه چه ما ته وئیلی شوی دی اؤ زما فیصله هم د انصاف ده ځکه چه زما مقصد زما د مرضئ نۀ دی بلکه د هغۀ د مرضئ دی چا چه زۀ رالیږلے یم."
(یوحنا ۵ : ۳۰)

# عیسیٰ مسیح غصه کوونکے دے.

هغه بیدارئ او هوښیارئ سره په مونږ باندی غصه کوی چه مونږ د دروغو د خدایانو سره مینه ونهٔ کړو. هغه فرمائی... خپل ځان مهٔ آزمائی خو یو او همیشه پاتی کیدونکے خدای دے ستاسو په ژوند کښی اول مقام ولری. زما مرضی زما مینه او زما لاری به همیشه ستاسو د زړونو د خواهشونو په مطابق وی. د خپل ژوند نه هغه ټول د دروغو خدایان لری کړئ یا هغوی به بیا په تاسو باندی د اوسپنی د لاس په شان سخت حکومت کوی...

"د مالک په دسترخوان اؤ د شیطانانو په دسترخوان کښی نهٔ شئ شریکیدی. آیا مونږ مالک غصه کوو څه؟ آیا مونږ د هغهٔ نه زوره ور یو څهٔ؟ هر څهٔ روا دی، هو، خو هر څیز فائده مند نهٔ دی."

(اول کورنتیان ۱۰ : ۲۱-۲۳)

## عیسیٰ مسیح زمونږ قاضي دے.

هغه زمونږ دفاع کوونکے دے. صرف هغه قومونه او خلک به بیګناه ثابت شی کوم چه په هغۀ باندی ایمان لری. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما فیصله رښتیا ده ولی چه زۀ تاسو دننه او بهر ښیر ښۀ پیژنم. ما پریږدئ چه زۀ ستاسو د همسایه او دښمن فیصله هم وکړم ځکه چه زۀ هغوی هم پیژنم او ورسره مینه کوم. کۀ چری زما روح تاسو ته په کومی فیصلی کښی امتیاز درکړی نو دا بیا په تاسو ده چه شفاعت وکړئ او په چا الزام ونۀ لګوئ...

"هغویٔ په دِ حیران دی چه تاسو په سخته بدچلنئ کښی د هغوئ ملګرتیا نۀ کوئ اؤ تاسو ته بدرد وائی. خو هغوئ به د دِ حساب خدای ته ورکوی چه د ژوند اؤ د مړو عدالت کولو ته تیار دی."
(اول پطروس ۴ : ۴-۵)

# عیسیٰ مسیح د خدای بادشاه دے.

عیسیٰ هم هغه پاک حاکم دے د چا چه خدای خپلو خلکو اسرائیل سره وعده کړی وه. یو انسان هم هغه عظمت پوره نۀ کړو د کوم چه خدای د نبیانو په ذریعه د داؤد نسل سره وعده کړی وه. صرف هم هغه یو غوره کړے شوے مسیح چه خدای او انسان دواړه دی هغۀ هغه پیشنګوئی پوره کړلی چه د یو تکلیف تیرونکی غلام یعنی عیسیٰ مسیح بادشاه په باره کښی شوی وی. هغه فرمائی... زۀ بیا راتلونکے یم ولی چه ټولو کتابونو چه زما په باره کښی څه وئیلی دی هغه لاتراوسه پوری نۀ دی ختم شوی. زما د بیا راتلو خواهشمند اوسئ خو خاص خبره دا ده چه د خپل زړۀ تخت زما دپاره تیار کړئ. زما د راتلو لاره د هغه خلکو دپاره د دعا په ذریعه تیاره کړئ څوک چه ما یعنی هغه بادشاه نۀ پیژنی څوک چه هغوی سره مینه کوی...

"ما خو خپل بادشاه په خپل مقدس غرۀ صیون باندی کښینولے دے."
(زبور ۲ : ٦)

## عیسیٰ مسیح زمونږ وطن دار او بچ کوونکے دے.

د بوعز د مینی او همدردئ په ذریعه نعومی نومی کنډه او روت د موآبیانو د حقارت او نفرت نه بچ شولی او آبادی او قائمی شولی. عیسیٰ مسیح هم د هغه نسل نه پیدا شو او اوس زمونږ وطن دار او بچ کوونکے دے. هغۀ هغه غیریهودیان خوشحاله کړل څوک چه په عاجزئ سره هغۀ ته راغلی وو او د هغه ټولو اسرائیلو زړونه یئ خوشحاله کړل د چا چه په هغۀ نظر وو. هغه فرمائی... یهودیان او غیریهودیان به تر هغه وخته پوری په تکلیف او مشکلاتو کښی وی او محنت به کوی ترڅو چه هغوی زما د وادۀ په غونډه کښی شریک شوی نۀ وی. زۀ به ترکومی پوری په خپلو خلکو اسرائیلو کښی د خپلی مینی اظهار کومه. دعا وکړئ چه زما مینه ستاسو په وسیله په هغوی باندی ظاهره شی...

"او ښځو نعومی ته ووئیل خدای دِ مبارک وی چه تۀ ئی نن ورځ ځان ته د نژدی راوستلو نه بغیر پری نۀ ښودلی د هغۀ نوم دِ په اسرائیلو کښی روښانه وی." (روت ۴ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح ساتونکی دے.

هغه شپه او ورځ په مونږ نظر ساتی او مونږ د هر نقصان نه بچ کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ټوله دنیا کښی ستاسو ورونه او خویندی وربی دی او په هغوی باندی ظلم او جبر کیږی او د هغوی جرم صرف دا دے چه هغوی ماسره مینه کوی او زما د نوم نه انکار نهٔ کوی. زهٔ په هر تکلیف او سخت وخت کښی د هغوی حفاظت کوم. د خپل حفاظت دپاره د ویری مقابله وکړئ. ما ته ووائي، "چه زهٔ د خدای په ورکړے شوی ذریعو څنګه د غریبو او تکلیف تیرونکو خلکو مدد وکړم؟"

"ځکه چه تا زما د صبر کلام منلے دے اؤ مضبوط پری ولاړ یی، زهٔ به هم تا د هغه آزمیښت نه چه د ټولی دنیا په خلکو راتلونکے دے، بچ کړم. زهٔ به زر درشم اؤ څهٔ چه درسره دی هغه کلک ونیسه."
(مکاشفه ۳ : ۱۰-۱۱)

# عیسیٰ مسیح سره ګنجی ده.

هغه مونږ د خدای د (شکینه) جلال په حضوری کښی د داخلیدو قابل جوړوی. هغهٔ سره مونږ په هغه ځایونو حمله کولے شو په کومو ځایونو کښی چه شیطان خلک بندیان کړی دی او د هغوی دپاره د ژوندون دروازی کولاؤلے شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ ستاسو د تپوس په انتظار کښی یم چه زما هغه خواهش پوره شی... چه غریبانانو ته خوشخبری ورکړئ شی، په زړهٔ ماتو ته شفا ورکړئ شی، او دا اعلان وکړئ شی چه بندیان او غلام به آزاد شی او ړاندهٔ به بینا شی. خدای خپل برکتونه ستاسو په ذریعه ورکول غواړی...

"زهٔ به تا له د آسمان د بادشاهئ کنجیانی درکړم، هر څهٔ چه تهٔ په مزکه تړی هغه به په آسمان کښی وتړلے شی، اؤ هر څهٔ چه تهٔ په مزکه پرانزی هغه به په آسمان کښی پرانستلے شی."
(متی ١٦ : ١٩)

# عیسیٰ مسیح مهربان دے.

هغه په قدرتی طور باندی همدرد حلیم او مینه کوونکے دے. عیسیٰ مسیح زمونږ دپاره د خدای رحم دے. هغه فرمائی... زۀ ستاسو درد، غم او په دنیا کښی د اوسیدلو تکلیفونه پیژنم چرته چه نور خلک ګناهګار دی او په بیماریانو کښی ګیر دی او تاسو د هغوی په باره کښی هیڅ نۀ شئ کولئ. هغوی ماته راولئ. زۀ نن د هغوی حفاظت کولے شم او هغوی پاکولے او هغوی ته شفا ورکولے شم...

"اۀ خدای مونږ د میسح عیسیٰ سره راژوندی کړو اۀ په آسمان کښی یی د هغۀ سره کښینولو، چه هغۀ د مسیح عیسیٰ په وسیله مونږ ته د مهربانئ په طور دا کړی وو، هغۀ دا ځکه وکړو چه په راتلونکو زمانو کښی هغه خپل بی اندازی فضل په مونږ ښکاره کړی."
(افسیان ۲ : ۶-۷)

# عیسیٰ مسیح د بادشاهانو بادشاه دے.

هغه په هر بادشاه، رهنما، او د زمکی او آسمان په هر سلطنت قدرت لرونکے دے. هغه فرمائی... هغوی به زما د بیا راتلو د هیبتناکی ورځی نه مخکښی د توبی دپاره زما په وړاندی ټیټ شی. زما د خلی توره، یعنی د خدای کلام به ټول د دروغو خدایان، د انسانانو غرور او د هغوی د زړونو سخت والے پری کړی. د خپلو حاکمانو دپاره دعا وکړئ چه هغوی زما تلاش وکړی او ویریږی...

"اؤ د هغهٔ د خُلی نه یوه تیره توره راوزی چه قومونه پری ووهی، ځکه چه هغه به په هغوئ د اوسپنی په امسا حکومت کوی، اؤ د هغهٔ په چوغه او په پتون دا نوم لیکلے دے چه: "د بادشاهانو بادشاه اؤ د مالکانو مالک."
(مکاشفه ۱۹ : ۱۵ ، ۱٦)

# عیسیٰ مسیح د جلال بادشاه دے.

ښکلا، نور، او رڼا د هغهٔ په ذریعه روښانه دی. هغه زمونږ د زړهٔ نه د عبادت، عزت، تعریف او شکرګزارئ لائق دے. دا بادشاه په ډیر عاجزئ سره مونږ ته راغلو، او د بی‌دردئ په مرګ مړ شو اوس هغه مونږ ته په خپلی کامیابئ کښی هرکلے وائی. هغه فرمائی... پریږدئ چه په تاسو کښی زما خواهش زیات شی. نن زما په حضور کښی خپل ځان تود کړئ ځکه چه دا ډیره جلال لرونکی (د جلال وړ ده) ده. تاسو په دِ خبره مهٔ حیرانیږئ چه کله تاسو نه څوک تپوس وکړی چه تاسو ولی روښانه یئ؟ نو بیا تاسو هغوی ته زما د مینی راز وئیلے شئ کوم چه د هغوی دپاره هم دے...

"کهٔ هغوی پیژندلے وے نو د جلال مالک به یی په سولئ کړے نهٔ وؤ. بلکه څرنګ چه لیکلے شوی دی هم هغسی وشول چه: "څهٔ چه نهٔ سترګو لیدلی، نهٔ غوږونو آؤریدلی اؤ نهٔ د انسان په زړهٔ کښی راغلی دی، هغه څیزونه خدای د هغوئ دپاره چه ورسره مینه لری، تیار کړی دی." "
(اول کورنتیان ۲ : ۸-۹)

# عیسیٰ مسیح ازلی بادشاه دے.

هغه اوس غالب دے او بادشاهیکوی او د خدای په ښی لاس په تخت باندی ناست دے او د همیشه دپاره خدای سره دے. هر یو طاقت او د تیاری هر یو حکمران، کوم چه ښکاری او کوم چه نۀ ښکاری هغوی ټول به د هغه د پښو لاندی ولړزیږي. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما سره کښینئ. خپل ټول خراب عادتونه زر ختم کړئ ولی چه دا ماسره په هغه پاک (مقدس) ځای کښی نۀ شی پاتی کیدے. د خپل ځان نه ګیرچاپیره چه کوم شیطان ګورئ په هغه اختیار (غلبه) حاصله کړئ. زۀ غواړم چه زما مریدان هغه بدو قوتونو ته د ایمان پیغام ورکړی چا چه زما بچی د تیارو په جالونو کښی تړلی (بند کړی) دی. پریږدئ چه ستاسو رڼا وځلیږی!

"اوس د ازلی بادشاه، یعنی غیرفانی نالیدلی واحد خدای عزت اؤ جلال دِ تل ترتله وی! آمین."
(اول تیموتیوس ۱ : ۱۷)

## عیسیٰ مسیح د یهودیانو بادشاه دے.

هغه هغه مسیحا نجات ورکونکے د اسرائیل بادشاه دے د چا چه خلک د ډیر وخت نه منتظر وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ غواړم چه ماسره مینه کوونکی خلک یهودیان په دِ پوهه شی چه زهٔ هغه بادشاه یم چه خدای د هغوی دپاره رالیږلے یم. نو بیا به د هغوی ژړا په ګډا او خوشحالئ بدله شی او د هغوی په سرونو به د خوشحالئ تیل واچول شي. زما خلک یهودیان ولټوئ او هغوی سره زما د مینی په شان مینه وکړئ. زما په اوښکو سره هغوی دپاره دعا وکړئ. زما په خوشحالئ سره هغوی قبول کړئ ولی چه په ما کښی د هغوی د وراثت وعده پوره شوی ده...

"پیلاطوس د هغهٔ نه تپوس وکړو چه "تهٔ د یهودیانو بادشاه یی څهٔ؟
هغه جواب ورکړو، "تا په خپله ووی."
(مرقوس ۱۵ : ۲)

# عیسیٰ مسیح د خدای ګډوری دے.

هغه بیٔ‌عیبه او پاک دے هغهٔ خپل ځان قربان کړو او خپله وینه یئ د دِ دپاره تویه کړه چه مونږ د خدای په وړاندی پاک شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما وینه ستاسو دپاره بیٔ‌قیمته تویه شوه. خپل ځانونه په هغی کښی پټ کړئ چه ستاسو زاړهٔ او غلط فطرتونه د پاک ګډوری په بیٔ‌عیبه او رښتیا فطرت کښی بدل شی. ښنګه چه تاسو ته زما بیٔ‌قیمته معافی ملاو شی نو هم داسی چه کله تاسو نور ښوک معاف کړئ نو تاسو ته به خوشحالی ملاویږی...

"نو د خپل هجرت وخت په ویره تیر کړئ. ځکه چه تاسو خبر یئ چه ستاسو فضول چال چلن چه د پلار نیکه نه مو موندلے دے د هغی نه ستاسو خلاصون د فانی ښیزونو، یعنی سرو یا سپینو زرو په وسیله ونهٔ شو، بلکه د یو روغ رحمت اؤ بی داغه ګډوری، یعنی د مسیح د قیمتی وینی په وسیله."
(اول پطروس ۱ : ۱۷-۱۹)

# عیسیٰ مسیح د مالکانو مالک دے.

په زمکه یا د آسمان په بادشاهئ کښې هیڅوک هم زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح نه زیات طاقتور نشته. هغه فرمائی... حکومتونه راځی او ختمیږی خو زۀ تل تر تله د بادشاهانو بادشاه او مالکانو مالک یم. پریږدئ چه زما بادشاهئ تل تر تله ستاسو په زړونو کښې وی...

"اؤ د هغۀ د خلی نه یوه تیره توره راوزی چه قومونه پری ووهی، ځکه چه هغه به په هغوئ د اوسپنې په امسا حکومت کوی، اؤ د هغۀ په چوغه اؤ په پتون دا نوم لیکلے دے چه: "د بادشاهانو بادشاه اؤ د مالکانو مالک."
(مکاشفه ۱۹ : ۱۵-۱۶)

# عیسیٰ مسیح نور دے.

د یوحنا انجیل په دِ بیان شروع کیږی چه د عیسیٰ مسیح ژوند هغه رښتیا رڼا ده کوم چه هغه خلک د تیارهٔ نه رڼا ته راولی چا چه هغه قبول کړے وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه یوه شمع په تیارهٔ کوټه کښی بلیږی او ښکلی ښکاری. داسی زهٔ په تاسو کښی بلیږم. زهٔ په تاسو کښی بلیږم ځکه چه هغه څوک چه اوس هم په تیاری کښی روان دی ما وګوری او چه ما ته راشی. او دا شعله مهٔ پټوئ او مهٔ یی مړ کوی...

"عیسیٰ یو ځل بیا خلکو ته مخاطب شو اؤ وی وئیل، زهٔ د دُنیا نور یم څوک چه ما پسی راځی هغه به په تیارهٔ کښی نهٔ ګرزی بلکه په هغه نور کښی چه ژوندون روښانه کوی."
(یوحنا ۸ : ۱۲)

## عیسیٰ مسیح مینه ده.

هغه په خپلی عجیبه مینی د دنیا هر څیز په خپلو کښی یو ځای او برابر وتړل. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ تاسو سره مینه کوم. زما مینه تاسو زما د ژوند په پاکئ کښی راولی او تاسو ته شفا درکوی. ما تاسو د دِ قابل کړئ چه تاسو خپل همسایه معاف کړئ او ورسره د خپل ځان په شان مینه وکړئ...

"دا زما حکم دے، د یو بل سره مینه کوئ لکه چه ما تاسو سره مینه کړی ده. د دِ نه زیاته نوره مینه نشته چه یو سړے دِ د خپل دوست دپاره خپل ځان ورکړی."
(یوحنا ۱۵ : ۱۲-۱۳)

## عیسیٰ مسیح د ایمان بانی (مشر) دے.

اګرکۀ په دنیا کښی ډیر دنیاوی خدایان دی، خو د عیسایانو دپاره صرف یو خدای دے یعنی پلار او یو مالک عیسیٰ مسیح دے چه خدای سره یو دے. هغه فرمائی... صرف زما دپاره په زنګنونو شئ. صرف زما اطاعت کوئ. خپله وفاداری او تابعداری صرف ما ته راکړئ. ځکه چه هم زۀ د دِ قابل یم چه په دنیا کښی او په تاسو کښی امن، مینه، او خوشحالی پیدا کړم...

"په دغه وجه خو خدای هم هغه ډیر سربلند کړو او هغۀ ته یی هغه نوم وبخښلو کوم چه د ټولو نومونو نه اعلٰی دی، دپاره د دی چه د عیسیٰ په نوم هر یو موجودات په سجده شی، خوا کۀ په آسمانونو کښی، یا په مزکه کښی، یا هغه چه د مزکی د لاندی وی، اؤ د خدای پلار د جلال دپاره هره یوه ژبه اقرار وکړی چه عیسیٰ مسیح مالک دے."

(فیلیپیان ۲ : ۹-۱۱)

# عیسیٰ مسیح شریعت ورکوونکے دے.

هغه د شریعت جوړونکی سره دے او د هغه شریعت ورته پته ده د کوم شریعت چه مونږ ته ضرورت دے او هغه هغه شریعت زمونږ په زړونو لیکی او زمونږ هر ضرورت پوره کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما د لارو او خیالونو خواهش په ځان کښی پیدا کړئ. هر هغه خواهش کوم چه زما نۀ دے د خپل ځان نه یی لری کړئ. او څنګه تخم چه تاسو وکرئ هم هغسی فصل به وریبئ. د معافئ تخم وکرئ...

"خو د شریعت ورکونکے اؤ قاضی خو یک یو دے چه د بچ کولو اؤ د هلاکولو توان لری، خو تۀ څوک یی چه په خپل ګاونډی اِلزام لګوی؟" (یعقوب ۴ : ۱۲)

# عیسیٰ مسیح زمونږ حاکم (رهنما) دے.

هغه مونږ ته حکم کوونکے هغه رهنما دے، څوک چه به مونږ د ژوند په جنګونو کښې کامیاب کړی. هغه فرمائی... زما پیروی وکړئ. زما په قدم ځئ او هغه کارونه کوئ کوم چه زۀ تاسو ته ښایم. لاره تنګه، مشکله، او خطرناکه ده خو ما تاسو په دِ د تیریدو قابل کړی یئ. په ما ایمان وساتئ. زما پیروی وکړئ...

"ګورئ، ما هغه د اُمتونو دپاره ګواه مقرر کړو. او د اُمتونو دپاره می یو رهنما او حاکم کړو."
(یشعیاه ۵۵ : ۴)

# عیسیٰ مسیح د سبت مالک دے.

هغه مونږ ته رازده کوی چه مونږ څنګه خپل ژوند د خدای د عبادت دپاره استعمالولے شو او څنګه په آرام کښی داخلیدے شو. هغه د موسی د شریعت د څلورم قانون پوره کوونکے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما ته راشئ او آرام وکړئ. پریږدئ چه زما حضور تاسو تازه کړی او تاسو د یو داسی ژوند تیرولو قابل کړی چه تاسو خپل ځان هغوی ته ورکړئ چا ته چه ستاسو ضرورت دے څنګه چه ما تاسو ته وئیلی دی...

"کۀ چرې تاسو د دِ آيات په مطلب پوهه وئ چه: ”زۀ رحم خوښوم، قربانی نه،“ نو تاسو به بی ګناه خلک ګناه ګار کړی نۀ وُو. ځکه چه اِبن آدم د سبت مالک دے."

(متی ١٢ : ٧-٨)

# عیسیٰ مسیح ژوندون دے.

د هغۀ نه بغیر مونږ په روحانی توګه مړۀ یو. هر کله چه مونږ د هغۀ ژوندے کلام آورو، نو مونږ د خپل خواهشونو د قربانولو قابل جوړیږو دِ دپاره چه خدای مونږ کښې خپله لاره جوړه کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ډیر او ښکلی ژوند دا دے کوم چه ما تاسو ته درکړے دے. او د څۀ کمی توقع مۀ کوئ. زما ژوند خوشحالی ده او په شیطان، په مرګ او شریعت باندی غلبه ده...

"عیسیٰ ووئیل، زۀ قیامت یم اؤ زۀ ژوندون یم. کۀ څوک په ما ایمان لری کۀ هغه مړ هم شی نو هغه به بیا ژوندے وی. او کۀ څوک چه ژوندے دے اؤ په ما ایمان لری هغه به هیڅ کله هم مړ نۀ شی."
(یوحنا ۱۱ : ۲۵-۲۶)

جون ۸

## عیسیٰ مسیح لوئی زغم تیرونکے دے.

هغه ګناهګارانو دپاره ډېر همدرد او صبر کوونکے دے او غواړی چه مونږ هم د هغهٔ په شان شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... آیا په دنیا کښې دا غمونه ډېر نهٔ دی؟ ما تاسو ته وئیلی دی چه د دِ دنیا په غمونو کښې داسی ورننوځئ چه ستاسو موجودیت هلته په خوشحالئ او صبر وځلیږی. غمونه او تکلیفونه تیرکړئ او زما د مینی په اوبو کښې ځانونه پاک کړئ او زما پاک مریدان شئ...

"چه عیسیٰ مسیح ګناه ګارانو ته د خلاصون ورکولو دپاره دنیا ته راغے، چه په هغوئ ټولو کښې لوی زهٔ یم. اؤ په ما رحم د دِ دپاره وشو چه په ما لوی ګناه ګار کښې مسیح عیسیٰ خپل لوی زغم ظاهر کړی، چه د هغه خلکو دپاره مثال شی کوم چه په هغهٔ د تل ژوندون دپاره ایمان راؤړی، زهٔ د هغوئ دپاره نمونه شم."
(اول تیموتیوس ۱ : ۱۵-۱۶)

# عیسیٰ مسیح غریب دے.

هغه د غرور نه پاک دے او هغه وائی او کوی څۀ چه پلار هغۀ ته ښیی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ خپلی فرمانبرداریٔ هغه ځائ ته بوتلم کوم ځائ ته چه ما تلل نۀ غوښتل ــ خو بیا هم تاسو خوشحاله نۀ یئ چه زۀ په دِ باندی راضی ووم؟ راځئ چه زۀ تاسو ته د پلار مرضی وښایم. په دِ باندی ځئ. کۀ چیری په دِ باندی ستاسو ځانونه هم قربان شی ځکه چه هم دا د پوره امن او اطمینان ځای دے...

"اے تاسو چه ټول خواری کوئ اؤ پنډ مو دروند دے، ماله راشئ اؤ زۀ به آرام درکړم. زما جغ په غاړه کړئ اؤ له ما نه زده کړئ، ولی چه زۀ حلیم یم اؤ په زړۀ کښی غریب، اؤ ستاسو روحونه به آرام مومی. ولی چه زما جغ په وړلو کښی پوست دے اؤ زما پنډ سپک دے."
(متی ۱۱ : ۲۸-۳۰)

# عیسیٰ مسیح مالک عیسیٰ دے.

عیسیٰ هغه اختیار دے چه زمونږ د خوشحالئ او فرمانبردارئ لائق دے ولی چه هغۀ زمونږ دپاره خپل ځان هم قربان کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ستاسو دننه داسی څۀ څيز دے چه تاسو هغه کار کولو باندی مجبوروی کوم چه تاسو نۀ کول غواړئ؟ زۀ تاسو ته وایم چه ماسره مینه وکړئ او د خپل زړۀ نه هغه ټول غلط څیزونه لری کړئ. او پریږدئ چه زما روح په تاسو کښی دننه کار وکړی...

"هر څۀ چه تاسو کوئ، کۀ تاسو خبری کوئ یا څۀ کار، هغه ټول د مالک عیسیٰ په نوم کوئ اؤ د هغۀ په وسیله د خدای پلار شکر کوئ."
(کولوسیان ۳ : ۱۷)

## عیسیٰ مسیح مالک خدای دے.

صرف هم هغه دے د چا چه ابراهیم موسی او داؤد عبادت کړے وو. نبیانو د هغهٔ د راتلو پیشگویانی کړی وی. هغه راغلو چه مونږ هغه وپیژنو او ورسره مینه وکړو ولی چه هغه هم مونږ سره مینه کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما پیژندگلو او زما مینه تاسو پاکوی، تاسو ته د ژوند مقصد ښائی او تاسو ته هغه کلام درکوی کوم چه به د دِ نااُمیده دنیا په ژوند کښی تاسو سره خبری کوی. زما په کلام کښی ډوب شئ ځکه چه کله تاسو وزورلے شئ نو زما د ژوندون اوبهٔ به تاسو نه راوځی...

"بلکه مسیح مالک وګڼئ اؤ په خپلو زړونو کښی یی مقدس ګڼئ، اؤ چه څوک ستاسو نه ستاسو د اُمید د وجی تپوس وکړی هغهٔ ته د جواب ورکولو دپاره هر وخت تیار اوسئ، خو په نرم مزاجئ اؤ په احترام سره."
(اول پطروس ۳ : ۱۵-۱۶)

# عیسیٰ مسیح مالک عیسیٰ دے.

صرف هم هغه وو چه ځان يئ د مرګ دپاره تابعدار کړو، او په دِ وجه خدای هغه بيا ژوندے کړو. خو اوس هغۀ مونږ په هر مشکل (مزاحمت) باندی د غالب کيدو قابل کړی يو. عيسیٰ مسيح فرمائی... آيا تاسو زما هغه قدرت وکتلو کوم چه تاسو د هر آزمايښت نه راوباسی؟ آيا تاسو زما نرمتوب، زما همدردی، او زما د شفا ورکولو رضا ليدلی ده؟ د خپلو سترګو نه پردی لری کړئ او ما ته وګورئ...

"سره د دِ چه په مزکه اؤ په آسمان ډير خدايان بللی شی، دغه شان ډير خدايان اؤ مالکان دی. خو زمونږ خو يو خدای دی، يعنی خدای پلار، چه د چا له طرف نه ټول څيزونه دی اؤ مونږ د هغۀ دپاره ژوندی يو، اؤ يو مالک دی، يعنی عيسیٰ مسيح د چا په وسيله چه دا ټول څيزونه پيدا شول اؤ مونږ هم د هغۀ په وسيله ژوندی يو."
(اول کورنتيان ۸ : ۵ ، ٦)

# عیسیٰ مسیح د جلال مالک دے.

د پلار خدای شان وشوکت او عالیشانه ښکلا په عیسیٰ مسیح کښی ځلیږی. دا هر څۀ لیدل مونږ د دِ قابل کوی چه هغۀ ته د خپل عبادت، تعظیم، او شکرګزاری په وسیله نور جلال هم ورکړو. هغه فرمائی... زما مینه قبوله کړئ. خپل زړونه پرانزئ چه زما نوره ډیره مینه حاصله کړئ. کله چه تاسو زما ثناء وایئ نو زۀ روښانه کیږم او زۀ د دِ په وسیله نور هم روښانه کوم...

"بلکه مونږ د خدای د هغه پټ حکمت راز بیانوُو چه خدای د دُنیا جوړولو نه مخکښی دا فیصله کړی وه چه مونږ د هغه حکمت په وسیله جلال ومومو، اۆ کوم چه د دِ زمانی په سردارانو کښی یو هم نۀ دے پیژندلے ځکه چه کۀ هغوئ پیژندلے وے نو د جلال مالک به یی په سولئ کړے نۀ وو."
(اول کورنتیان ۲ : ۷-۸)

# عیسیٰ مسیح د غیریهودیانو (بی ایمانانو) دپاره د مکاشفی رڼا ده.

اوس د هغه په وسیله ژوندی او همیشه پاتی کیدونکے خدای هغوی ټولو ته هرکلے وائی چا چه مخکښی د دروغو د خدایانو عبادت کولو. عیسیٰ مسیح فرمائی... افسوس په هغه خلکو دے څوک چه ما پیژنی هغوی به هم په اور کښی واچول شی د دِ خواهش دپاره چه څوک په تیاری کښی دی چه هغوی ټول هم زما رڼا ته راشی. د هغه قومونو دپاره دعا وکړئ چرته چه زما خوشخبری بنده ده.

"خدای فرمائی چه دا خو یو وړه خبره ده چه تهٔ به د یعقوب د قبیلی د اوچتولو او د محفوظ اسرائیلو د بیا راوستلو دپاره زما خادم یی. خو زهٔ به تا د قومونو دپاره نور کړم او ستا نه به زما نجات د زمکی غاړو ته ورسیږی."
(یشعیاه ۴۹ : ٦)

## عیسیٰ مسیح د خدای راز دے.

د خدای پټ راز دا وو چه د عیسیٰ په وسیله دِ یهودیان او غیریهودیان د خدای د بادشاهئ وارثان، د مسیح د بدن حصه، او په وعده کښی شامل شی. هغه فرمائی... خپل ورونو یهودیانو او غیریهودیانو سره یو ځائ شئ، او داسی وسلی د ځان نه جوړی کړئ چه هغه په دِ دنیا کښی د شیطان ټولی مضبوطی قلعه ګانی ماتی کړی.

"اؤ په ټولو دا خبره ښکاره کړم چه هغه راز چه له ازل نه د ټولو څیزونو په پیداکوونکی خدای کښی پټ وو، هغه به څنګه څرګند کړی، چه اوس د جماعت په وسیله د خدای قِسم قِسم حکمت هغه حاکمانو اؤ د واک خاوندانو ته معلوم شی څوک چه په آسمان کښی دی، د هغی ازلی ارادی په مطابق کومه چه هغهٔ زمونږ د مالک مسیح عیسیٰ په وسیله سر ته ورسوله. په عیسیٰ مسیح کښی او په هغهٔ د ایمان لرلو په وسیله مونږ ته زړهٔ ورتیا ده چه مونږ په پوره تسلئ سره د خدای په مخکښی حاضریدے شو."
(افسیان ۳ : ۹-۱۲)

# عیسیٰ مسیح مالک دے.

صرف عیسیٰ د دی کائنات رئیس، منتظم، نګران او اختیار لرونکے دے. هغه فرمائی... زما آواز اوریدل زده کړئ ځکه چه بیا به تاسو د دِ په جواب کښی زما د حکمونو تابعداری کوئ. او دا ستاسو د فائدی دپاره دی. زۀ ستاسو دننه طوفان ته هم وایم چه قلار شه"

"هغوئ هغۀ له ورغلل اؤ په دِ چغو یی رابیدار کړو، "مالکه! مالکه! مونږ غرقیږُو!" عیسیٰ بیدار شو او سیلئ اؤ د اوبو طوفان یی ورټلو. طوفان ودریدلو اؤ قلاره قلاری شوه."
(لوقا ۸ : ۲۴)

# عیسیٰ مسیح لوئی دے.

هغه د دِ کائنات د حکومت لوئی بادشاه دے. لوئی او شان د هغه شاهانه حضور او اختیار دے. هغه فرمائی... زهٔ تاسو ته په عاجزئ سره راغلم، خو د ټول کائنات اختیار زما دے. زهٔ تاسو ته د خپل ځان ورکوونکی مینی سره راغلم، خو ټول عزت او جلال زما دی. کله چه تاسو زما په تخت زما د بچو په حیثیت کښینئ، نو تاسو ته به هم زما په شان د خپل ځان د ورکولو لاره حاصله شی...

"هر کله چه مونږ تاسو د خپل مالک عیسیٰ مسیح د قدرت اؤ د راتلو نه خبر کړی وئ نو مونږ په ټګئ د ځانه په جوړو کړو قصو باور نهٔ وو کړے بلکه په خپله مو د هغهٔ لوئی لیدلی وه."
(دویم پطروس ۱ : ۱٦)

# عیسیٰ مسیح مسح کړے شوے دے.

صرف هغه وو چه خدای د بادشاهئ دپاره مسح کړو، او د اسرائیلو دپاره یئ یو اُمید کړو. هغه فرمائی... د دنیا د مسئلو حل تاسو ولی لټوئ؟ زهٔ حل یم. ما پریږدئ چه ستاسو په زړهٔ او دماغ بادشاهئ وکړم چه تاسو هم زما د حل حصه شئ. صرف هغه ولټوئ او وئی کړئ د څهٔ دپاره چه ما تاسو رابللی یئ. په هغی کښی ستاسو خوشحالی ده...

"ښځی جواب ورکړو، "زهٔ پوهیږم چه مسح کړے شوے، یعنی مسیح راتلونکے دے. هر کله چه هغه راشی نو هغه به مونږ ته هر څهٔ وښائی." عیسیٰ ورته ووئیل، هغه زهٔ یم، زهٔ چه تا سره خبری کوم."
(یوحنا ۴ : ۲۵-۲۶)

# عیسیٰ مسیح من ده.

هغه د خدای له طرفه زمونږ د ورځنی ضرورت ذخیره ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... خپل ضرورتونه ما ته راوړئ خو دِ ته هم تیار اوسئ چه زۀ څنګه ستاسو په وسیله نورو ته ورکول غواړم. څۀ چه تاسو سره دی په هغه باندی مطمئن شئ، او هره ورځ زما په کلام او هدایاتو باندی عمل کوئ. زۀ به تاسو ته ورکول وښایم او زۀ به دا ډیر هم کړم...

"لکه چه صحیفی وائی چه زمونږ پلارونو نیکونو په صحرا کښی من خوړلو، "هغۀ هغوئ له د آسمان نه خوراک ورکوو." عیسیٰ هغوئ ته ووئیل، زۀ د ژوندون ډوډئ یم."
(یوحنا ٦ : ٣١ ، ٣٥)

جون ٢٠

# عیسیٰ مسیح الاعلیٰ دے.

هغه د ټولو حکمرانانو او د اختیار لرونکو نه لوئ دے، عیسیٰ مسیح د آسمان په تخت د خدای په ښی لاس ناست دے. عیسیٰ مسیح زمونږ د حالاتو نه خبر دے خو بیا هم هغه زمونږ د ښهٔ کولو ډیر خیال ساتی. هغه فرمائی... هیڅ خبره نهٔ ده چه شیطان تاسو ته تکلیف درکړی ولی زما اختیار د هغهٔ نه لوئ دے. په ما یقین وکړئ. او د هغه قوت استعمالول زده کړئ کوم چه زما د نوم په وسیله په تاسو کښی دے...

"هغه په پولوس اؤ مونږ پسی راتله اؤ چغی به یی وهلی، "دا د رب الاعلیٰ غلامان دی اؤ تاسو ته د خلاصون لار ښیئ!" پولوس نه نور زغم ونهٔ شو. هغهٔ روح ته مخ ورواړولو اؤ وی وئیل چه "زهٔ تا ته حکم درکوم چه د عیسیٰ مسیح په نوم د دِ نه بهر راوزه!" اؤ هغه په هغه ساعت هم هلته تری نه راووتو."
(اعمال د رسولانو ١٦ : ١٧-١٨)

## عیسیٰ مسیح زورآور دے.

د هغهٔ قدرت، اختیار، او وسائل بی مثاله او عظیم دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ماته د رښتیا د توبی ویستلو دپاره راشئ. نو بیا به زما روح القدس او اُور تاسو نه هغه هر څهٔ وسوځوی کوم چه تاسو ما نه جدا کوی. کهٔ تاسو خپل ځانونه د څهٔ قابل نهٔ محسوسوئ، او یا ځانونه په دی د غالب کیدو قابل نهٔ ګڼئ،نو زما قدرت ستاسو د زړهٔ د احساساتو نه ډیر لوی دے...

"زهٔ تاسو له د توبی دپاره په اوبو بپتسمه درکوم خو څوک چه به زما نه پس راځی هغه زما نه زیات زورور دے. زهٔ د هغهٔ د څپلو پورته کولو قابل هم نهٔ یم. هغه به درله په روح القدس اؤ په اور بپتسمه درکوی. ښاخئ د هغهٔ په لاس کښی ده. هغه به خپل درمند په ښهٔ شان پاکوی او غنم به په خمبه کښی جمع کوی، خو بوس به په هغه اور کښی سوزوی چه هیڅ کله نهٔ مری."
(متی ۳ : ۱۱-۱۲)

# عیسیٰ مسیح منځګړے دے.

هغه خپل ځان د هغه بنی نوع انسان دپاره فدیه کړو چا چه د خدای مرضی نهٔ شوه پوره کولے. هغه فرمائی... خو اوس زهٔ ستاسو او د هغه سړی په مینځ کښی ولاړ یم چا چه تاسو ته تکلیف درکړے دے. ما پریږدئ چه تاسو کښی داسی زړهٔ تخلیق کړم، کوم به چه معاف کوونکے، او صلح ښونکے وی...

"ځکه چه یو خدای دے اؤ د خدای اؤ د انسان په مینځ کښی مینځګړی هم یو، یعنی مسیح عیسیٰ چه انسان دے، چا چه خپل ځان د ټولو دپاره په فدیه کښی ورکړلوچه په مناسبو وختونو د هغهٔ شهادت وشی. نو بیا زهٔ غواړم چه خلک په هر ځای کښی بغیر د غصی او، تکرار نه پاک لاسونه پورته کوی اؤ دعا غواړی."
(اول تیموتیوس ۲ : ۵-٦ ، ۸)

# عیسیٰ مسیح حلیم دے.

هغهٔ هر درد او تکلیف بغیر د څهٔ شکایت نه برداشت کړل او خپل ځان یئ د خدای د مرضئ په مطابق مرګ ته په حواله کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د خپلی غصی توانائی د تیارو د طاقتونو په خلاف په جنګ کښی استعمال کړئ. ما پریږدئ چه ستاسو شفاعت وکړم او تاسو نه یوه تیره وسله جوړه کړم. تاسو ته د تیزو خبرو ضرورت نشته، خو خپل پلار خدای سره په مینه او آرام په ایمان او کلام کښی خبری کوئ، او دهٔ نه ټول شیطانی طاقتونه لړزیږی...

"زهٔ پولوس په خپله تاسو ته خواست کوم، چه څنی خلک زما په حقله وائی چه زهٔ ستاسو په مخکښی ویریدونکے او پشی شا زړهٔ وریم، خو زهٔ د مسیح زغم او نرمی دریادوم، اګر کهٔ مونږ په دنیا کښی ژوندون تیروو خو د دنیا په مطابق جنګیږو نه. ځکه چه زمونږ د جنګ وسلی انسانی نهٔ دی بلکه د خدای په قدرت د بدو قلاګانو د نړولو جوګه دی. ځکه خو مونږ د دلیلونو اؤ هر هغه رکاوټ څیز چه د خدای د پیژندګلئ خلاف یی سر اوچت کړے دے، نړوو اؤ هر یو خیال قیدوو اؤ د مسیح فرمانبرداره کوو."
(دویم کورنتیان ١٠ : ١ ، ٣-٥)

جون ٢٤

# عیسیٰ مسیح زمونږ خدمتګار دے.

هغه مونږ ته د یو خادم، دوست، استاد او د یو رضاکار په حثیت راغلو. د هغهٔ دپاره مونږ خدای ته د نژدی کولو کار هیڅ هم نهٔ دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... آیا تاسو د خپل ژوند نه غصه، خفه او مایوسه یئ؟ خپل زوړ فطرت د ځان نه لری کړئ او ما ته وګورئ. ما نه تپوس وکړه چه زهٔ څهٔ وکړم، او زهٔ به تاسو ته د خدمت کولو هغه طریقه وښایم کوم به چه تاسو خوشحاله کړی...

"چه څوک مشری غواړی هغه دِ ستاسو خدمتګار شی. ځکه چه ابن آدم هم د دِ دپاره نهٔ دے راغلے چه خدمت واخلی بلکه د دِ دپاره راغلے دے چه دے د نورو خدمت وکړی اؤ چه خپل ژوندون د ډیرو په بدل کښی په فدیه ورکړی."
(مرقوس ۱۰ : ۴۳ ، ۴۵)

# عیسیٰ مسیح زړۀ سواندے دے.

هغه د زړۀ سواندی او زړۀ خوږ نه ډک دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ پوهیږم چه تاسو د کوم حالات نه تیریږئ. آیا تاسو د برداشت نه زیات آزمائیلے کیږئ؟ خپله خواری ما له راکړئ او ما ته وګورئ. او ما سره شئ. زۀ ستاسو خلاصوونکے او مددګار یم. زما همدردی دا ده چه ستاسو دردیدونکی برخو ته شفا ورکړم. او چه تاسو په ما کښی آرام او خوشحالی وکړئ...

"هم دغه وجه ده چه عیسیٰ ته په هر لحاظ د خپلو وروڼو په شان جوړیدل په کار وو چه هغه د خدای په خدمت کولو کښی داسی لوی کاهن شی چه زړۀ سواندے او وفادار وی، اؤ د خلکو د ګناهونو کفاره ورکړی. ځکه چه هغه په خپله وآزمائیلی شو نو هغه د هغوئ مدد کولے شی څوک چه آزمائیلے کیږی."
(عبرانیان ۲ : ۱۷ ، ۱۸)

# عیسیٰ مسیح د صبا ستورے دے.

هغۀ دا ځلیدونکے زیرے وکړو چه تیارۀ ختمه شوه او هغه ابدی ورځ راتلونکی ده په کومه به چه خدای پاک په خپله بادشاهی کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما ته هرکلے ووایئ. ما ته د خپل ژوند په پټو ځایونو کښی هرکلے ووایئ. پریږدئ چه زما نور په تاسو وپړقیږی چه کله زۀ په خپل جلال کښی راځم چه په تاسو کښی داسی هیڅ خبره نۀ وی چه په هغی تاسو وشرمیږئ...

"اؤ زمونږ سره د نبوت هغه کلام دے کوم چه ډیر معتبر دے، اؤ تاسو ښۀ کوئ چه په دِ وجه په هغی غور کوئ چه دا یوه ډیوه ده کومه چه د تیاری په ځای کښی رڼا ورکوی، ترڅو چه سحر نۀ شی اؤ د صبا ستورے ستاسو په زړونو کښی ونۀ ځلیږی."
(دویم پطروس ۱ : ۱۹)

جون ۲۷

# عیسیٰ مسیح بی اندازی (لا محدود) دے.

د هغهٔ د لویئ، د ښهٔ والی، او د قدرت هیڅ اندازه نشته. هغه خپل روح بغیر د څهٔ حد نه هغه خلکو ته ورکوی څوک چه هغه قبولوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه نمر مسلسل رڼا کوی او ستاسو زمکه د نورو سیارو په شان په ګردش کښې برابر ساتی هم دغه شان زما مینه هم ستاسو دپاره ده. تاسو په خپل ټول عقل، جذبات، او روح سره زما طرف ته راشئ چه زهٔ تاسو ولامبووم او د خپلی مینی نه مو ډک کړم...

"څکه چه څوک چه خدای را استولی وی هغه د خدای خبری کوی، ولی چه هغه روح القدس بی اندازی ورکوی. پلار د زوی سره مینه کوی اؤ هغهٔ ته یی ټول اختیار ورکړے دے."
(یوحنا ۳ : ۳۴-۳۵)

# عیسیٰ مسیح سره ده.

هغه د یو ښځی نه د یو بی وسه ماشوم په شان پیدا شو. هغه غتیدو او دا یی زده کول چه د خدای آواز څنګه اوریدل او منل کیږی. هغه په هره لار زمونږ په شان وآزمائیلی شو او خوله یی وبهیده او ستړے شو. هغهٔ مرګ هم تیر کړو. خو اوس هغه بیا ژوندے شوے انسان دے او زمونږ شفاعت کوی او زمونږ دپاره ځائ تیاروی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ په تاسو کښی یم. همت مهٔ بائیلئ. زما د قوت په ذریعه تاسو هر هغه کار کولے شئ کوم چه ستاسو زړونه تاسو ته وائی او کوم چه خدای تاسو نه غواړی. کیدے شی چه دا مشکل وی خو تاسو به داسی کولے شئ...

"اؤ کوم صوبه دار چه هغهٔ ته مخامخ ولاړ وو چه هغهٔ ولیدل چه هغهٔ څنګه ساه ورکړه نو وی وئیل، رښتیا دی چه دا سړے د خدای زوی وو!"
(مرقوس ۱۵ : ۳۹)

# عیسیٰ مسیح د وعدې رسول دے.

هغه د دِ دپاره بیا راتلونکے دے چه مونږ پاک کړی او د خدای بادشاهی په زمکه باندی قایمه کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... دا اوس هغه وخت دے چه تاسو د خپلو گناهونو نه نفرت وکړئ او زما روح القدس او اور نه وغواړئ چه ستاسو او ستاسو د قومونو نه ټولی سختیانی، تریخوالے، او بغاوت ختم (ویلی) کړی. دا اوس هغه وخت دی تاسو زما د راتلو د ورځ دپاره تیار اوسئ کومه چه زر راتلونکی ده...

"گورئ زۀ به خپل رسولان درلیږم او هغوی به زما نه مخکښی لاره صحیح کوی او خدای د چا چه تاسو لټون کوئ هغه به ناگهانه خپل کور ته راشی. او د وعدی رسول د چا چه تاسو خواهش مند یئ ربُ الافواج فرمائی هغه به راځی."
(ملاکی ۳ : ۱)

# عیسیٰ مسیح نوے دے.

د هغهٔ خوږ بدن هغه نوی وعده ده د کوم په وسیله چه یهودیان او غیر یهودیان، ښځې او سړی، ځوانان او بوډاګان، مالدار او غریبانان، تور او سپین یو ځائ او یو شان شول. هغه فرمائی... کله چه تاسو ما ته وګورئ نو زهٔ به تاسو نه طرفداری ختمه کړم. او زهٔ به تاسو ته مینه کول، معاف کول، او په خپل هر حالت کښې زما ترس ښکاره کول وښایم...

"نو اوس اے ورونړو! چه مونږ د عیسیٰ د وینې په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړهٔ وریو، په هغه نوی اؤ ژوندئ لار چه هغهٔ زمونږ دپاره د پړدی له مینځ نه خلاصه کړی ده، یعنی د خپل بدن په وسیله اؤ چه زمونږ دغه شان لوی کاهن دی چه د خدای د کور مختیار دے، نو راځئ چه خدای ته ورشو اؤ په داسی حالت کښې چه زمونږ زړونه رښتینی وی، زمونږ ایمان دِ مضبوط وی، زمونږ ضمیر دِ د ګناه د احساس نه پاک وی، اؤ زمونږ بدنونه دِ په صفا اوبو سره وینځلی وی."
(عبرانیان ۱۰ : ۱۹-۲۲)

جولائی ۱

# عیسیٰ مسیح نژدې دے.

عیسیٰ مسیح زمونږ دومره نزدی دے لکه څنګه چه زمونږ ساه مونږ ته نزدی ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو ولی په دومره شوق سره ما په لری ځایونو کښی لټوئ؟ زهٔ دلته تاسو سره یم. کله چه تاسو ما ته په خپل ژوند کښی دعوت راکړئ نو بیا به زهٔ تاسو هیڅکله هم نهٔ پریږدم او نهٔ به مو هیرکړم. ما پریږدئ چه ستاسو مات زړهٔ او پښیمان روح ته شفا ورکړم...

"”کلام درسره نزدی دے، دا ستا په شونډو اؤ ستا په زړهٔ کښی دے.“ دا د ایمان کلام دے چه مونږ یی بیانوو. ځکه کهٔ ستا په خُلهٔ دا اقرار وی چه عیسیٰ مالک دے اؤ په زړهٔ کښی دِ دا ایمان وی چه خدای هغه د مړو نه راپاڅولو نو تهٔ به خلاصون بیاموّی."
(رومیان ۱۰ : ۸-۹)

# عیسیٰ مسیح ناصری دے.

د یو منصوبې په تحت خدای په تاریخ کښې د خپلو خلکو یهودیانو په ذریعه په یو خاص ځائ ناصرت کښې د یو پاکې مور مریم نه پیدا شو. عیسیٰ په هر لحاظ یو کامل انسان وو. د هغهٔ یو ملیت، یو شخصیت، او یو پته یعنی د ترکاڼ دوکان وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما نه مهٔ ویریږئ. زهٔ ستاسو د ژوند د هغه لارې نه خبر یم کوم چه تیر شو.خو اوس په هغه لار د تللو کوشش وکړئ په کومه چه زهٔ ستاسو رهنمائی کوم...

"او چه په خوب کښې ورته دا خبر وشو نو هغه د ګلیل علاقې ته بیرته لاړو، هلته هغه په ناصرت نومې ښار کښې دیره شو. دا د نبیانو په وسیله د وئیلی شوی هغه خبرې ترسره کول وو چه: هغهٔ ته به ناصری وئیلے شی."
(متی ۲ : ۲۲-۲۳)

# عیسیٰ مسیح ضروری دے.

هغه ضروری او لازمی دے ځکه چه هغه ژوند دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... داسی یو ضرورت منتخب کړئ چه هغه تاسو د هر مشکل او طوفان نه بچ (اوباسی)کړی. داسی څیز منتخب کړئ کوم سره چه نور ټول کارونه هم په ښۀ طریقی سره روان شی. ما منتخب کړئ. زۀ تاسو ته وایم چه ما منتخب کړئ...

"مالک په جواب کښی ورته ووئیل، "مرتا! مرتا! تۀ د ډیرو څیزونو فکر آخستی یی اؤ هله ګله جوړوی. خو یو څیز ضروری دے او مریمی چه کومه حصه خوښه کړی ده، هغه غوره ده اؤ دا به د هغی نه هیڅکله وانۀ خستے شی."
(لوقا ۱۰ : ۴۱ ، ۴۲)

## عیسیٰ مسیح د خلاصون نوم دے.

د هغهٔ نوم مونږ د ګناه د طاقت او اثر نه بچ کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما نوم صرف لفظ نهٔ دے؛ بلکه دا د لفظ نه لوئ دے او کله چه تاسو زما نوم واخلئ نو مونږ یو شو. زما د پاک او تخلیق شوی ژوند ټولی فائدی ستاسو دپاره دی کله چه تاسو ما سره یو ځائ ګرځئ. او تاسو به د هغهٔ په شان شئ چا سره چه تاسو مینه کوئ...

"د بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه چه په ټوله دنیا کښی بل نوم هیچا ته نهٔ دے ورکړے شوے چه په هغی مونږ خلاصون ومُومو."
(اعمال د رسولانو ۴ : ۱۲)

## د عیسیٰ مسیح نوم د ټولو نومونو نه اعلیٰ دے.

هغه په فطری او جسمانی طور باندی د خدای خپله کلمه ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو ما وګورئ نو په سجده به شئ ــ او ستاسو غرور به ختم شی او تاسو به دا تسلیم کړئ چه هم زهٔ عظیم او د تکمیل ذریعه یم. قومونه به په سجده وی. خو زهٔ به تاسو ته خپل جلال وښایم او تاسو به ماسره د یو دوست، د یو ناوی او د یو فصل کټ کوونکی مزدور په شان خوشحالی کوئ...

"په دغه وجه خو خدای هم هغه ډیر سربلند کړو او هغهٔ ته یی هغه نُوم وبخښلو کوم چه د ټولو نومونو نه اعلیٰ دے، دپاره د دِ چه د عیسیٰ په نوم هر یو موجودات په سجده شی، خوا کهٔ په آسمانُونو کښی، یا په مزکه کښی، یا هغه چه د مزکی د لاندی وی، او د خدای پلار د جلال دپاره هره یوه ژبه اقرار وکړی چه عیسیٰ مسیح مالک دے."

(فیلیپیان ۲ : ۹-۱۱)

# عیسیٰ مسیح زمونږ نذرانه ده.

اګر کۀ مونږ د دِ قابل نۀ یو او نۀ مونږ سره داسی څۀ شته چه خدای پری خوشحاله شی او د هغۀ مرضی پوره شی، خو خدای پخپله خپله مرضی د عیسیٰ مسیح په وسیله پوره کړه. هغه فرمائی... زما د پلار خدای سره د تعلق په تحفه کښی ستاسو جواب دا دے چه تاسو خپل ژوند د هغۀ په وړاندی کیږدئ. ما ولټوئ او زۀ به خدای ستاسو په وسیله خوشحاله کړم. کله چه تاسو زما په لار باندی روان شئ، نو ستاسو هغه ټول روحانی خواهشونه، کوم چه ما تاسو له درکړی دی، هغه ټول به پورا شی...

"اے په خدای ګرانو بچو! کوشش کوئ چه د هغۀ په څیر لاړ شئ. او داسی مینه کوئ لکه چه مسیح تاسو سره وکړله او زمونږ دپاره یی خپل ځان د خوشبوئ په شان خُدای ته نذرانه کړو او قُربان شو."
(افسیان ۵ : ۱ ، ۲)

# عیسیٰ مسیح غالب دے.

هغۀ هر مشکل او شیطان مغلوب کړل، او د دنیا هغه ټول بدنی خواهشونه زمونږ نه لرې کوی کوم چه مونږ د خدای د لارې نه لرې (جدا) کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... خپل ځان کښې دننه او په دنیا کښې د شیطان نه نفرت وکړئ، خو د نفرت شوی خلکو صبر به په تاسو کښې نور ښۀ والے راولی. ماسره دعا وکړئ چه هغه ټول مخلوق او تاسو خپله، زما د جلال د خوشحالئ په رڼا او زما په خوشحالئ کښې داخل شی او غالب شی...

"هغوئ به د ګډورې سره جنګ وکړی خو ګډورے به په هغوئ غالب شی ځکه چه هغه د مالکانو مالک او د بادشاهانو بادشاه دے، او هغوئ هم ورسره دی چه بللے شوی، غوره شوی اؤ وفادار دی."
(مکاشفه ۱۷ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح د زیتون اونه ده.

د زیتون اونه او د دِ میوه به په اسرائیل کښې د خوراک، سوځولو، رڼا دپاره، ترکانئ، مرهم، او د دوائی په طور استعمالیده. دا هغه ضرورت وو کوم چه د څۀ مودی او د څو سوو کالو داسی په کثرت سره ډیریدو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د زیتون په غرۀ باندی ما تاسو دپاره دعا وکړه. زۀ د زیتون په باغ کښې ونیول شوم او مړ کړے شوم، خو زۀ بیا ستاسو دپاره راغلم. په ما کښې پیوست شئ او په ما کښې ترقی وکړئ...

"د هغۀ ډالیانی به خوریږی، او ښکلا به یی د زیتون د اونی او خوشبو به یی د لبنان په شان وی."
(هوسیع ۱۴ : ٦)

# عیسیٰ مسیح د مسح کولو تیل دی.

په زاړو وختونو کښې به د مسح تیل د پاکئ، د خوشبوئی، د میلمستیا، د خوشحالئ د اظهار کولو، د دوائ په توګه، او د مړی د ښخولو په وخت کښې، او د عبادت په وخت کښې استعمالیدۀ. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما هغه مسح حاصله کړئ کومه چه ما سره ستاسو دپاره ده. دا به ستاسو بدن او ستاسو دننه ټولو زخمونو ته شفا ورکړی او تاسو به د ماضئ د ټولو غلطیانو نه پاک کړی. زما په بادشاهئ کښې په خوشحالئ سره خپل ځائ حاصل کړئ...

"ستا د عطرو خوشبوی مزیداره ده، ستا نوم لکه د خالص عطرو په شان دے."
(د سلیمان غزلی ۱ : ۳)

# عیسیٰ مسیح فرمانبردار دے.

هغه د خدای مرضئ نه خبر وو نو دِ دپاره یی یواځی خپل ځان د هغه کارونو کولو او وئیلو دپاره وقف کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ایمان او فرمانبرداری څومره ساده دی خو دا هم مشکل دی. د خپلی غُصی په هغه احساساتو باندی قابو راولئ کومه چه تاسو ته په هغه وخت کښی درځی کله چه تاسو د خدای د لاری نه تیر شئ، نو بیا زما هغه لار ته راتاؤ شئ او پری لاړ شئ کومه چه د صلیب لار ده. او صرف هم دغه لاری باندی بیا ژوندی کیدل ممکن دی...

"څۀ وخت چه عیسیٰ په مزکه ژوند تیرولو نو هغۀ په زوره زوره چغی کړی اؤ اوښکی یی بهیدلی، خدای ته یی دُعاګانی او زارئ وکړی چا چه هغه له مرګ نه بچ کولے شو، اؤ خدای ترسئ اؤ د ځان وقف کولو په وجه خدای د هغۀ واؤریدل. او سره د زوی والی هغۀ تکلیفُونه د زغملو سره فرمانبرداری زده کړله. او چه کامل کړے شو نو د خپلو ټولو قرمانبردارانو دپاره د تل خلاصون باعث وګرزیدو."
(عبرانیان ۵ : ۷-۹)

جولائی ۱۱

# عیسیٰ مسیح اومیګا دے.

څنګه چه د هر شی ابتدا د هغهٔ نه شوی ده، هم دغسی د هر شی اختتام د هغهٔ نه دے. دا زمونږ ایمان دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو د دنیا نظام ګډوډ، د زمکی وسائل غلط استعمالول، او د عیسیٰ مسیح مخالفت په زیاتیدو وګورئ نو په هغی تاسو خوشحاله شئ ولی چه آخرت رانزدی شو. دعا کوئ چه په هغه تکلیفونو کښی څوک ماسره مینه کوی چه هغوی زما په نوی ابتدا کښی داخل شی. او تاسو هم په هغی کښی شامل شئ...

"نو ما ته یی ووئیل چه "وشو! الفه او اومیګه زهٔ یم، الاول اؤ آلاخر زهٔ یم. هر څوک چه تږے وی زهٔ به هغهٔ ته د ژوندن د اوبو له چینو نه د څښلو حق ویړیا ورکړم. هر څوک چه غالب شی هغه به د دِ وارث شی، زهٔ به د هغهٔ خدای یم او هغه به زما زوی وی."

(مکاشفه ۲۱ : ٦ ، ۷)

## عیسیٰ مسیح یو زوی دے.

هغه بی مثاله دے؛ د هغهٔ په شان بل هیڅوک نشته. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما په وسیله به ډیر خلک د خدای زامن شی، څوک چه په ما ایمان لری او ما قبلوی. دعا کوئ چه زما جلال ستاسو په وسیله په نورو خلکو وپرقیږی چه هغوی هم زما په کورنئ کښی شامل شی...

"نو کلام جُسه شو اؤ هغه زمونږ سره اوسیدو اؤ مونږ د هغهٔ لوئی ولیده، داسی لوئی لکه چه د پلار د یو زوی چه په فضل اؤ حقیقت معمور وی."
(یوحنا ۱ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح زمونږ نبی دی.

صرف هم هغه دے چه په تاریخ پوهیږی ځکه چه هغه د خدای پلار ټولی ارادی، وعدی او اعمال مونږ ته ظاهروی. هغه فرمائی... نن چه هر چرته بی‌ایمانی ده هلته زۀ د ډیر کم کولو قابل یم. داسی ځایونو ته لاړ شئ کوم ځائ کښی چه تاسو ته زما په ایمان کښی ترقی ملاویږی. داسی خلک ولټوئ څوک چه په ما کښی (ماسره) خوشحاله وی، او چا ته چه معلوم وی چه اوس د هغی نه هم لوئی معجزی کیږی کومی چه به زما په وخت کښی په ګلیل کښی کیدلی...

"اۇ بی شماره خلکو ورته جواب ورکړو چه "دا عیسیٰ نبی دے، د ګلیل د ناصرت نه." عیسیٰ بیا د خدای کور ته ورننوتو اۇ هغه ټول خلق چه د خدای په کور کښی یی سوداګری کوله، هغه یی وشړل، د خدای په کور کښی ورته ړاندۀ اۇ شل ګډ خلق راغلل اۇ دۀ هغوئ روغ کړل."

(متی ۲۱ : ۱۱ - ۱۲ ، ۱۴)

# عیسیٰ مسیح زموږ مشر کاهن دے.

هغه د خدای او انسان په مینځ کښې یو بې‌عیبه مینځګړے دے. د هغۀ مرګ هغه پرده وشلوله کومه چه د مقدس خدای او انسان په مینځ کښې وه چه د هغې په وسیله ایمانداران د خدای خدمت ته لاړ شی او دا واوری چه د هغۀ په زړۀ کښې د هغوی دپاره څۀ دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... اے شاهی کاهنانو، مقدس قومونو، زۀ تاسو ته دا وایم. چه تاسو ما غوره کړی یئ. ما نه زده کړئ چه د خپل مالک او ورور خدمت څنګه کول پکار دی. ځکه چه د دِ نه بل لوئی څۀ څیز نشته...

"خو مسیح د ښو څیزونو دپاره د مشرکاهن په طور راغے چه اوس موجود دے. په کومه خیمه کښې چه هغه خدمت کوی، هغه ډیره لویه اؤ کامله ده. انسان هغه خیمه نۀ ده جوړه کړی... بلکه خپله وینه یی واخسته اؤ په هغه پاک ترین مقام کښې یو ځل داخل شو اؤ په دِ یی د تل خلاصون وکړو."
(عبرانیان ۹ : ۱۱-۱۲)

جولائی ۱۵

# عیسیٰ مسیح د امن شهزاده دے.

هغه داسی حکمران دے چه د قومونو په مینځ کښی صلح او د سلامتی امکانات روښانه کوی او د خلکو ژوندونه محفوظه وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ اوس حکومت کووم. زما امن په ځان کښی پریږدئ. پریږدئ چه زما په طریقو ستاسو ټول اختلافات ختم شی. پریږدئ چه دا امن تاسو ته ستاسو د رشته دارو او د قومونو دپاره د دعا کولو فضل درکړی...

"هم دغه شان زمونږ دپاره یو هلک پیدا شو او مونږ ته یو زوئ راکړی شو چه سلطنت به د هغهٔ په اوږو باندی وی او د هغهٔ نوم به عجیبه مشیر، خدای قادر، د ابدیت پلار او د سلامتی شهزاده وی."
(یسعیاه ۹ : ٦)

# عیسیٰ مسیح طبیب (ډاکټر) دے.

هغه په شفا ورکولو کښې ډېر ماهر دے. عیسیٰ مسیح فرمائی، تاسو خپلو ټولو غمونو، تکلیفونو، غصو، نااُمیدو، او رنځونو سره ما ته راشئ. په مینی سره به زۀ ستاسو رنځونه ختم کړم او په نرمئ سره به ستاسو رشتی بحال کړم او تاسو به یو ځائ کړم...

"تاسو د محصولچیانو اؤ ګناه ګارو سره ولی خورئ او څښئ؟ عیسیٰ هغوئ ته جواب ورکړو چه، روغو خلکو ته د ډاکټر حاجت نۀ وی خو رنځورانو ته یی وی. زۀ د رښتینو خلقو دپاره نۀ یم راغلے بلکه د ګناه ګارو دپاره چه توبه وکړی."
(لوقا ۵ : ۳۰-۳۲)

## عیسیٰ مسیح د ژوندون مالک دے.

په مشکل وخت کښې خوشحالی، امن، او ابدی ژوند عیسیٰ هغوی ته ورکوی څوک چه هغه خپل مالک منتخب کړی. هغه فرمائی... ما خپلو شاګردانو ته فرمائیلی دی چه تاسو به زما په شان لوی لوی کارونه کوئ. او زهٔ نن خپل پیروی کوونکی سره هم دا وعده کوم. تاسو به زما د پیروئ کولو دپاره هر څهٔ پریږدئ خو زما قدرت چه په ګناه، بیماریانو او غمونو باندی غالب دے هغه به ستاسو په وسیله په نورو هم ظاهر شی. زر راشئ وخت کم دے...

"خو د ژوندون مالک مو ووژلو لیکن خدای هغه د مړو نه بیا ژوندے کړو اؤ مونږ د دِ خبرو شاهدان یو. دا سړے چه تاسو وینئ اؤ پیژنئ، د عیسیٰ د نوم په قوت ورله مضبوطی ورکړے شوه اؤ د هغهٔ په نوم د ایمان په وسیله جک جوړ شو."
(اعمال د رسولانو ۳ : ۱۵-۱۶)

جولائی ۱۸

# عیسیٰ مسیح زمونږ شفاعت کوونکے دے.

هغه همیشه زمونږ شفاعت کوی او زمونږ د مدد دپاره زمونږ نژدی ولاړ وی. هغهٔ زمونږ دپاره بل شفاعت کوونکے یعنی روح القدس راولیږلو چه زمونږ صلاح کار وی او چه مونږ د هغهٔ د قدرت په وسیله د ګواهئ ورکولو قابل شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د پینتیکاست نه وروستو مریدانو د ګواهئ ورکولو د طاقت دپاره دعا وکړه. د هغه دعا په بدل کښې ما هغوی بیا د روح القدس نه مالامال کړل. تاسو سره ډیر روح القدس نشته. د ډیر روح القدس حاصلولو دپاره دعا وکړئ...

"زما بچو! د دغو خبرو د لیکلو نه زما مطلب دا دے چه تاسو ګناه مهٔ کوئ، خو کهٔ چرې څوک ګناه وکړی نو د پلار سره زمونږ یو شفاعت کوونکے دے، یعنی عیسیٰ مسیح چه صادق دے."
(اول یوحنا ۲ : ۱)

# عیسیٰ مسیح زمونږ حفاظت کوونکے دے.

هغه زمونږ حفاظت کوی، مونږ بچ کوی، مونږ محفوظه وی مونږ له شفا راکوی او مونږ کاملوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... د دنیا ټول محفوظ ځیزونه به ختم شی. پولوس په ما باندی باور لرلو او په دِ وجه د هغۀ کشتئ په سمندر کښی تباه شوله، هغه ووهلے شو، او په جیل کښی واچولے شو. هغۀ هر تکلیف په خوشحالئ سره وزغملو او اوس ما سره ابدی بادشاهی کوی. کوم ژوند بچکوونکی تاسو منتخب کړو؟

"خو مالک زما مددګار وو اؤ هغۀ ما له دا طاقت راکړو چه زما په معرفت دا زیری په پوره طور خور شی اؤ ټول غیر یهودیان دا واؤری اؤ زۀ د زمری له کومی نه راخلاص کړے شوم. مالک به ما د هری بدئ نه خلاصوی اؤ خپلی آسمانی بادشاهئ ته به می په حفاظت رسوی. د هغۀ لوئی دِ تل تر تله وی آمین."
(دویم تیموتیوس ۴ : ۱۷ ، ۱۸)

# عیسیٰ مسیح صابر (زغمونکے) دے.

هغۀ ټول دردونه او تکلیفونه وزغمل او د دِ باوجود هغوی سره په نرمئ سره پیش راغلو چا چه هغۀ ته تکلیف ورکړے وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو دا نۀ شئ وئیلے چه اے پلاره هغوی معاف کړه نو بیا ما ته ووائی چه زۀ ستاسو په وسیله په هغوی خپله مینه ظاهره کړم. کله چه تاسو دا محسوس کړئ چه مونږ نور مخکښی نۀ شو تلے نو ما ته ځان راورسوئ نو زۀ به مو هلته نه بوزم...

"نو بیا چه د ګواهانو دومره لویه وریځ زمونږ نه چاپیره ده نو راځئ چه مونږ هم هر یو پیټی اؤ هغه ګناه چه مونږ په آسانئ سره نښلوی د ځان نه لری کړو، اؤ په هغه منډه کښی په صبر سره وزغلیږو چه مونږ ته وړاندی ده. او د ایمان بانی اؤ کاملوونکی عیسیٰ ته وګورو چه د هغی خوشحالئ په ځای چه د هغۀ د نظر د وړاندی وه، د شرمندګئ پرواه یی ونۀ کړه خو د سولئ تکلیف یی وزغملو اؤ د خدای د تخت په ښی لاس کښیناستو."
(عبرانیان ۱۲ : ۱ ، ۲)

## عیسیٰ مسیح د بادشاهانو سردار دے.

هغه د دنیا د ټول اختیارونو او طاقتونو حکمران دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو له اختیار د دِ دپاره درکړو چه تاسو د تیارو هغه حکمرانان ختم کړئ کوم چه ستاسو په ژمکه ځان ډیر اوچت ګڼی. هغوی زما د وینی په نۀ شلیدونکی رسو باندی وتړئ. خپلو رهبرانو دپاره دعا وکړئ چه هغوی زما تابع شئ او د خدای اطاعت وکړی...

"اؤ د عیسیٰ مسیح وفادار ګواه چه له مړو نه اول ژوندے پاځیدو اؤ د مزکی د بادشاهانو سردار دے. هغه مونږ سره مینه کوی اؤ مونږ یی د خپلی وینی په قربانئ له ګناهونو نه آزاد کړو."
(مکاشفه ۱ : ۵ ، ٦)

# عیسیٰ مسیح زمونږ فسح ده.

هغه زمونږ خوشحالی، یادګاره نشانی او هغه ګډوډے دے د چا په وسیله چه خدای مونږ د مرګ د فرښتی نه بچ کړی یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما وینه ستاسو د زړونو دروازی پټوی. په خوشحالئ او په ټوپونو د خدای شکر ګزاری وکړئ. او زما د هغه خلکو دپاره دعا وکړئ څوک چه زما د کټلو نه بغیر هم زما د بدن فسح کوی...

"زړه خمبیره وباسئ، ځانُونه پاک کړئ چه تاسو تازه اخښلی اوړهٔ جوړ شئ څکه چه تاسو بی خمبیری یئ، ولی چه زمونږ هم د فسح ګډوری، یعنی د مسیح قُربانی وشوه. نو راځئ چه مونږ اختر وکړو، نهٔ په زړه خمبیره اؤ نهٔ د بدئ اؤ شرارت په خمبیره بلکه په صفا زړهٔ اؤ د رښتیاؤ په بی خمبیری ډوډئ باندی."
(اول کورنتیان ۵ : ۷ ، ۸)

# عیسیٰ مسیح زمونږ صلح (امن) دے.

هغه د قومونو په مینځ کښې زمونږ او زمونږ د رشته دارو محافظ او آرام دواړه دی. هغه د یهودیانو او عیسایانو شالوم (سلامتی) ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... دا دنیا د خودغرضئ امن غواړی چرته هر څوک په خپله خپله لار ځی. زما د صلح (امن) مطلب دا دے چه تاسو د هغه لارو نه لری شئ د کومو لارو په وجه چه خلک ما نشی کتلے. زما صلح (امن) د دِ دپاره د ویری دیوالونه غورځوی چه مینه نوره زیاته شی...

"ځکه چه هم هغه زمونږ صلح ده، یعنی د یهودیانو اؤ د غیر یهودیانو. اؤ د جدائی کوم دیوال چه په مینځ کښې وو، هغه یی ونړوو، یعنی د شریعت هغه حکم چه د شریعت په طور وو، یی منسوخ کړو چه خپل ځان کښې د دواړو نه یو نوے انسان پیدا کړی او صلح راولی، اؤ د خپلی سولئ په وسیله دښمنی ختمه کړی."
(افسیان ۲ : ۱۴-۱٦)

## عیسیٰ مسیح یکی یو حاکم دے.

صرف واحد عیسیٰ دے چا سره چه د قابو کولو قدرت دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... د پیسو لالچ پریږدئ ځکه چه دا د شیطانئ جرړه ده. د رښتینئ، د وفادارئ، د ایماندارئ، د مینی، د نرم مزاجئ او د شریفئ په لار اختیارولو باندی زور وکړئ. ښهٔ د ایماندارئ کشتی وکړئ، او هغه ابدی ژوند په مضبوطئ سره ونیسئ د کوم دپاره چه تاسو راغوښتل شوی یئ. او زما قوت به تاسو د دِ قابل کړی چه زهٔ تاسو ته څهٔ وایم هغه به تاسو کوئ...

"چه زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح د ظاهریدو تر ورځې پوری حکم بی داغه اؤ بی الزامه ساته، کوم چه خدای په مناسب وخت ښکاره کوی، هغه چه مبارک یکی یو حاکم د بادشاهانو بادشاه اؤ د مالکانو مالک دے."

(اول تیموتیوس ٦ : ١۵ ، ١٦)

## عیسیٰ مسیح د خدای مرضی ده.

د هغهٔ فرمانبرداری او ذمه داری د خدای د خوشحالولو ذریعه ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما او د پلار خوشحالی یو ده، خو ما ستاسو دپاره په ځان ډیری سختی او مشکلات تیرکړل چه ستاسو دپاره هغه دروازه کولاؤ کړم د کوم په ذریعه چه به تاسو خدای داسی وپیژنئ لکه څنګه چه یی زهٔ پیژنم. ستاسو په پیژندګلو هغه خوشحالیږی او تاسو هم خپل ژوند د هغهٔ د خوشحالی دپاره ورکړئ او په دِ کښی ستاسو حقیقی خوشحالی ده...

"خو د خدای مرضی وه چه هغه وځپلے شی، هغه یی غمګین کړو. کله چه د هغهٔ ځان د ګناه دپاره نذرانه کیږی نو هغه به خپل نسل ته ګوری. د هغهٔ عمر به ډیر وی او د خدای مرضی به د هغهٔ د لاسونو په وسیله پوره شی."
(یسعیاه ۵۳ : ۱۰)

# عیسیٰ مسیح بانی دے.

صرف هم هغه دے چه زمونږ نه مخکښې لاړو او زمونږ دپاره یې لاره کولاؤ کړه. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ تاسو ته وایم چه زما پیروی کوئ. دخپلو زاړو څیزونو بوج او نوی زخمونه مۀ پریږدئ چه تاسو وروستو پاتی کړی. د ورځی په رڼا کښې سفر وکړئ، نو معافی به همیشه تاسو سره وی...

"نو بیا چه د ګواهانو دومره لویه وریځ زمونږ نه چاپیره ده نو راځئ چه مونږ هم هر یو پیتی اؤ هغه ګناه چه مونږ په آسانئ سره نښلوی د ځان نه لری کړو، اؤ په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلیږو چه مونږ ته وړاندی ده. اؤ د ایمان بانی اؤ کاملوونکی عیسیٰ ته وګورو چه د هغی خوشحالئ په ځای چه د هغۀ د نظر د وړاندی وه، د شرمندګئ پرواه یې ونۀ کړه خو د سولئ تکلیف یې وزغملو اؤ د خدای د تخت په ښی لاس کښیناستو."
(عبرانیان ۱۲ : ۱ ، ۲)

# عیسیٰ مسیح د خدای قدرت دے.

هغه یو معجزانه قوت دے په کوم کښې چه د هر کار کولو صلاحیت موجود دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما قدرت په تاسو کښې دے. په دی ایمان وساتئ چه کوم قدرت په تاسو کښې دے دا د ټولی دنیا د قدرتونو نه لوی او عظیم دے. ما پریږدئ چه د دعا په ذریعه تاسو د شیطان په قلعه ګانو باندی غالب کړم، او چه تاسو قیدیان آزاد کړئ او لوئ جشن وکړئ...

"دغه شان یهودیان د نخښې طالبان دی اؤ یونانیان د حکمت په لټون. خو مونږ په سولئ شوی مسیح زیرے ورکوو چه د یهودیانو په نزد ټکره اؤ د غیرقومونو په نزد بی وقوفی ده. خو څوک چه رابللے شوی دی، کۀ هغه یهودیان وی کۀ یونانیان، د هغوئ په نزد مسیح د خدای قدرت اؤ د خدای حکمت دے."
(اول کورنتیان ۱ : ۲۲-۲۴)

# عیسیٰ مسیح انعام دے.

هغه د منډې په اختتام کښې د اچولو نه مړاوی کیدونکی سهرا ده. په هغه کښې زمونږ ټولې تیارئ، انتظامات، او کوششونه د خدای په هغه وعده کښې یو ځائ کار کوی کومه چه زمونږ د فائدی دپاره ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... پریږدئ چه زما روح او کلام تاسو د خدای د کارونو دپاره تیار کړی. تاسو د خپلو خوبونو نه هم ډیر څۀ کولې شئ... او د ورکولو دپاره زما مینه تاسو سره ده...

"زما وروڼو! زما دا خیال نۀ دے چه نیولې می دے، بلکه صرف دا کوم چه کوم څیزونه وروستو پاتی شول هغه هیروم، اؤ د وړاندی څیزونو دپاره په مخه. د مقصد په طرف په منډه یم چه هغه انعام حاصل کړم چه د کوم دپاره چه مونږ خدای د عیسیٰ مسیح په وسیله آسمانی ژوند ته بللی یو."
(فیلیپیان ۳ : ۱۳ ، ۱۴)

# عیسیٰ مسیح د یهوداه زمرے دے.

هغه د داؤد د نسل زورآور او نۀ شکست خوړونکے او د اسرائیل سره د شوی وعدی بادشاه دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما خومره خواهش دے چه د خپلو خلکو شرم، قتل وګورم او پټ یئ کړم او د یو تکړه بادشاه په شان د هغوی د خواهشونو جواب ورکړم. هغه ورځ راتلونکی ده او تاسو ټول به وګورئ. او د هغه ورځ دپاره تیاری زما په پیژندګلو او نورو خلکو ته د وئیلو په وسیله وکړئ...

"خو په مشرانو کښی یو راته ووئیل چه "ژاړه مه ځکه چه د یهوداه د خیل زمرے چه د داؤد د اصل نه دے، هغه بریالے شوے دے چه کتاب پرانزی اؤ اووۀ مهرونه یی مات کړی."
(مکاشفه ۵ : ۵)

# عیسیٰ مسیح پاکوونکی دے.

څوک چه د هغهٔ د اور بپتسمه واخلی نو هغه پاک او صفا شی. هغه مونږ د وړوکی ماشوم په شان پاک او صفا کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... خپل هر څهٔ ماله راوړئ. هم اوس زما د اور طلبګار شئ چه په تاسو کښی هغه هر څهٔ کوم چه زما نهٔ دی هغه وسوځی، او تاسو پاک او صفا شئ. ټول بوس وسوځوئ او زما د خالص سروزرو، او قیمتی کاڼرو دپاره په خپل کور کښی کوټه جوړه کړئ...

"او هغه به د سپینوزرو د ویلی کوونکی او پاکوونکی په شان کښینی او د لاوی زامن به د سرو او سپینو په شان پاک کړی چه هغوی په صداقت سره د خدای په حضورئ کښی هدیئ ورکړی."
(ملاکی ۳ : ۳)

## عیسیٰ مسیح یو ډیره غوره مرغلره ده.

د هغهٔ د حاصلولو دپاره مونږ ته پکار دی چه خپل هر څهٔ خرڅ کړو. د هغهٔ د کاملی مینی حاصلولو او د خدای د مرضی پوره کولو دپاره کهٔ مونږ ته د هر څهٔ کولو ضرورت وی نو پکار دی چی ویی کړو کهٔ دا څومره هم قیمتی وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څوک چه زما تلاش کوی هغوی به ما پیدا کړی. څوک چه زما دپاره خپل هر څهٔ خرڅ کړی هغوی ته به د هغی نه ډیر ملاؤ شی. او څوک چه زما دی زهٔ به هغوی باندی د ښکلا، پړقه او بریښنه په شان امن راولم...

"د آسمان د بادشاهئ دا یو بل مثال دے چه یو سوداګر د ښو مرغلرو په تلاش کښی وو. هغهٔ یوه ډیره غوره مرغلره ومونده اؤ د هغی د حاصلولو دپاره یی خپل هر څهٔ خرڅ کړل اؤ هغه یی واخسته."
(متی ۱۳ : ۴۵ ، ۴۶)

# عیسیٰ مسیح سورے کړے شوے دے.

د هغهٔ په پښو او لاسونو کښې میخونه ټک وهلے شول. د هغهٔ پوښتئ په تورا ووهلے شوی، او د هغهٔ وینه او اوبهٔ، او د هغه ژوند په زمکه باندی زمونږ دپاره وبهیولے شول. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما ته وګورئ او په دِ پوهه شئ چه زما مینه ستاسو دپاره ابدی ده. په ما سوری شوی نظر وکړئ او وګورئ چه زهٔ خپل غوره شوی خلک یهودیان څومره خوښوم. او سخته زمکه د خپلو اوښکو په تویولو نرمه کړئ...

" او زهٔ به د داؤد په کورنئ او د یروشلیم په خلکو د فضل او مناجاتو روحونه نازل کړم او هغوی به په هغهٔ نظر کوی د چا لاسونه چه هغوی سوری کړی وو او د هغهٔ دپاره به داسی ماتم کوی لکه څنګه چه خلک خپل یو زوئ دپاره کوي."
(زکریا ۱۲ : ۱۰)

# عیسیٰ مسیح د ستائینی وړ (قابل) دے.

د هغهٔ د تخت نه ګیرچاپیره فرښتی او په زرګونو ایمانداران د دِ خبری اعلان کوی چه عیسیٰ مسیح د ټول قدرت، حکمت، بزرګئ، طاقت او جلال وړ (قابل) دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو هغوی سره ملاو شئ چا چه د مرګ تجربه حاصله کړی وی او د ستائینی لایق وی نو تاسو ته به د دِ دنیا د غمونو نه آزادی، نوی مقصد، زما د ګواهئ دپاره نوی طاقت، او نوی خوشحالی ملاؤ شی...

"نو د خدای سلامتی چه د پوهی نه بیخی بهر ده، ستاسو زړونه اؤ خیالونه به د مسیح عیسیٰ په یووالی کښی محفوظ وساتی. نو اوس اے ورونړو! څومره خبری چه رښتیا دی اؤ څومره خبری چه د شرافت دی، څومره خبری چه واجبی دی اؤ څومره خبری چه پاکی دی، او څومره خبری چه مینه ناکی دی اؤ څومره خبری چه ښایسته دی، غرض دا چه کومی د نیکئ اؤ ستائینی خبری دی، په هغو غور کوئ. (فیلیپیان ۴ : ۷ ، ۸)

## عیسیٰ مسیح قیمتی دے.

د هغهٔ رتبه ډیره اوچته او عظیمه ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو ولی خپلی پیسی په داسی څیزونو باندی خرابوئ کوم چه په یو کال کښی زړیږی او ختمیږی؟ ولی داسی څیزونه قیمتی ګڼئ کوم چه چنجی، خاوری او زنګ خرابوی؟ خپل ژوند او رشتی په هغه شریفو څیزونو جوړی کړئ کوم چه په پیسو نهٔ اخیستل کیږی او په ما باندی ځان تعمیر کړئ. کله چه تاسو وګورئ چه زما زړهٔ د دِ دنیا د خلکو دپاره ستاسو دپاره او ستاسو په همسایه کښی د بی لارو شوو دپاره ژاړی نو ستاسو زړونه به هم په ژړا شی او داسی به زما د کور تعمیریدل شروع شی...

"د دِ دپاره خدای فرمائی. ګورئ زهٔ به په صیون کښی یو کاڼے د بنیاد دپاره کیږدم. کوم چه به آزمائیلی شوی، مضبوط، او د ګوټ د سر کاڼے وی او څوک چه په هغهٔ ایمان راوړی هغه به همیشه قایم او آباد وی."
(یسعیاه ۲۸ : ۱٦)

# عیسیٰ مسیح پوهیدونکی دی.

هغۀ ته زمونږ د زړۀ خیالونه او حرکتونه معلوم دی. هغه مونږ ډیر ښۀ پیژنی. عیسیٰ مسیح فرمائی، تاسو خپلو ځانونو نه کم عقل جوړوئ خو زۀ تاسو ډیر ښۀ پیژنم او تاسو سره مینه کوم. زما صداقت په ځان کښی پریږدئ او زما مینه به تاسو معاف کړی او تاسو ته به شفا درکړی. دا زۀ کولے شم...

"خو عیسیٰ په دِ پوهه وو چه دوئ څۀ خیال کوی نو جواب یی ورکړو چه "تاسو په خپلو زړونو کښی داسی خیالونه ولی کوئ؟ آیا دا آسانه ده چه څوک ووائی چه ستا ګناهونه معاف شو اؤ کۀ دا چه پاڅه اؤ وګرزه؟ خو دا د دِ دپاره چه تاسو ته معلومه شی چه ابن آدم په مزکه د ګناهونو معاف کولو اختیار لری." هغه شل سړی ته مخ ورواړوو او، وی وئیل چه: زۀ تا ته دا وایم چه ودریږه، خپل کټ واخله اؤ کور ته ځه."

(لوقا ۵ : ۲۲-۲۴)

# عیسیٰ مسیح کامل دے.

هغه په هره طریقه پوره او کامل دے. هغه د خدای ټول خواهشونه په خوشحالئ پوره کړل او هغه بالکل بی عیبه او بی نُقصه دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ به تاسو ته خپلی طریقی وښایم او تاسو به کامل کړم او تاسو به د هغه خلکو سره یو ځائ د هغه کامل بدن حصه جوړه کړم د کوم چه زهٔ سر یم...

"او هغه څنی رسولان، څنی نبیان اؤ څنی یی زیری آؤروونکی اؤ څنی شپانهٔ اؤ استاذان مقرر کړی دی، د دِ دپاره چه د خدای خلک د خدمت دپاره تیار شی اؤ د مسیح بدن په مونږ کښی وده ومومی، تر څو چه مونږ ټول په ایمان راوړلو کښی یو شو اؤ د خدای زوی په ښهٔ شان وپیژنو. دغسی به مونږ په ایمان کښی بالغان شو، یعنی د مسیح په شان به کامل شو."
(افسیان ۴ : ۱۱-۱۳)

## عیسیٰ مسیح خالص (مخلص) دے.

هغه د هغه څیزونه نه پاک دے کوم چه خرابوونکی او ګنده کوونکی دی. هغه د هغه سرو په شان خالص دے کوم چه په اور باندی د ویلی کیدو نه پس پاتی شی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو ما ته ګوری او زما په شان د کیدلو خواهش کوئ نو تاسو نه به پخپله عیبونه لری شی او وبه سوځی. کله چه تاسو نورو ته زما په نظر وګورئ نو هغوی به هم د هغه سوځیدونکی مینی په ذریعه پاک شی. زهٔ یو ناوی تیاروم کومه چه به خالصه او بیعیبه وی...

"ستا کلام پاک او خالص دے په دِ وجه ستا د بنده دِ سره مینه ده."
(زبور ۱۱۹ : ۱۴۰)

# عیسیٰ مسیح په عذاب کړے شوے دے.

هغه په خپل زمکی ژوند کښی وعذابولے شو، غم زده شو، او په ډیر سخت مرګ مړ شو. نن هم د دنیا په مختلفو حصو کښی د عیسیٰ مسیح بدن په زمکه باندی عذابولے کیږی. عیسیٰ مسیح فرمائی... پلاره دوئ معاف کړه. ځکه چه دوی نه پوهیږی چه دوی څۀ کوی! د هغوی سره مینه کوی چا چه زما مینه نۀ ده کتلی. د هغوی دپاره دعا کوئ چه هغوی په تاسو کښی هغه رښتیا او رڼا وګوری کومه چه ساول په ستفانوس کښی لیدلی وه او کوم چه مرګ او عذاب هم د هغۀ نه لری نۀ کړل...

"ما چه څۀ ووئیل، دا یاد لرئ، یو غلام د مالک نه لوی نۀ دے. لکه څنګه چه یی زۀ وعذابولم دغسی په تاسو هم وعذابوی. کۀ هغوئ زما په کلام عمل وکړی ستاسو په کلام به هم عمل وکړی. دوئ به زما د نوم په سبب د تاسو سره داسی سلوک وکړی ځکه چه هغوئ هغه نۀ پیژنی چه زۀ چا رالیږلے یم."
(یوحنا ۱۵ : ۲۰ ، ۲۱)

# عیسیٰ مسیح ژوند ورکوونکے روح دے.

هغه مونږ ته ډیر ژوند راکوی او د مرګ نه وروستو به مونږ ته د خپل بدن په شان نۀ ختمیدونکے بدن راکوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو ولی هره ورځ یو شان کار کوی؟ تاسو ولی د ډیر ژوند حاصلولو کوشش کوئ؟ په ما کښې ستاسو ژوند د مختلف مشکلاتو نه ډکیږی خو دا به زۀ هم ستاسو په وسیله تکمیل کوم. په ما کښې ستاسو ژوند د راتلونکو واقعاتو دپاره د تیارئ میدان دے. اوس زما د ژوند نه خوند واخلئ...

"هم دغه شان لیکلی دی. "اول سړے، یعنی آدم ژوندی نفس جوړ شو، خو آخری آدم ژوندون ورکونکے روح جوړ شو." "
(اول کورنتیان ۱۵ : ۴۵)

# عیسیٰ مسیح ژوند ورکوونکی دے.

هغه مونږ ژوندی کوی، او مونږ له ډیر او کامل ژوند راکوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو زما په دروازه په شکرګزارئ سره او زما عدالت ته په حمدوثنا سره راننوزئ نو ستاسو روح، ذهن او بدن به د حقیقی ژوند نه ډک شی. تاسو خپل ځانونه زما د خوشحاله روح نه ډک کړئ او د هغوی دپاره وژاړئ ځوک چه ما له نۀ دی راغلی. ستاسو اوښکی به د هغوی زړونه نرم کړی او هغوی به زما د راتلو قابل کړی...

"لکه چه پلار مړی پاځوی اؤ هغوئ له ژوند ورکوی دغه شان زوی هم هر چا له چه غواړی ژوند ورکوی. بیا دا چه پلار د یو کس هم عدالت نۀ کوی بلکه دا اختِیار یی هم زوی ته سپارلے دے. اؤ دا د هغۀ مرضی ده چه ټول دِ دَ زوی هم په هغه شان عزت کوی لکه چه د پلار یی کوی. ځوک چه د زوی عزت نۀ کوی هغه د پلار عزت نۀ کوی چه هغه یی را استولے دے."
(یوحنا ۵ : ۲۱-۲۳)

# عیسیٰ مسیح خلاصوونکے دے.

کله چه مونږ د ګناهونو په وجه د شیطان غلامان وو نو زمونږ ورور عیسیٰ مسیح مونږ د دِ دپاره د خپلی وینی په وسیله واخستو چه مونږ خدای او د هغهٔ لاری وپیژنو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ستاسو د شیطان نه آزادی، ستاسو صحت، ستاسو خوشحالی، زما د پیژنګلو فایدی، د روح القدس نعمتونه او میوی دا داسی ځیزونه دی چه کله دا تاسو استعمال کړئ نو د دِ په وسیله به نور ډیر خلق ما وپیژنی. زما په فصل کټ کوونکی مزدورانو کښی په لیوالتیا سره زما لټون وکړئ. ما سره ستاسو مزدوری زما ابدی دوستی ده...

"مسیح مونږ په بیعه واخستو اؤ د شریعت د لعنت نه یی راخلاص کړلو ځکه چه هغه زمونږ دپاره لعنتی شو، ځکه چه په صحیفه کښی لیکلی دی چه "څوک چه په لرګی ځوړند کړے شو هغه لعنتی دے." دا ځکه وشو د دِ دپاره چه هغه برکت چه خدای ابراهیم ته د ورکولو وعده کړی وه، د مسیح عیسیٰ په وسیله غیریهودیانو ته هم ورسی، اؤ مونږ د ایمان په وسیله هغه روح القدس حاصل کړو د کوم چه خدای وعده کړی ده."
(ګلتیان ۳ : ۱۳-۱۴)

# عیسیٰ مسیح جوړونکی دے.

هغه د هغه زړو دیوالونو مضبوطوونکے او بیا آبادونکے دے کوم چه د دنیا شیطانی طاقتونه قابو کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... د فخر او طرفدارئ دیوالونه به ضرور وغورځولے شی. او نور به بیا جوړ کړے شی. په خپلو زړونو کښې وګورئ چه په تاسو کښې داسې څۀ څیز مات دے کوم چه د خدای خوښ دے. دا دیوالونه به زۀ په تاسو او خپل بدن کښې بیا جوړ کړم. زما کلام ترازو دے. ماسره تعمیر شئ...

"او ستا خلک به زاړۀ او ویران کورونه جوړوی او تۀ به زاړۀ بنیادونه راوچت کړې. او تا ته به خلک د چاودنو بندوونکے او د آبادئ دپاره لاره جوړونکې وایئ."
(یسعیاه ۵۸ : ۱۲)

# عیسیٰ مسیح د صداقت څانګه ده.

عیسیٰ هغه واحد یهودی دے چا چه د خدای هغه ټول شریعت پورا کړو کوم چه هغهٔ اسرائیل ته ورکړے وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... خپل ځانونه په ما کښې او زما په کلام کښې ډوب کړئ چه تاسو پوهه شئ چه خدای په څهٔ باندی خوشحالیږی. ما ته ستاسو د زړونو سوچونه او خواهشونه معلوم دی. زهٔ تاسو پاک کوم او تاسو د هغه څیزونو د کولو قابل وم کوم چه صحیح دی...

"ګورئ هغه ورځی راتلونکی دی خدای فرمائی چه زهٔ به د داؤد دپاره یو صادقه څانګه پیدا کوم او هغه به په ملک کښې بادشاهی په اقبالمندئ او عدالت او انصاف سره کوی. د هغهٔ په ورځو کښې به یهوداه نجات حاصل کړی. او اسرائیل به په امن سره وی او هغهٔ ته به د خدای صداقت وئیلے کیږی."
(یرمیا ۲۳ : ۵ ، ٦)

## عیسیٰ مسیح پاکوونکی (زرگر) دے.

د هغهٔ د اور بپتسمه مونږ پاکوی او مونږ نه ټولی ناپاکئ ختموی چه زمونږ بدن د ژوندئ قربانئ په شان قبول شی او چه خدای پری خوشحاله شی. عیسیٰ مسیح فرمائی... آیا ستاسو زړونه نهٔ سوځی کله چه تاسو زما آواز واورئ؟ آیا زهٔ تاسو باندی خپل پاکوونکی اور په مختلفو حالاتو کښی نهٔ ظاهروم؟ زهٔ تاسو هغه وخته پوری پاکووم تر څو پوری چه تاسو کښی هر څهٔ د خدای د مرضئ په مطابق نهٔ وی شوی...

"او کله چه هغه راښکاره شی نو څوک به د هغهٔ په وړاندی اودریږی. ځکه چه هغه د زرګر د اور او د کپړو وینځونکی صابون په شان دے. او هغه به د سپینوزرو د ویلی کوونکی او پاکوونکی په شان کښینی او د لاوی زامن به د سرو او سپینو په شان پاک کړی چه هغوی په صداقت سره د خدای په حضورئ کښی هدیئ ورکړی."
(ملاکی ۳ : ۲-۳)

## عیسیٰ مسیح زمونږ پناه ګاه ده.

هغه زمونږ پناه او زمونږ امید دے. په هغهٔ زمونږ دا ایمان دے چه هغه مونږ د هرى خطرى او تکلیف نه بچ کوونکے دے. عیسیٰ مسیح فرمائى... ما ته راشئ چه تاسو نه هغه هر څهٔ لرى کړم کوم چه د خدای له طرفه نه دی. ما ته راشئ چه تاسو د شیطان د غصى، او د هغهٔ د اور او لمبو وهونکو غشو نه بچ کړم. زما حضورى او زما جلال ستاسو پناه، او ستاسو خوشحالى ده...

"کله چه خدای د صیون د لوریانو ګندګى لرى کوى نو د یروشلیم وینه به د انصاف په روح او د سوځوونکى روح په وسیله وینځى. نو بیا به د صیون په هر کور کښې او مجلسونو کښې د ورځى وریځى او د شپى رڼا پیدا کیږى. او ټول جلال به د یو چترئ په شان وى. او یوه خیمه به وى کومه به چه د ګرمئ په ورځو کښې د سورى ځائ او د طوفان او جهړئ په وخت کښې د آرام او پناه ځائ وى."
(یسعیاه ۴: ۴-۶)

## عیسیٰ مسیح زمونږ حکمران دے.

څنګه چه یو شپون د خپلو ګډو سره نرمی کوی، او د خپلو ګډو دښمنانو سره په مضبوطئ او تیزی سره جګړه کوی دغسی زمونږ حکمران عیسیٰ مسیح هم دے. هغه فرمائی... زما ټول اختیار د رحم برابر دے. هم دغه شان تاسو هم کوئ کۀ چری تاسو خپل ځان زما په حکمرانئ کښی شمارئ. پریږدئ چه زما لاری او طریقی ستاسو په جذباتو او خیالونو باندی حکومت وکړی. زما طریقی او لاری به په تاسو کښی په خپل ځان د قابو راوستلو میوه پیدا کړی...

"لکه څنګه چه ټول خلک چه د آدم اؤلاد دی، مری، هغه شان څوک چه د مسیح دی ټول به ژوندی کړے شی. خو هر یو به په خپل خپل وار، اول مسیح، بیا د مسیح په راتلو د هغۀ خلق. بیا به آخرت راشی، اؤ کله چه مسیح ټول حکومتونه اؤ ټول اختیارونه او قدرتونه نشت کړی نو بادشاهی به خدای، یعنی خدای پلار ته په حواله کړی. ولی چه تر څو چه مسیح ټول دښمنان تر پښو لاندی نۀ کړی هغۀ له بادشاهی کول ضروری ده."
(اول کورنتیان ۱۵ : ۲۲-۲۵)

## عیسیٰ مسیح زمونږ صداقت دے.

هغه مونږ خپل منصف پلار ته بیعیبه او بیګناه وړاندی کوی. هغه مونږ د دِ قابل کوی چه مونږ د هغۀ هغه فطرت په ځان کښی راولو کوم چه د خدای د حکمت او اخلاقی اصولو په مطابق دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... څوک هم زما نه بغیر صادق نشته، خو ډیر په خپل نظر کښی صحیح کار کوی. په خپل ځان باندی زما د حضورئ څادر واچوئ. اوګورئ، واورئ، بوئی کړئ، اوڅکئ او زما د حکمت او نیکئ په رڼا د دِ دنیا او د ځان دپاره سوچ وکړئ...

"ګورئ هغه ورځی راتلونکی دی خدای فرمائی چه زۀ به د داؤد دپاره یو صادقه څانګه پیدا کوم او هغه به په ملک کښی بادشاهی په اقبالمندئ او عدالت او انصاف سره کوی. د هغۀ په ورځو کښی به یهوداه نجات حاصل کړی. او اسرائیل به په امن سره وی او هغۀ ته به د خدای صداقت وئیلے کیږی."
(یرمیا ۲۳ : ۵ ، ٦)

# عیسیٰ مسیح قیامت دے.

په هغۀ کښې مړې ژوندې کیږی او نوے ژوند حاصلوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زمونږ د ژوند مقصد هغوی ټولو سره یو ځائ د خدای جلال، خوشحالی او تعریف بیانول دی څوک چه هغۀ ته پلار وایی. زۀ څنګه د هغه خلکو دپاره اوښکی وبهیوم څوک چه د دِ دنیا د څیزونو سره خوشحالیانی کوی. د خپلو اوښکو په ذریعه هغوی زما نژدی راولئ...

"عیسیٰ ووئیل، زۀ قیامت یم اؤ زۀ ژوندون یم. کۀ څوک په ما ایمان لری کۀ هغه مړ هم شی نو هغه به بیا ژوندے وی. اؤ کۀ څوک چه ژوندے دے اؤ په ما ایمان لری هغه به هیڅ کله هم مړ نۀ شی. آیا ستا په دِ ایمان دے څۀ؟"
(یوحنا ۱۱ : ۲۵ ، ۲٦)

# عیسیٰ مسیح صادق دے.

هغه په خپل کردار، عمل او انصاف کښې پاک (صحیح) دے. هغه پاک او بی‌ګناه دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ صادق منصف او تاسو سره مینه کوونکے یم. زۀ ستاسو هر خیال او کار ګورم. دا مۀ وایئ چه ما تاسو نه بدئ نۀ دی لری کړی، بلکه ما تاسو نه بدئ د خپلې وینې په تویولو او د خپلو دردناکو ساه ګانو په وسیله لرې کړې دی. په خپل ځان کښې د شیطان نه نفرت وکړئ نو بیا زما وینه هم ستا د آزادولو دپاره کافی ده...

"اے بچو! اوس هم په هغۀ کښې شراکت ولرئ، ځکه چه هر کله چه هغه ښکاره شی نو مونږ به په زړۀ ورتیا سره د هغۀ په راتلو د هغۀ په وړاندې شرمنده نۀ یو. کۀ تاسو په دِ خبر یئ چه مسیح صادق دے نو تاسو په دې پوهه شئ چه هر څوک چه صداقت کوی د خدای بچی شی."
(اول یوحنا ۲ : ۲۸ ، ۲۹)

آګست ۱۹

# عیسیٰ مسیح خوشحالی ده.

هغه د ډیری خوشحالئ او سربلندی نه د خوشحالئ توپونه وهی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما خپل ایمان لرونکو ته په شیطان او د هغه په قلعو باندی قدرت ورکړے دے. دا ډیره لویه خبره ده کله چه تاسو خپل قدرت استعمالول زده کړئ. خو چه زهٔ دا وګورم نو ما ته خوشحالی ملاویږی چه کله تاسو په ما باندی د یو ماشوم په شان ایمان ولرئ او په دِ پوهه شم چه تاسو ماسره او هم خپل ګاونډیانو سره په خپل ټول زړهٔ، ځان، عقل او پوره قدرت سره مینه کوئ...

"هم په دغه وخت عیسیٰ په روح القدس لویه خوشحالی وکړه اؤ عیسیٰ ووئیل، اے پلاره! د آسمان اؤ مزکی مالکه! زهٔ ستا شکر کوم چه دا خبری دِ د هوښیارانو اؤ پوهانو نه پټی کړلی اؤ ماشومانو ته دِ ښکاره کړلی. اے پلاره! دا ستا رضا وه."
(لوقا ۱۰ : ۲۱)

# عیسیٰ مسیح رد کړے شوے دے.

هغه وخت او نن هم هغه نفرت شده، ناخوښ شوے، رټلے شوے، وهلے شوے او رد کړے شوے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ډیرو زما آواز واوریدو خو ما پسی د راتلو نه یئ انکار وکړو. ډیرو زما کلام واوریدو او په هغه پوری یی توقی وکړی او خپلی لاری یی زما د لارو نه ښهٔ وګڼلی. نن زهٔ تاسو ته هم دا وایم چه ما سره یو ځائ شئ نو بیا به هغوی تاسو نه هم نفرت وکړی او رد به مو کړی. قیمت یی وشماره چه دا پوره دی یا نهٔ دی...

"لکه د آسمان بریښنا چه د مزکی د یو سر نه تر بل سره رسی، دغه شان به ابن آدم په خپله ورځ وی. خو اول به هغه خامخا ډیر مصیبت وزغمی اؤ دا پیړئ به یی رد کوی."
(لوقا ۱۷ : ۲۴ ، ۲۵)

# عیسیٰ مسیح بادشاهی کوی.

هغه د دِ دنیا په ټولو حکومتونو او په ټولو نۀ ښکاریدونکو او ښکاریدونکو څیزونو باندی اختیار لری. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما پریږدئ چه ستاسو په ژوند حکومت وکړم. کله چه تاسو زما د مشوری نه بغیر څۀ وکړئ نو د هغی نتیجه به ګډه وډه وی. زۀ ټول څیزونه برابروم او په ترتیب کوم. تیار اوسئ او په دِ پوهه شئ چه زۀ خدای یم او تاسو ما سره په خوشحالئ سره یو ځائ شئ او ما سره کار وکړئ...

"دا خبری ربښتیا دی چه: کۀ مونږ د هغۀ سره مړۀ شوو نو د هغۀ سره ژوندی هم شوو. کۀ مونږ سختئ وزغمو نو د هغۀ سره به بادشاهی هم کوو، کۀ مونږ هغه رد کړو نو هغه به مونږ هم رد کړی. کۀ مونږ بی وفا شو خو هغه به وفادار پاتی شی، ځکه چه هغه د خپل ذات نه خلاف هیڅ نۀ شی کولے."
(دویم تیموتیوس ۲ : ۱۱-۱۳)

# عیسیٰ مسیح د ژوند د کتاب (کتاب حیات) لوستونکے دے.

هغه د هغی بندی دروازی د کولاولو قابل دے کوم چه په باغ عدن کښی بنده شوی وه ځکه چه هغه مخلص او د مرګ دپاره تابعدار دے. هغه په دِ ډیر خوشحاله دے چه د ایمان په وسیله زمونږ نومونه د ژوند په کتاب (کتاب حیات) کښی درج کیږی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ ستاسو د زړونو نه واقف یم. دا زما دپاره کولاؤ دی. زهٔ په دِ هم پوهیږم چه ستاسو په زړونو څهٔ لیکلے شوی دی. پریږدئ چه زما کلام ستاسو نه ګندګی پاکه کړی او چه زما او ستاسو زړونه د همیشه په ژوند کښی په مضبوطئ سره یو ځائ شی...

"زما اوښکی بهیدلی ځکه چه هیڅوک هم د دِ لائق نهٔ وو چه دا کتاب یی پرانستلے شو یا چه یی ورته کتلے شو. خو په مشرانو کښی یو راته ووئیل چه "ژاړه مه ځکه چه د یهوداه د خیل زمرے چه د داؤد د اصل نه دے هغه بریالے شوے دے چه کتاب پرانزی اؤ اُووهٔ مهرونه یی مات کړی."" (مکاشفه ۵ : ۴ ، ۵)

# عیسیٰ مسیح زمونږ فدیه ده.

د هغهٔ ژوند او په صلیب باندی مړ کیدل د شیطان د قوت نه، د ګناه نه، د بیمارو نه، او د مرګ نه زمونږ د آزادئ قیمت دے. هغه د خپلی وینی په وسیله په مونږ د شیطان ټول قرض خلاص کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... خپل خلاصون قبول کړئ. زما معافی حاصله کړئ. ما سره یو داسی نوی رشته جوړه کړئ او داسی خوشحالی اوکړئ لکه څنګه چه یو غلام د غلامئ نه په آزادیدو سره کوی. ستاسو خوشحالی به په نورو خلکو ظاهره شی او تاسو به خپل ځانونه د هغوی دپاره ورکړئ څوک چه ما تاسو ته ښودلی دی او د هغوی ټولو دپاره دعا کوئ...

"خو ستاسو دپاره داسی نهٔ دی. په تاسو کښی چه څوک مشری غواړی هغه دِ ستاسو خدامتګار شی. اؤ څوک چه په تاسو کښی اول کیدل غواړی هغه دِ د ټولو غلام شی. ځکه چه ابن آدم هم د دِ دپاره نهٔ دے راغلے چه خدمت واخلی بلکه د دِ دپاره راغلے دې چه دِ د نورو خدمت وکړی اؤ چه خپل ژوندون د ډیرو په بدل کښی په فدیه ورکړی."
(مرقوس ۱۰ : ۴۳-۴۵)

# عیسیٰ مسیح زمونږ صلح کوونکے دے.

کومه جدائی چه د ګناه په وجه د انسان او د خدای په مینځ کښې راغلې وه هغه د عیسیٰ مسیح په صلیب باندې د مړکیدلو او د هغهٔ د قربانۍ په وسیله ختمه شوه. ټولو یهودیانو او یونانیانو ته خپل حقیقي ژوند او هغه روحاني کورونه ملاؤ شو چرته چه عیسیٰ مسیح مالک دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه ما هغه دیوالونه وغورځول کومو چه تاسو د نورو خلکو نه جدا کولئ، نو ما تاسو د دِ قابل کړئ چه تاسو ما په هغه خلکو کښې وګورئ کوم چه ما سره مینه کوی. د خپلو سترګو نه د ملک، نسل، او ذات پردی لرې کړئ او په خلکو کښې زما قدر کوئ...

"ځکه چه د خدای دا خوښه شوه چه د هغهٔ ټول کاملیت دِ په مسیح کښې پاتې شی. اؤ خدای د هغهٔ د وینې په سبب چه په سولئ وبهیدله، صلح وکړله اؤ ټول څیزونه یی د هغهٔ په وسیله د ځان سره پخلا کړل، آیا کهٔ هغه د مزکې وی یا کهٔ د آسمانونو."
(کولوسیان ۱ : ۱۹-۲۰)

## عیسیٰ مسیح زمونږ تازه کوونکے دے.

هغه زمونږ ساه او ژوند بحاله وی. په هغهٔ کښې زمونږ قوت په خپل ځائ کیږی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما ته خپلو سوځیدونکو خواهشاتو سره راشئ او زما د حضور یخې اوبه واخلئ. زما د پاک روح مسح د هغه ځایونو دپاره وغواړئ کوم چه شیطان په چهړو زخمی کړی دی. نن زما د برکت په باران کښې ولامبئ او ځانونه تازه کړئ...

"نو توبه وکړئ اؤ خدای ته راوګرزئ چه ګناهونه به مو معاف کړی. بیا به مالک تاسو ته روحانی تازګی درکړی اؤ وړومبی مقرر شوے مسیح چه عیسیٰ دے به درواستوی. هغه به تر هغی په آسمان کښې پاتی وی تر څو چه هر څهٔ بیا نوی نهٔ شی اؤ د څهٔ په باب کښې چه خدای له شروع نه د پاکو نبیانو په وسیله وئیلی دی."
(اعمال د رسولانو ۳ : ۱۹-۲۱)

## عیسیٰ مسیح زمونږ آرام دے.

کله چه مونږ سترړی شو نو هغه مونږ ته دمه او تازګی راکوی او مونږ د خدای د مرضئ د پوره کولو قابلوی. هغه مونږ د همیشه دپاره د ګناهونو د بوج او د هغه یهودی قانون نه آزاد کړو د کوم به چه کاتبانو او فریسیانو ډیر صفت کولو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما آرام نه څوک بور کوی او نهٔ څوک مصروفه کوی. زما آرام داسی رشته ده چه د هغی نه یوحنا خبر دے ځکه چه هغه کله خپل سر زما په سینه کیښودو: نو هغهٔ زما آواز واوریدو او هغهٔ ته زما د مرضئ د پوره کولو دپاره قدرت او مینه ملاؤ شوه...

"اے تاسو چه ټول خواری کوئ اؤ پنډ مو درونددی، ماله راشئ اؤ زهٔ به آرام درکړم. زما جغ په غاړه کړئ او له ما نه زده کړئ، ولی چه زهٔ حلیم یم اؤ په زړهٔ کښی غریب، اؤ ستاسو روحونه به آرام مومی. ولی چه زما جغ په وړلو کښی پوست دے اؤ زما پنډ سپک دے."
(متی ۱۱ : ۲۸-۳۰)

# عیسیٰ مسیح غنی دے.

د زمکی او آسمان ټول خیزونه د هغهٔ دی خو هغه دومره عظیم (لوی) دے چه هغه ټول هر څهٔ یی زمونږ دپاره پریښودل چه مونږ د ټولو نه قیمتی څیز عیسیٰ مسیح پخپله حاصل کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه زهٔ تاسو ته خپل ځان پسی د راتلو وایمه نو د دِ مطلب دا دے چه تاسو د خپل ټول وسائلو په ذریعه نور خلک زما طرف ته راولئ. ځکه چه د دنیا نیم خلک ما نهٔ پیژنی. او چه تاسو داسی وکړئ نو تاسو به زما د دولت ساتونکی شئ...

"اؤ زهٔ ګواهی ورکوم چه هغوئ د خپل وس په مطابق نه، بلکه د وس نه زیات په خپله خوښه ورکړل. اؤ د دِ خیرات اؤ د پاکانو د خدمت د شراکت په باب کښی یی ډیر په زارو مونږ ته خواست وکړو... نو لکه څنګه چه تاسو په هره خبره کښی،د ایمان اؤ کلام اؤ علم اؤ جوش اؤ هغه مینه چه تاسو مونږ سره لرله، په هغی کښی وړاندی شوی یئ هم هغه شان د خیرات په دِ کار کښی هم وړاندی شئ... ځکه چه تاسو زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح د فضل نه خبر یئ چه سره د دِ چه هغه غنی وو خو ستاسو دپاره غریب جوړ شو، د دِ دپاره چه تاسو د هغه غریب په سبب غنیان شئ."
(دویم کورنتیان ۸ : ۳ - ۴ ، ۷ ، ۹)

اګست ۲۸

## عیسیٰ مسیح د داؤد د څانګې (نسل) نه دے.

هغه د داؤد د تخت وارث، او د اسرائیلو دپاره د خدای د منصوبو پورا کوونکی دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... په څمکه باندی زما د بدن حصه کیدو سره تاسو د اسرائیلو کاملیت او د هغوی د هغه کار حصه یئ کوم چه خدای هغوی ته ورکړے وو چه هغوی دِ د ټولو قومونو سردار کاهنان شی. په دِ کښی د خپلی حصی دپاره زما تلاش وکړئ...

"ما عیسیٰ، خپله فرښته تاسو ته در ولیږله چه جماعتونو له ګواهی ورکړی چه زهٔ د داؤد د څانګې اؤ نسل نه یم اؤ د صباوون پړقیدونکے ستورے." روح القدس اؤ ناوی وائی چه "راشه!" اؤ هر اوریدونکے دِ هم وائی چه "راشه!" او څوک چه ترږے وی، هغه دِ راشی، اؤ څوک چه یی غواړی، د ژوندون له اوبو نه د ویړیا واخلی."
(مکاشفه ۲۲ : ۱٦ ، ۱۷)

# عیسیٰ مسیح زموږ پناه ده.

هغه د خطرو او پریشانو په وخت کښې زموږ پناه او امید دے، او د مشکلاتو په وخت کښې موږ په هغۀ باندې باور کوو. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما باور (ایمان) ولرئ. تاسو د خپلو خواهشاتو دپاره نه بلکه د خپل ضرورتونو دپاره په ما باور (ایمان) ولرئ. ټول شیطانی طاقتونه کوم چه ستاسو په خیالاتو، صحت، دوستانو، مالی حالت، قوم او ملک باندې حملې کوی دا هلته ټول زما د حکم لاندې دی چرته چه زۀ مالک یم. زۀ به تاسو په هغه ځایونو باندې بوځم چرته چه شیطان ډیر زورآور دے. او تاسو به د خپلو دښمنانو په موجودګئ کښې ما سره په یو دسترخوان خوشحالی کوئ...

"کله چه زما په زړۀ کښې ډیر فکرونه راځی نو ستا تسلی زما ځان خوشحالوی. خو خدای زما اوچته قلعه ده او زما خدای زما د پناه کاڼے پاتی شوے دے. هغه به د هغوی بدکاری هم په هغوی باندې راوړی او هم د هغوی په شرارت به هغوی کټ کړی او زموږ مالک خدای به هغوی کټ کړی."
(زبور ۹۴ : ۱۹ ، ۲۲-۲۳)

آگست ۳۰

# عیسیٰ مسیح د تیندك (تګر خوړلو) کاڼی دے.

عیسیٰ مسیح خدای دے د دِ دپاره ډیرو خلکو د هغهٔ په باره کښی مختلف خیالات جوړول، او د دِ په وجه هغه رد کړے شو. د عیسیٰ مسیح رد کول د رښتینی او ژوندی خدای رد کول دی، او په دِ وجه بیایمانه خلق بیلاری شی او ګناه کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما کلام په مینه او ښهٔ فکر سره ولولئ. وګورئ ما څنګه شریعت او د نبیانو کارونه پوره کړل خو د فریسیانو کارونه ما اوس هم نهٔ دی پورا کړی. ما ته غور سره ګورئ او په ما باندی ځان جوړکړئ. ځکه چه هم زهٔ مضبوط او مطمئین بنیاد یم...

"نو مسیح ژوندی کاڼی له راشئ چه بنی آدمو رد کړے خو خدای قیمتی غوره کړے دے. تاسو هم د ژوندو کاڼو په شان د خدای روحانی کور جوړ شئ چه د کاهنانو مقدسه فرقه په جوړیدو داسی روحانی قربانئ پیش کړئ چه د عیسیٰ مسیح په وسیله خدای ته قبولی وی. لکه چه په کتاب مقدس کښی وئیلی دی چه: "ګورئ، زهٔ په صیون کښی د ګوټ غوره کړے اؤ قیمتی کاڼے ږدم، څوک چه به په هغهٔ ایمان راؤړی هغه به هیڅ کله شرمنده نهٔ شی." نو بیا ستاسو دپاره چه ایمان مو راوړے دے، هغه کاڼے قیمتی دے، خو څوک چه ایمان نهٔ راؤړی د هغوئ دپاره: "کوم کاڼے چه ګلکارانو رد کړو هغه د ګوټ سر کاڼی شو" اؤ "د تیندک کاڼی اؤ د تګر خوړلو ګټ شو"
(اول پطروس ۲ : ۴-۸)

## عیسیٰ مسیح زمونږ خلاصون دے.

هغه د ګناه او د ګناه د اثر نه زمونږ خلاصون دے. هغۀ خپله وینه زمونږ د فدیی قیمت کښې ورکړه او مونږ یی د شیطان د قید نه آزاد کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو نور خلک معاف کړئ نو دا داسې شو لکه چه تاسو ما سره یو ځائ هغه زنځیرونه کولاوه وئ کوم کښې چه تاسو بند یی. تاسو مفت حاصل کړے دے تاسو هم مفت ورکړئ...

"مونږ ته د مسیح د وینی په وسیله خلاصون، یعنی د ګناهونو معافی، د هغۀ د هغه فضل د دولت په مطابق حاصله ده، چه هغۀ په هر جوړ حکمت اؤ پوهه په مونږ پریمانه نازله کړه."
(افسیان ۱ : ۷ ، ۸)

## عیسیٰ مسیح د صداقت (رښتینولئ) نمر دے.

زمونږ په ژوند کښی د هغۀ راتلل داسی دی لکه څنګه چه نمر دنیا کښی راوخیژی او ټولی تیاری ختمی کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما بیا راتلل دِ ستاسو دپاره د حیرانیدلو باعث نه وی. بلکه زما خوشحالی او ځلیدونکی حضور ته راشئ او مزه واخلئ چه تاسو ټولو ته شفا ملاو شی او تاسو پاک کړے شئ...

"ځکه ګورئ هغه ورځ راتلونکی ده کومه چه به د تنور په شان سوځیدونکی وی. نو بیا به ټول مغروران او بدکرداره د بهوسو په شان وی او هغه ورځ به هغوی داسی وسوځوی چه د هغوی څانګی او جړی به هم پرینږدی. رب الافواج فرمائی. خو په تاسو کښی چه څوک زما د نوم تعظیم کوی د صداقت نمر به پری روښانه شی او د هغی په شعاګانو کښی به شفا وی او تاسو به د سخوندرو(سخی) په شان غټیږئ."
(ملاکی ۴ : ۱ ، ۲)

# عیسیٰ مسیح عادل منصف دے.

هغه د هر قسم ګناه او عیب نه آزاد او زمونږ د هرې خبرې نه واقف دے. د همیشه جزا او سزا د هغۀ په لاسونو کښې ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... پلار ماته وکتل او وئې فرمائیل چه دا زما محبوب زوی دے د چا نه چه زۀ خوشحاله یم. اوس خپل ځان د هرې ګناه نه آزاد کړئ. کله چه تاسو هغه هر څۀ ما ته راوړئ نو زۀ به تاسو آزاد کړم او تاسو سره به یو ځائ اودریږم چه تاسو ته زما اجر ملاؤ شی...

"هغه جنګ چه ما ته په دِ دنیا کښې کول وو، ما په ښۀ شان وکړو، خپله منډه می پوره کړې ده اؤ هغه ایمان چه ما ته سپارلے شوے وو، هغه می محفوظ ساتلے دے. اؤ وړاندې زما دپاره د صداقت د ګټې سهره کیښودے شوی ده چه عادل منصف، یعنې مالک به یې ما له په هغه ورځ راکړی، اؤ یواځې ما له نه، بلکه هغه ټولو له هم چه د هغۀ د ظاهریدو آرزومند دی."

(دویم تیموتیوس ۴ : ۷ ، ۸)

## عیسیٰ مسیح حاصلوونکی (موندونکی) دے.

په میخونو سوری لاسونو باندی هغه قدرت، دولت، علم، قوت، عزت، جلال او برکت حاصل کړو. خدای خپل ټول هر څۀ چه هغه لری عیسیٰ ته ورکړل. هغه فرمائی... ما خپل ځان د خپلو ټولو حقوقو نه د دِ دپاره خالی کړو چه تاسو خپلی ملګرتیا ته راولم. زما نه د اخیستو دپاره به اول تاسو خپل هر څۀ ماله راکوئ. دا د هری ورځی فیصله ده. او پریږدئ چه هغه هر څۀ چه تاسو سره دی زما ثناء بیان کړئ...

"هر کله چه مونږ تاسو د خپل مالک عیسیٰ مسیح د قدرت اؤ د راتلو نه خبر کړی وئ نو مونږ په ټګئ د ځانه په جوړو کړو قصو باور نۀ وو کړے بلکه په خپله مو د هغۀ لوئی لیدلی وه، چه هغۀ د خدای پلار نه هغه وخت عزت اؤ جلال وموندو کله چه هغۀ ته د هغه غوره جلال نه آواز راغے چه "دا زما محبوب زوی دے چه زۀ تری راضی یم."
(دویم پطروس ۱ : ۱٦-۱۷)

# عیسیٰ مسیح ژوندے شوے دے.

هغه د دومره سخت او ظالم مرګ نه وروستو هم بیا ژوندے شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... پریږدئ چه زما ژوند تاسو ته توانائی درکړی. پریږدئ چه زما کامیابی ستاسو شی چه تاسو هم په هر شیطانی قوت کوم چه په تاسو او ستاسو په حالاتو کښی دے کامیاب شئ. وغواړئ چه زۀ څۀ وکړم او بیا زما پاک روح پریږدئ چه ستاسو په وسیله نورو ته ژوند ورکړی...

"آیا تاسو د مسیح سره نۀ وئ راژوندی کړے شوی؟ نو بیا تاسو د آسمانی څیزونو لټون کوئ چرته چه مسیح موجود دے اؤ د خدای ښی طرف ته ناست دے. د آسمانی څیزونو خیال ساتئ، نه چه د مزکی. زۀ دا تکراروم چه تاسو مړۀ شوئ اؤ اوس ستاسو ژوند د مسیح سره په خدای کښی پټ دے."
(کولوسیان ۳ : ۱-۳)

# عیسیٰ مسیح روحانی (د معجزی) ګټ دے.

د هغه د راتلو په وسیله خدای خپل مخلوق ته په بیابان کښی خوراک ورکړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه ما د اسرائیل خلکو ته د ناممکن ذریعی نه اوبۀ ورکړی دغسی به زۀ د ژوندون اوبه ستاسو د ژوند په سختو ځایونو (مشکل حالاتو) کښی تاسو له هم درکړم کۀ تاسو ماته اوګورئ...

"اے ورونړو، زۀ تاسو د دِ نه بی خبره پاتی کیدل نۀ غواړم چه زمونږ ټولو پلارونه نیکونه د وریځی په حفاظت کښی وو اؤ ټول د سمندر نه پوری وتل. اؤ ټولو په هغه وریځ اؤ په هغه سمندر کښی لکه د موسی بپتسمه واخسته. اؤ ټولو یو خوراک وخوړلو، اؤ ټولو یو اوبۀ وڅښلی چه ورته د معجزی په طور ورکړے شوی وی ځکه چه هغوئ د هغه معجزی د ګټ نه اوبۀ وڅښلی کوم چه د هغوئ سره روان وو، خو په حقیقت کښی هغه ګټ مسیح وو."
(اول کورنتیان ۱۰ : ۱-۴)

# عیسیٰ مسیح اجر ورکوونکی دی.

هغه مونږ ته د خپل کار په مطابق مزدوری راکوی کۀ هغه ښۀ وی او کۀ بد وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څوک چه ما سره مینه کوی هغوی په خوشحالئ خپل وخت، قابلیت او خپل ځان ما ته راکوی. ما ته قیدخانی ته یا هسپتال ته راشئ، ماته کپړی راکړئ، ما ته روټئ راکړئ، زما په زخمونو لاس کیږدئ یا زما عذابولی شوی دماغ ته شفا ورکړئ، او ما ته یو کور راکړئ. کله چه تاسو د نورو خلکو خدمت کوئ نو تاسو به وګورئ چه زۀ په تولیی او اوبو سره ستاسو سترِی پښی وینځم...

"هو! ګورئ! زۀ عیسیٰ زردرځم اؤ خپل اجر د ځان سره راوړم چه هر یو له د هغۀ د عمل په مطابق اجر ورکړم."
(مکاشفه ۲۲ : ۱۲)

# عیسیٰ مسیح ظاهر شوے دے.

د هغهٔ راتلل به د هر سړی زړهٔ کولاؤ او روښانه کړی. د دِ مخلوق، وخت، فضا او مقصد به هغه وخت ظاهر شی کله چه عیسیٰ د تاریخ پاۀی بندی کړی لکه څنګه چه مونږ ته معلومه ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما د راتلو دپاره تیار اوسئ. بیدار اوسئ او د هغوی دپاره دعا وکړئ څوک چه زما مضبوط ګواهان دی. ډیر شته چه ما نهٔ پیژنی خو دا د ژوند او د مرګ معامله ده. او کله چه تاسو زما د ګواهئ دپاره حکمت او روح القدس وغواړئ نو زهٔ به تاسو ته په ډیری خوشحالی سره درکړم...

"زما خوږو ملګرو! کوم د مصیبت اور چه ستاسو د آزمیښت دپاره په تاسو کښی بل دے، نو دا مهٔ ګڼئ اؤ په هغهٔ حیرانیږئ مه، چه په مونږ دا یوه عجیبه خبره راغلی ده. بلکه د مسیح په مصیبنونو کښی چه هر څومره شریکیږئ، خوشحالی کوئ، دپاره د دِ چه د هغهٔ د جلال د ظاهریدو په وخت هم ډیر خوشحاله یئ."
(اول پطرس ۴ : ۱۲ ، ۱۳)

## عیسیٰ مسیح په ځائ (بحال) کوونکے دے.

هغه مونږ خپل کور ته بیا راولی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه ما د ګدری په علاقه کښی پیریانو نیولے سړے روغ کړو هم دغسی زما شفا ورکوونکے حضور تاسو هم د هغه ځائ نه ښۀ ځائ ته راولی کوم کښی چه تاسو مخکښی وئ، او هغه ځائ د شیطان نه پاک او ستاسو د ژوند دپاره زما د ښۀ مقصد او زما د هدایاتو نه ډک دے...

"خدای پاک زما شپون دے. ما ته به د هیڅ کمے نۀ وی. هغه ما د څرند په (مالخړ) شنو شنو ځایونو کښی کښینوی. هغه ما د راحت چینو ته بوځی. او زما ژوند بحالوی. هغه ما د خپل نوم په خاطر د صداقت په لارو باندی بوځی."
(زبور ۲۳ : ۱-۳)

## عیسیٰ مسیح عصا (امسا) ده.

د اسرائیلو په وخت کښې به عصا (امسا) داسې یو چوکه (لښته) وه چه هغه به د سزا ورکولو، لیکلو، جهګړو، د حکمرانئ، د ګرځیدلو او رهنمائی دپاره استعمالیده. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما د حضورئ عصا دِ دپاره په تاسو باندې استعمالیږی ځکه چه زۀ تاسو سره مینه کوم او غواړم چه تاسو په خپلو لارو باندې لاړ شئ. په دِ وخت کښې زما اصول سخت معلومیږی خو د دِ په زده کولو به دا ستاسو رهنمائی کوی او تاسو ته به آرام درکړی. زما عصا دومره سخته ده چه دا به د شیطان قدرت او په قومونو باندې د هغۀ حکمرانی ماته کړی. زۀ غواړم چه تاسو باندې زده کړم او تاسو خپل ځان سره د حکومت کولو دپاره تیار کړم...

"زۀ به د هغه فرمان بیان وکړم. خدای ما ته وئیل تۀ زما زوی یئ. نن ته زما نه پیدا شوے یی. ما نه وغواړه او زۀ به قومونه ستا د میراث دپاره او د زمکی آخری حصه به ستا د ملکیت دپاره تا ته درکړم تۀ به هغوی د اوسپنی د عصا په شان ماتوی او د کلال د لوخو په شان به یئ ټوټه ټوټه کوی. (زبور ۲ : ۷-۹)

"ستا د عصا او ستا د چوکی نه زما تسلی ده."
(زبور ۲۳ : ۴)

سپتمبر ۱۰

## عیسیٰ مسیح بیخ (نسل) دے.

هغه د ژوندئ کلیسا نۀ لیدونکی حصه ده کومه چه د کلیسا مدد او حفاظت کوی. هغه زمونږ د روحانی غذا ذریعه ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما باندی د خپل قوت، زور او پائیدارئ دپاره باور وساتئ. دا به لکه د یو معجزی په شان وی کله چه تاسو کښی د مینی میوه، خوشحالی، امن، صبر، مهربانی، نیکی، ایمانداری، خاکساری او په ځان قابو ساتل پیدا شی، خو دا زما د ژوند قدرتی پیداوار دے کوم چه ستاسو په وسیله خوریږی...

"اؤ یشعیاه هم وائی چه: "د یشی نسل به راځی، یعنی هغه سړی چه په غیر یهودیانو به حکومت کولو له راپورته شی، د هغۀ نه به غیر یهودیان امید لری." خو خدای چه د امید سرچینه دے، هغه دِ تاسو د خپل ایمان په وسیله د هری خوشحالئ اؤ سلامتئ نه معمور کړی د دِ دپاره چه د روح القدس په قدرت ستاسو امید هم په مخه زیاتیږی."
(رومیان ۱۵ : ۱۲ ، ۱۳)

# عیسیٰ مسیح د ژوندون د اوبو (آب حیات) دریاب دے.

د هغه مثال د هغه چشمی دے کومه چه په وچه زمکه بهیږی او هغه زرخیزه او د میوی کولو قابلوی. هغه په مونږ کښی هم د روح القدس په ذریعه داسی کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو خپل ټول زړهٔ، ټول ځان، ټول قوت، او خپل ټول عقل سره زما تلاش وکړئ نو ستاسو د ژوند په وچو میرو کښی به زما د ژوندون اوبهٔ روانی شی. او دا دریاب به نهٔ اودریږی، خو دا به د انسانیت په سمندر کښی بهیږی او ستاسو نه ګیرچاپیره خلکو ته به هغه ښهٔ خیزونه ورکړی کوم چه ما تاسو ته درکړی دی...

"ګورئ یو بادشاه به په صداقت سره حکومت کوی او شاهزادګان به ئی د عدالت نه حکمرانیانی کوی او یو سړی به د وریځی نه د پناه د ځائ په شان، د طوفان نه د پټیدو د ځائ په شان، په وچه زمکه به د اوبو د دریابونو په شان او په نوره زمکه به د یو لوی کاڼی د سوری په شان وی."
(یشعیاه ۳۲ : ۱ ، ۲)

# عیسیٰ مسیح استاذ (ربی) دے.

هغه د ټولو نه لوی استاذ دے. هغه مونږ ته هغه ضروری تعلیم راکوی کوم چه د خدای او هغهٔ سره زمونږ د ژوند په باره کښې دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... تهٔ د خدای او د هغهٔ د لارو د زده کولو وړے یی. ما ته وګورئ زهٔ حکمت یم. د دنیا هوښیار خلک به سوچ کوی چه تاسو کمزوری او بیوقوف یئ او د دِ په وجه تاسو ما د خپل آسری په طور استعمالوئ. شیطان د هغوی نه نفرت کوی څوک چه ما سره مینه کوی، د هغهٔ لاری چالاکی او ظالمی دی. کهٔ تاسو غواړی چه زهٔ تاسو ته تعلیم درکړم نو د دی قیمت ستاسو ژوند دے...

"نتانی ایل ووئیل، "استاذه! تهٔ د خدای زوی یی اؤ تهٔ د اسرائیلو بادشاه یی." عیسیٰ جواب ورکړو، "آیا ستا د ایمان د راوړو دغه وجه ده چه ما د انځیر د ونی لاندی ولیدلی؟ تهٔ به د دِ نه هم لوی لوی څیزونه ووینی." بیا هغهٔ ووئیل، زهٔ تاسو ټولو ته ربښتیا ربښتیا وایم چه تاسو به آسمان پرانستے ووینئ اؤ د خدای د فرښتو به په ابن آدم ختل اؤ بیا راکوزیدل ووینئ."
(یوحنا ۱ : ۴۹-۵۱)

## عیسیٰ مسیح زمونږ د خوشحالئ چشمه ده.

هغه داسی پاکه، تازه او د خوشحالئ چشمه ده کومه چه زمونږ په وسیله راوځی او نورو خلکو ته ورځی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ په تاسو کښی یم نو ځکه د خوشحالئ ذریعه هم ستاسو ده. زما تعریف کوئ کۀ دا مشکل هم دی. په سخت حالات کښی تر هغه وخته پوری کار کوی تر څو ما وګورئ. په ما کښی ځان مضبوط کړئ او زما د حقیقی خوشحالئ نه ځان ډک کړئ...

"خدای به د قومونو د شمار په وخت درج کوی چه دا سړے هلته پیدا شوے دے. سندرو والا او ګډونکی به داسی وایئ چه زمونږ ټولی چشمی هم ستا نه دی." (زبور ۸۷ : ٦)

سپتمبر ١٤

# عیسیٰ مسیح زمونږ خلاصوونکے دے.

هغۀ مونږ ته د مشکلاتو، د تباهئ او د ګناه د قوت او اثر نه خلاصون راکړے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ستاسو په ژوند کښې داسې څۀ مشکل نشته چه زۀ پرې غالب کیدے نۀ شم. ما ته توجو وکړئ نو زۀ به ستاسو رهنمائی وکړم. او پرېږدئ چه ستاسو کامیابی د هغه خلکو دپاره شهادت شی چا چه ما ته خپل زړونه او لاسونه نۀ دی راکړی...

"ځکه کوم روح چه خدای مونږ ته راکړے دے، د ویرې دپاره نه، بلکه د قدت، د مینې اؤ په نفس قابو کولو طاقت دپاره. نو بیا زمونږ د مالک په باب کښې د ګواهئ ورکولو اؤ له ما نه چه د هغۀ قیدی یم، شرمیږه مه، بلکه د خدای د قدرت په مطابق د زیرې د خاطره ما سره تکلیفونه وزغمه، چه مونږ ته یې خلاصون راکړو اؤ راوی بللو چه د هغۀ خلک شو، نۀ چه زمونږ د کارونو په وسیله، بلکه په خپله خاص اراده اؤ د هغه فضل په مطابق چه د مسیح عیسیٰ په وسیله په مونږ د ازل نه وشو. خو اوس زمونږ د خلاصوونکی مسیح عیسیٰ په راتلو سره ښکاره شو چه مرګ یې نشت کړو."

(دویم تیموتیوس ۱ : ۷-۱۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ د پسرلی باران دے.

هغه د خدای له طرفه داسی د رحمت باران دے کوم چه هغه تخمونه هم اوبۀ کوی کوم چه بیوخته کرلے شوی دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څنګه چه سخته زمکه د باران اوبۀ جذب کوی او تازه کیږی، زۀ غواړم چه تاسو هم زما په وړاندی هم دغسی شئ. زما مینه اوسکئ او قبوله یی کړئ. او تاسو به د ډیرو خلکو دپاره مزیداره او تازه میوه پیدا کړئ...

"راځئ چه مونږ د خدای طرف ته رجوع وکړو ځکه چه هم هغۀ مونږ شلولی یو او هم هغه به مونږ ته شفا راکړی. هم هغۀ وهلی یو او هم هغه به زمونږ پټئ کوی. هغه به دوه ورځی ورسته مونږ ته تازه حیات راکړی او په دریمه ورځ به مونږ اوچت کړی او مونږ به د هغۀ په حضور کښی ژوند تیروو. نو بیا راځئ چه معلوم کړو او د خدای په پیژندګلو کښی ترقی وکړو. د هغۀ ظهور به د سحر په شان یعنی د آخری برسات په شان راځی کوم به چه زمکه اوبۀ کوی."
(هوسیع ٦ : ١-٣)

## عیسیٰ مسیح د شهدو نه هم زیات خوږ دے.

هغه د خدای هغه کلام دے کوم چه زمونږ د خولی خوند ښۀ کوی. کله چه هغه مونږ کښی اوسیږی نو مونږ د هغوی د ژوند دپاره خوشبو شو څوک چه هغه لټوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... د شروع نه تاسو مصنوعی خوارۀ څیزونه خوړلی دی نو په دِ وجه ستاسو د خولی خوند خراب دے. زما قدرتی خوارۀ وخورئ کوم چه تسکین ورکوی...

"ستا خبری څومره خوږی دی! هغه زما خولی ته د شهدو نه زیاتی خوږی معلومیږی. ستا د قانون نه زۀ حکمت حاصلوم. او د دِ دپاره زۀ د ټولو غلطو لارو نه نفرت کوم."
(زبور ۱۱۹ : ۱۰۳ ، ۱۰۴)

# عیسیٰ مسیح روح (روح القدس) دے.

عیسیٰ او د خدای روح یو دے او دا یو داسی کامل قدرت دے چه په گناه، بیمارئ، شیطان او مرگ باندی غالب دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما روح القدس وغواړئ چه تاسو ډک کړی. تر هغه وخته پوری زما د روح القدس تلاش کوئ ترڅو چه تاسو هغه زړه ورتوب، آزادی، او شفا پیدا نۀ کړئ کومه چه زما شاگردانو پیژندله. وټکوئ او په ما یقین (ایمان) وساتئ ستاسو دپاره به دروازه کولاوه وی...

"ځکه چه زۀ پوهیږم چه ستاسو په دعا اؤ د عیسیٰ مسیح د روح په مدد به آزاد شم. ځکه خو زما د زړۀ آرزو اؤ امید دغه دے چه زۀ په څۀ خبره کښی شرمنده نۀ شم، بلکه زما د زیاتی زړۀ ورتیا په وجه لکه څرنگ چه زما په وسیله همیشه د مسیح جلال ښکاره شوے دے، هغه شان به اوس هم کیږی، کۀ زۀ ژوندے یم یا مړ شم."
(فیلیپیان ۱ : ۱۹ ، ۲۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ پاکوونکے دے.

هغه زمونږ پاکونکے او مقدس کوونکے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو زما بدن یعنی کلیسا ته زما د هغه وینی په وسیله راغلی یئ کومه چه ستاسو دپاره تویه شوی ده. تاسو په ما کښی د خپلو ورونړو او خوئندو سره د خدای د کار دپاره جدا شوی یئ. زما په لار ځئ او پریږدئ چه زهٔ تاسو ته قوت او توانائی درکړم. تاسو به وګورئ او ټوله شهوت پرستی به ختمه شی. او ستاسو هر اوچت او ټیټ خواهش به زما په هغه منصوبو کښی پوره شی کوم چه تاسو کاملوی...

"خو تاسو د خدای له خوا په مسیح عیسیٰ سره یووالی لرئ چه زمونږ دپاره د خدای له لوری حکمت ګرزیدلے دے، یعنی صداقت اؤ پاکوالے اؤ فدیه. لکه چه لیکلی دی: "څوک چه فخر کوی هغه د په مالک فخر کوی."
(اول کورنتیان ۱ : ۳۰-۳۱)

# عیسیٰ مسیح زمونږ قوت دے.

هغه لوی قوت لرونکے، مضبوط، طاقتور، او زړۀ ور دے. مونږ په هغی کښی محفوظ یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما باندی باور (ایمان) وساتئ. کۀ تاسو سل فیصده (%۱۰۰) کمزورئ ما ته راکړئ نو تاسو به حیران شئ چه هغه څۀ وګورئ کوم چه ما ستاسو په وسیله کړی دی. ما ته خپل قوت هم راکړئ ولی چه دا ستاسو د ټولو نه لویه کمزوری ده...

"یهوداه زما مالک ته ووئیل چه تۀ زما په ښی لاس کښینه تر څو زۀ ستا دښمنان ستا د پښو چوکئ (میز) نۀ کړم. خدای به ستا د زور عصا د صیون نه راولیږی. تۀ به په خپلو دښمنانو کښی حکمرانی کوی."
(زبور ۱۱۰ : ۱ ، ۲)

# عیسیٰ مسیح قدرت ورکوونکی دے.

هغه مونږ ته قدرت راکوی او مونږ د خدای سره د مینی کولو قابلوی. په هغه کښی زمونږ بدنی، اخلاقی، او د پوهی قدرت زیاتیږی. هغه مونږ د شیطان خلاف مؤثر او تیزوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه ستاسو ژوند زما په اختیار کښی شی نو زما قوت به تاسو سره وی ځکه چه تاسو به پوهیږئ چه زما په نوم څۀ غوښتل دی. زما خواهش او لټون په خپل زړۀ سره وکړئ چه ستاسو په ذریعه د خدای مقصد پوره شی...

"خو مالک زما مددګار وو اؤ هغۀ ما له دا طاقت راکړو چه زما په معرفت دا زیرے په پوره طور خور شی اؤ ټول غیریهودیان دا واؤری اؤ زۀ د زمری له کومی نه راخلاص کړے شوم. مالک به ما د هری بدئ نه خلاصوی اؤ خپلی آسمانی بادشاهئ ته به می په حفاظت رسوی. د هغۀ لوئی دِ تل تر تله وی آمین."
(دویم تیموتیوس ۴ : ۱۷ ، ۱۸)

# عیسیٰ مسیح پخه اراده ده.

هغه تر هغه وخته پورې په کلکه د صلیب په لاره روان وو ترڅو چه هر څۀ نۀ وو ختم شوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... خدای غواړی چه تاسو ځان ته یو لاره خوښه کړئ او بیا په هغه خوښی کړی لاری باندی کلک ځئ کۀ هغه څومره هم سخته وی. زۀ به تاسو سره یم او ستاسو مدد به کوم. دا هیڅ خبره نۀ ده کۀ شیطان تاسو راوغورځوی او یا تاسو تیندک وخورئ او راوغورزیږئ خو بیا هم هغه تنګه لار مۀ پریږدئ په هغی روان اوسئ. کۀ په دِ تاسو مړۀ کیږئ هم خو دا د ژوندون لاره ده...

"هر کله چه هغه وخت رانزدی شو چه عیسیٰ پاس آسمان ته بوتلونکے وو نو هغۀ بیت المقدس ته په پخه اراده مخه وکړه."
(لوقا ۹ : ۵۱)

# عیسیٰ مسیح کافی دے.

هغه کافی دے. عیسیٰ مسیح چه زمونږ د ژوند مالک دے هغۀ سره مونږ په هر حال کښې راضی یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو په خپل ټول زړۀ، ځان، عقل او قوت سره زما خواهش کوی نو زۀ ستاسو د ژوند نور ټول ضرورتونه پورا کوم. زۀ تاسو ته دِ دپاره درکوم چه تاسو یئ نورو سره هم وویشئ. کله چه تاسو خپل ځانونه خالی کړئ نو زۀ تاسو د خپل روح القدس نه ډکووم...

"خو هغۀ ما ته ووئیل چه زما فضل ستا دپاره کافی دے ځکه چه زما طاقت په کمزورتیاؤ کښې پوره کیږی چنانچه زۀ به ډیر په خوشحالئ په خپلو کمزورتیاؤ فخر وکړم تر څو چه د مسیح قوت په ما کښې وی."
(دویم کورنتیان ۱۲ : ۹)

سپټمبر ۲۳

## عیسیٰ مسیح دریدلی (څوریدلی) دے.

هغه په خپل پیدائښت، ژوند او مرګ کښې ډیرې سختئ تیرې کړیدی. اوس هم هغه مونږ خپل بدن کښې محسوسوی کۀ چرې مونږ خپل ځان د مرګ دپاره تیار کړو او په ځان باندې د هغۀ د نوم دپاره تکلیفونه تیر کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... آیا ستاسو وینه زما د نوم دپاره تویه شوه؟ کله چه داسې کیږی نو تاسو به پوهیږئ کۀ چرې تاسو په رښتیا ما سره ولاړ یئ. خو بیا هم په ما باندې ایمان وساتئ چه زۀ تاسو د دِ روزانه په واړو واړو څیزونو باندې غالب کړم او د هغوی دپاره دعا وکړئ څوک چه نن هم زما دپاره په تکلیف کښې دی...

"زما خوږو ملګرو! کوم د مصیبت اور چه ستاسو د آزمیښت دپاره په تاسو کښې بل دے، نو دا مۀ ګڼئ اؤ په هغۀ حیرانیږئ مه چه په مونږ دا یوه عجیبه خبره راغلی ده. بلکه د مسیح په مصیبتونو کښې چه هر څومره شریکیږئ، خوشحالئ کوئ، دپاره د دِ چه د هغۀ د جلال د ظاهریدو په وخت هم ډیر خوشحاله یئ."
(اول پطروس ۴ : ۱۲ ، ۱۳)

# عیسیٰ مسیح زورآور دے.

هغه زورآور، قدرت لرونکے او زړۀ ور دے. عیسیٰ مسیح د هغه ښیزونو د حفاظت کولو قابل کوم چه مونږ د هغه په حفاظت کښی کیږدو. هغه فرمائی... دنیا د شیطان د طاقت او زور تعریف کوی او د هغه په کارونو خوشحالیانی کوی او د هغوی په نظر کښی زۀ هیڅ نۀ یم. ما په خپل ځان کښی پریږدئ چه هغه ټول دروغ ختم شی. او بیا تاسو به په خپل ځان کښی وګورئ چه زۀ د تیارو د ټولو قوتونو نه لوئی یم...

"هر کله چه یو زورور وسله کړے سړے د خپل کور ساتنه کوی نو د هغۀ کور به په حفاظت وی. خو هر کله چه د هغۀ نه زیات زورور سړے په هغۀ راشی اؤ دے د قابو لاندی کړی نو هغه د هغۀ وسله واخلی چه د دۀ پری توکل وی اؤ هر څۀ یی تالا کړی اؤ د لوټ مال بی وویشی. هغه څوک چه ما سره نۀ دی، زما مخالف دی."
(لوقا ۱۱ : ۲۱-۲۳)

## عیسیٰ مسیح جهنډا ده.

عیسیٰ هغه جهنډا ده کوم چه د خدای د خلکو په وسیله اوچته شوی ده. د هغهٔ د لاندی مونږ یو ځائ کیږو. هغه په صلیب باندی د خپل مرګ په وسیله زمونږ رهنمائی کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما خپل ځان د جلالی کولو دپاره نهٔ دے منتخب کړے. ما خپل مرګ ستاسو د ګناهونو دپاره نه دے منتخب کړے. زهٔ دِ دپاره منتخب شوم چه د خدای مرضی پوره شی. نن خدای تاسو څهٔ دپاره رابلئ؟ کله چه تاسو زما واحد لاره،صحیح، او ربښتیا ومنئ نو تاسو ته به داسی طاقت ملاؤ شی چه هغه به تاسو د شیطان سره په جنګ کښی غالب کړی...

"تیر شئ! د پهاټکونو نه تیر شئ! د خلکو دپاره صحیح او اوچته لاره تیاره کړئ. د لاری نه کاڼی لر کړئ. د خلکو دپاره جهنډا ودروئ. وګورئ خدای د زمکی د انتها پوری اعلان وکړو. د صیون لور ته وایه چه ستاسو نجات ورکوونکے راتلونکے دے. وګورئ د هغهٔ اجر هغهٔ سره او د هغهٔ کار د هغهٔ په وړاندی دے."
(یسعیاه ٦٢ : ١٠ ، ١١)

# عیسیٰ مسیح زمونږ خلاصون دے.

هغه د شیطان نه، د ګناه او د هغې د اثراتو نه زمونږ خلاصوونکے دے. هغه زمونږ صحت دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما سره مینه کول زما پیژندل دی او زما د بیا ژوندی کیدلو قوت حاصلول دی. دا زما فطرت دے چه ستاسو ذهن، بدن او روح نوے کړم او په خپل ځائ یی بحال کړم دا امید ساتئ. دا جلال دِ د زمکی په یو ځائ کښی پاتی نۀ شی بلکه دا دِ ضرور په هغه خلکو باندی واچولے شی څوک چه د دِ تږی دی...

"د بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه چه په ټوله دنیا کښی بل نوم هیچا ته نۀ دے ورکړے شوے چه په هغی مونږ خلاصون ومومو."
(اعمال د رسولانو ۴ : ۱۲)

## عیسیٰ مسیح تیرآبدار (ځلیدونکی غشی) دے.

د هغهٔ کلام تیرهٔ، صحیح او مؤثر دے. څنګه چه یو تیره، هواره، او ځلیدونکی توره په تیکی (غلاف) کښی یا یو غشی په کځوړه کښی د هغه وخت انتظار کوی چه مالک یی د هغه پټ ځائ نه د چا د زړهٔ سوری کولو دپاره راوباسی. دغه شان عیسیٰ مسیح هم د خدای د وخت د راتلو انتظار کړے وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ستاسو دپاره زما په کلام کښی د ډوبیدلو او د خدای په حضور کښی د انتظار کولو دپاره هم یو وخت دے. هغه به تاسو ته ووائی چه د هغهٔ د کلام د وئیلو او شائع کولو وخت کله دے. پریږدئ چه زما صبر او خاکساری په تاسو کښی راشی ځکه چه څوک هم زما د کیدلو دعویٰ وکړی په هغهٔ به ډیر تکلیفونه راشی...

"او هغهٔ زما خوله د تیری توری په شان کړه او زهٔ یی د خپلو لاسونو په سوری کښی پټ کړم او هغه زهٔ تیرآبدار (ځلیدونکی توره) کړم او په خپلی کځوړی کښی یی پټ کړم. او هغهٔ ما ته ووئیل چه تهٔ زما خادم یی. په تا کښی به اے اسرائیله خپل جلال ظاهرومه."
(یشعیاه ۴۹ : ۲ ، ۳)

## عیسیٰ مسیح دویم سړے (دویم آدم) دے.

هغه دویم آدم دے، بیا ژوندے شوے او هغه جلالی سړے دے چا چه مونږ ژوندی کړی یو. اول آدم چه د خاوری جوړ شوے وو هغۀ گناه وکړه او د هغۀ د گناه په وجه ټول خلک مجرمان شول. عیسیٰ مسیح فرمائی... په دِ وجه ستاسو روښانه، ډیر او کامیاب ژوند په ما کښې دے. په ما کښې تاسو د دویم سړی (دویم آدم) حصه کیږئ. په ما کښې به تاسو په شیطان، په بیمارو او په مرگ باندی غالب شئ. تاسو نن خپل مشکلات او ضرورتونه زما په لاس کښې کیږدئ چه زۀ تاسو ته خپل قدرت درکړم...

"هم دغه شان لیکلی دی: "اول سړے، یعنی آدم ژوندے نفس جوړ شو، خو آخری آدم ژوندون ورکونکے روح جوړ شو." خو روحانی اول نۀ وو بلکه نفسانی، اؤ د دِ نه پس روحانی شو. اول سړے د مزکی نه، یعنی خاکی وو، اؤ دویم سړے آسمانی وو. اؤ څنگه چه هغه خاکی وو هغه شان به نور هم خاکی وی. اؤ څنگه چه هغه آسمانی وو هغه شان به نور هم آسمانی وی، اؤ څنگه چه مونږ د دِ خاکی په صورت جوړ شوی یو دغه شان به په آسمانی صورت کښې هم شو."
(اول کورنتیان ۱۵ : ۴۵-۴۹)

# عیسیٰ مسیح خوشبوداره نذرانه ده.

عیسیٰ مسیح خپل ځان د خدای نذر کړو او په دِ خدای د هغهٔ نه خوشحاله شو. د دِ نه د خدای هغه مینه ناکه قربانی ښکاره کیږی کومه چه زمونږ دپاره وه چه هغهٔ خپل زوئ هم زمونږ دپاره قربان کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو د دنیا د خلکو دپاره مالګه یئ. تاسو هغه بنیادی څیزونه یئ، کوم چه ژوند د تیرولو او خوشحالولو قابلوی. کله چه نور خلک زما د حضور خوږوالے په تاسو کښی محسوس کړی نو هغوی به وڅکی او وبه ګوری چه زهٔ څومره ښهٔ یم...

"اے په خدای ګرانو بچو! کوشش کوئ چه د هغهٔ په څیر لاړ شئ. اؤ داسی مینه کوئ لکه چه مسیح تاسو سره وکړله او زمونږ دپاره یی خپل ځان د خوشبوئ په شان خدای ته نذرانه کړو اؤ قربان شو."
(افسیان ۵ : ۱-۲)

# عیسیٰ مسیح زمونږ ضامن دے.

هغه د خدای لوظ دے، او زمونږ ضمانت دے چه د خدای سره به نوے عهد پورا شی. مونږ په مسیح باندی ایمان او اعتماد لرو ځکه چه هغه د دِ قابل دے چه مونږ پاک کړی او خدای ته مو نژدی کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو چه په ماضی کښی څۀ هم کړی دی هغه تاسو زما د مینی نه نۀ شی جدا کولے. تاسو خپل ګناهونه زیاتوئ مه بلکه د ګناهونو نه نفرت کوئ. زما مینه د تیرۀ چاقو په شان ده کومه چه به تاسو نه هغه ټولی خرابی حصی د دِ دپاره کټ کړی چه تاسو ښۀ میوه پیدا کړئ...

"''مالک قسم خوړلے دے اؤ د هغۀ نه به ګرزی نه چه تۀ تل تر تله کاهن یی.'' د دِ دپاره عیسیٰ د یو غوره وعدی ضامن شو. خو عیسیٰ تل تر تله ژوندے پاتی کیږی، نو ځکه هغه داسی کاهن دے چه د هغۀ په ځای بل هیڅوک نۀ مقرر کیږی. د دِ دپاره چه څوک د دۀ په وسیله خدای ته راځی هغه هغوئ ته پوره پوره خلاصون ورکولے شی ځکه چه هغه د هغوئ د شفاعت دپاره همیشه ژوندے دے."
(عبرانیان ۷ : ۲۱-۲۲ ، ۲۴-۲۵)

اکتوبر ۱

# عیسیٰ مسیح د داؤد زوئ دے.

عیسیٰ هغه وعده شوے دے څوک چه د داؤد بادشاه د جلالی بادشاهی جاری ساتونکے دے. د هغه بادشاهی د آزادئ، د جلال او د امن بادشاهی ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما دپاره د خپلو زړونو تختونه کولاؤ کړئ. زهٔ بادشاه یم، او ما پرېږدئ چه ستاسو په زړونو باندی بادشاهی وکړم. کله چه مونږ د داؤد په شان پاک د جوش نه ډک او کلک ایمان ولرو نو مونږ به د خدای هغه غوره کړی وسلی شو کومی چه به مونږ د زمکی په ټولو طاقتورو څیزونو باندی غالب کړی...

"کله چه عیسیٰ وړاندی لاړو نو دوه ړاندهٔ ورپسی شو اؤ دا چغی یی وهلی، "اے د داؤد زویه! په مونږ رحم وکړه!" آیا ستاسو دا یقین دے چه زهٔ دا طاقت لرم چه تاسو چه څهٔ غواړئ هغه زهٔ کولے شم؟ هغوئ ووئیل چه "هو مالکه!" بیا هغهٔ د هغوئ سترګو له لاس وروړو اؤ وی وئیل چه "څنګه چه ستاسو عقیده ده، دغسی دِ وشی." اؤ د هغوئ سترګی بینا شوی. عیسیٰ په ټینګه هغوئ ته ووئیل، ګورئ چه څوک د دِ په حقله څهٔ وانهٔ وری."
(متی ۹ : ۲۷ ، ۲۸-۳۰)

# عیسیٰ مسیح د خدای محبوب زوئ دے.

هغه د خدای ګران او نیازبین زوئ دے. د هغهٔ په وسیله مونږ هم خدای ته "پلاره، پلارا!" وئیلو شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو زما ورونړه او خوایندې یئ. د خدای مینه قبوله کړئ چا چه تاسو غوره کړی یئ. هغه ښهٔ پلار دے داسی پلار دے چه همیشه ورسره ستاسو د خبرو د اوریدلو او د خپل زړهٔ خبری تاسو ته د وئیلو وخت شته. هغه به په تاسو الزام نهٔ لګوی: ځکه چه هغه پوهیږی. هغه به تاسو کورته راولی...

"خدای مونږ د تیاری د قبضی نه راخلاص کړلو اؤ د خپل محبوب زوی په بادشاهئ کښی یی داخل کړلو. په هغهٔ کښی مونږ ته فدیه، یعنی د ګناهونو نه معافی حاصله ده."
(کولوسیان ۱ : ۱۳ ، ۱۴)

# عیسیٰ مسیح د خدای زوئ دے.

هغۀ دا لقب په دِ وجه قبول کړو ځکه چه د هغۀ فطرت او خاصیتونه ټول د خدای په شان وو. هغه د خدای برابر او د همیشه دپاره خدای سره دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو د دِ دپاره راوبللئ چه تاسو زما د کورنئ حصه شئ. کله چه تاسو خدای خپل پلار او ما خپل مشر ورور وګڼئ او تاسو زما د فائدو نه خبر شئ نو تاسو به خوشحاله شئ او تاسو کښی به د دِ کورنئ خصوصیات نور هم زیاتیږی. کله چه تاسو په خپل ځان کښی ځۀ ښۀ ګورئ نو زما شکرګزاری کوئ ځکه چه تاسو د خپل پلار خدای په معیار غټیږئ. او دا هر څۀ زۀ په تاسو کښی کوم...

"خو عیسیٰ چپ پاتی شو. نو بیا مشرکاهن ووئیل چه "زۀ د ژوندی خدای سوګند درکوم چه ووایه، تۀ په ربښتیا مسیح، د خدای زوی یی کۀ نه؟" عیسیٰ جواب ورکړو چه: دا ستا وینا ده، خو زۀ تاسو ته دا وایم چه د نن نه پس به تاسو ابن آدم د خدای ښی لاس ته ناست اؤ د آسمان په وریځو کښی په راتلوووینئ."
(متی ۲۶ : ۶۳ ، ۶۴)

## عیسیٰ مسیح ابن آدم دے.

دا هغه نوم دے چه عیسیٰ مسیح د ځان دپاره اتۀ اويا ځله په انجیل شریف کښې استعمال کړے دے. په دِ نوم عیسیٰ مسیح خپل ځان یو نامیده، یو عام او ښکته انسان ښکاره (ظاهر) کړی. هغه د ګناهګارانو دوست دے خو ابن آدم به په جلال کښې د قاضی په شان د ټولو د عدالت دپاره بیا راځی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه زۀ بیا راځم نو تاسو به څۀ کار کولو باندی ګورم؟ ما نه نن او هره ورځ تپوس وکړئ چه زۀ تاسو باندی څۀ کول غواړم. زۀ ستاسو د ټولو صلاحیتونو او کمزوریو نه خبر یم. زۀ ستاسو تخلیق کوونکے ستاسو په پیزار کښې ګرځیدلے یم. د دنیا او د دِ د مذهبونو د دباؤ مقابله وکړئ. ما پریږدئ چه ستاسو رهنمائی وکړم...

"هر کله چه ابن آدم په پوره شان سره راشی اؤ ټولی فرښتی ورسره وی، هغه به د خپلی لوئئ په تخت کښینی. او ټول قومونه به وروړاندی راټول کړے شی هغه به بنی آدم په دوؤ ډلو کښې جدا کړی لکه څنګه چه شپونکے ګډی د بزو نه جدا کوی."
(متی ۲۵ : ۳۱-۳۲)

# عیسیٰ مسیح مدد کوونکی دے.

هغه راغلو چه د هغه خلکو مدد وکړی څوک چه په مشکلاتو کښې ګیر دی. عیسیٰ مسیح فرمائی، تاسو زما د حضور نه نۀ شئ پټیدلی. داؤد د خپلی تجربی نه پوهه وو چه هغۀ خپل کټ په دوزخ کښې جوړ کړو، او زۀ هلته ووم. زۀ په مشکلاتو، په غصه په تریخوالی او د ویری په اوبو ګرځم او دا وایم چه په "آرام شئ" او کله چه تاسو ژاړئ او دعا کوئ چه "اے خدایا په مونږ رحم وکړه" نو ستاسو بهر او دننه ټول اندامونه دِ زما د آواز فرمانبردار وی...

"ځکه چه هغه په خپله وآزمائیلے شو نو هغه د هغوئ مدد کولے شی څوک چه آزمائیلے کیږی."
(عبرانیان ۲ : ۱۸)

# عيسیٰ مسيح آزمائيلے شوے کانړے دے.

هغه آزمائيلے شوے باوری او مضبوط بنياد دے. عيسیٰ مسيح فرمائی... تاسو زما د هغه ودانۍ برخی يئ کومی چه به د خدای د جلال نه ډکيږی. په ما کښی پيوست شئ. او تکړه کاريګران پريږدئ چه تاسو په څټک او تيشی باندی وتراشی چه تاسو خپلو نژدو کاڼو کښی برابر شئ. هغه پريږدئ چه تاسو نه ناپاکيانی او د بهر د حالاتو ګرمايش د خپل روح القدس د اور په ذريعه وسوځوی. ما تاسو د استعمال قابل کړئ...

"د دِ دپاره خدای داسی فرمائی. ګورئ زۀ به په صيون کښی يو کاڼے د بنياد دپاره کيږدم. کوم چه به آزمائيلے شوے، مضبوط، او د ګوټ د سر کاڼے وی او څوک چه په هغۀ ايمان راوړی هغه به هميشه قايم او آباد وی."
(يسعياه ٢٨ : ١٦)

# عیسیٰ مسیح ژوندے کانړے دے.

بیا ژوندے شوے مسیح د هغه هر څۀ بنیاد دے څۀ چه خدای کوی. د دِ دپاره زمونږ سخت زړونه د هغه په وجه نرم شول چه مونږ د هغه امن او تعریف د ځائ برخه شو چرته چه خدای اوسیږی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو غوره کړئ. کله چه زۀ تاسو تراشم نو خپلی سترگی زما په مقصد باندی ساتئ. تاسو زما دپاره قیمتی یئ. ځکه چه زۀ ژوندے یم او په دِ وجه به تاسو هم په هغه ځائ کښی د همیشه دپاره ژوندی یئ چرته چه زۀ تاسو واچوم...

"نو مسیح ژوندی کاڼی له راشئ چه بنی آدمو رد کړے خو خدای قیمتی غوره کړے دے. تاسو هم د ژوندو کاڼو په شان د خدای روحانی کور جوړ شئ چه د کاهنانو مقدسه فرقه په جوړېدو داسی روحانی قربانئ پیش کړئ چه د عیسیٰ مسیح په وسیله خدای ته قبولی وی."

(اول پطروس ۲ : ۴ ، ۵)

# عیسیٰ مسیح د مریم زوی (ابن مریم) دے.

دا د خدای منصوبه وه چه د خپل زوی مور جوړیدلو دپاره د اسرائیل یوه پیغله لور خوښه کړی چه د داؤد د کورنئ او د یهوداه د قبیلی نه وی. روح القدس د خدای تخم د مریم په خیټه کښې وکرلو او په دِ وجه د مریم زوی د خدای هم زوی دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ خپل مور مریم سره مینه کوم. ځکه چه هغی خپل ځان د دومره لوئ بدنامئ او غم نه باوجود هم د خدای دپاره استعمال کړو. او هغه د هغه لوئ او عظیمی خوشحالئ نه هم خبره وه. تاسو هم د هغی په شان رویه اختیار کړئ: او د خپل قول په مطابق تاسو هم زما دپاره داسی وکړئ...

"هغوئ ټول په یوه مخه په دعا سر وو اؤ د هغوئ سره د ښځو یوه ډله هم وه چه په کښې مریم د عیسیٰ مور هم وه او د هغۀ وروڼه هم شامل وو."
(اعمال د رسولانو ۱ : ۱۴)

# عیسیٰ مسیح زمونږ خادم دے.

هغه داسې موقعې ګورې چه زمونږ مدد او مرسته وکړي. هغهٔ ځان د دِ دپاره ورکړو چه مونږ د خدای بهترې (ښهٔ والی) ومومو. عیسیٰ مسیح فرمائی، ما پریږدئ چه ستاسو پښې وینځم. کله چه تاسو نه د دنیا ګنده فکرونه ووینځل شی نو تاسو به خپل ځان پاک او تازه محسوسوئ، او د خپلو وروڼو او خویندو او د غریبانانو سره به هم هغسې کوئ لکه څنګه چه ما تاسو سره کړې دی...

"خو په تاسو کښې دِ داسې نهٔ وی. په تاسو کښې چه څوک لوی کیدل غواړی هغه د ستاسو خادم شی، اؤ هر هغه څوک چه په تاسو کښې د ټولو نه وړومبې کیدل غواړی هغه د په خپله خوښه د ټولو غلام شی. لکه چه ابن آدم د دِ دپاره نهٔ دے راغلے چه د هغهٔ خدمت د وکړے شی بلکه د نورو خدمت د وکړی او خپل ژوند دِ د ډیرو دپاره قربان کړی."
(متی ۲۰ : ۲۶-۲۸)

# عیسیٰ مسیح زمونږ د روحونو شپونکے دے.

عیسیٰ مسیح مونږ باندی لکه د خپلو ګډو په شان رحم کوی. د هغهٔ رحم (همدردی) زمونږ بدنونو، ذهنونو، یادونو او روحونو ته شفا ورکوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو ته د هغه هر څهٔ تعلیم درکړو د څهٔ چه تاسو ته ضرورت دے. کله چه زهٔ تاسو د ژوند په کړو لارو تیرومه نو تاسو به زما د زړهٔ ټوپونه او زما د اسویلو ګرمی محسوس کړئ. زهٔ مسلسل خپل ځان تاسو ته درکوم چه تاسو د هر څهٔ کولو قابل شئ...

"هغهٔ زمونږ ګناهونه سولئ ته د خپل ځان سره یوړل د دِ دپاره چه مونږ ګناهونو ته مړهٔ شو اؤ د صداقت دپاره ژوند تیروو، او د هغهٔ په زخمونو تاسو شفا ومونده. ځکه چه وړومبی تاسو د بی لاری ګډو په شان ګرزیدلئ خو اوس د خپلو روحونو شپونکی اؤ څارونکی ته بیا راغلی یئ."
(اول پطروس ۲ : ۲۴ ، ۲۵)

# عیسیٰ مسیح د ګډو لوی شپونکے دے.

کۀ مونږ ګډی یو نو مونږ نازک او کمزوری یو او د ځان حفاظت نۀ شو کولے او په دِ وجی مونږ ته داسی شپونکے پکار دے چه زمونږ ښۀ حفاظت او پرورش کوی. او عیسیٰ مسیح داسی شپونکے دے چه زمونږ حفاظت او پرورش کولے شی او مونږ خپلی رمی ته راولی. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو خپل باغی فطرت د هغه ګډو په شان زما په باوری صلاحیتونو کښی بدل کړئ کوم چه زما په حفاظت کښی دی. زۀ هغه یو څیز هم ورکیدل نۀ غواړم کوم چه ما ته خدای راکړی دی...

"مالک عیسیٰ چه د ګډو لوی شپونکے دے چه هغۀ د خپلی وینی په وسیله د تل وعده تړلی ده، هم هغه خدای چه د سلامتئ سرچینه دے، له مړو نه بیا ژوندی پورته کړو. اوس هم هغه خدای تاسو په هره خبره کښی تیار کړه چه د هغۀ مرضی پوره کړئ، او هر څۀ چه هغه خوښوی د عیسیٰ مسیح په وسیله هم هغه په مونږ کښی پیدا کړی. د هغۀ حمدوثنا د تل تر تله وی. آمین."
(عبرانیان ۱۳ : ۲۰ ، ۲۱)

اکتوبر ۱۲

## عیسیٰ مسیح ښهٔ شپون دے.

هغهٔ خپل ځان د هغه خلکو د بچ کولو، بحال کولو، او آزادولو دپاره ورکړو کوم چه د هغهٔ رمی ته راغلی دی چه په کښی اول یهودیان او بیا غیریهودیان شامل دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما پریږدئ چه د امن په لارو کښی ستاسو رهنمائی وکړم. او ما پریږدئ چه تاسو د کاڼو او د خطرو او د مرګ په لارو داسی ځائ ته بوځم چرته چه د اوبو تکلیف نشته، او چرته چه به ستاسو دښمنان تاسو ته څهٔ نهٔ شی وئیلی ځکه چه هلته به تاسو ماسره اوسیږئ او زما په میز به روټئ خورئ...

"ښهٔ شپون زهٔ یم. زهٔ خپلی ګډی پیژنم اؤ ګډی ما پیژنی، لکه چه ما پلار پیژنی اؤ زهٔ پلار پیژنم، اؤ زهٔ خپل ځان د ګډو دپاره قربانوم. او زما نوری ګډی هم شته چه هغه د دِ شپول نهٔ دی، خو د هغوئ راوستل ضروری دی اؤ هغوئ به هم زما آواز آؤری، نو بیا به رمه یوه شی اؤ شپونکے به یی هم یو وی."
(یوحنا ۱۰ : ۱۴-۱۶)

## عیسیٰ مسیح قربانی ده.

هغه زمونږ ګناهونه، بیماریانی، او غمونه په خوشحالئ سره په صلیب باندی په خپل سر د دِ دپاره واخستل چه زمونږ رشته هغه پاک او منصف خدای سره مضبوطه وی. هغه د ټولو دپاره، زما دپاره او زمونږ په ځائ مړ شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ستاسو دنیاوی مینه زما د هغه مینی ابتدا ده کومه چه زهٔ تاسو سره کوم. زما مینه تاسو نه هیڅ نهٔ غواړی خو کله چه تاسو په دِ کښی ورننوزئ نو تاسو به په خپله خوښه خپل هر څهٔ ما ته راکړئ. کله چه تاسو خدای ته د عبادت قربانی ورکړئ نو تاسو به خوشحالی محسوسوئ او تاسو به ښهٔ کارونه کوئ تاسو به هغه هر څهٔ په خپلو کښی تقسیموئ کوم چه ما تاسو ته درکړی دی...

"خو مسیح د همیشه دپاره د ګناهونو د لری کولو دپاره په یوی قربانئ پیش کولو د خدای ښی لاس ته کښیناستو. او له هغه وخت نه په دِ انتظار دی چه د هغهٔ دښمنان د هغهٔ د پښو د لاندی کړے شی. ځکه چه هغه په یوی قربانئ پیش کولو هغوئ همیشه دپاره کامل کړی دی کوم چه پاک شوی دی."
(عبرانیان ۱۰ : ۱۲-۱۴)

اکتوبر ۱٤

# عیسیٰ مسیح صابون دے.

عیسیٰ مسیح د صفائی هغه جز دے کوم چه دهوبیان د کپړو وینځلو دپاره استعمالوی. اسرائیلیان د بوټو ایری د صابون په ځائ استعمالوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو به د پښو لاندی شئ. تاسو به په اور کښی واچولے شئ. تاسو به پاک شئ ځکه چه زۀ تاسو سره دِ دپاره یم چه تاسو وینځم او د هغه هر څه نه مو آزاد کړم کومو چه تاسو په زمکه باندی تړلی یئ ځکه چه تاسو د هر څۀ نه اول زما د بادشاهئ تلاش وکړئ...

" ګورئ زۀ به خپل رسولان درلیږم او هغوی به زما نه مخکښی لاره صحیح کوی او خدای د چا چه تاسو لټون کوئ هغه به ناګهانه خپل کور ته راشی. او د وعدی رسول د چا چه تاسو خواهش مند یئ ربُ الافواج فرمائی هغه به راځی. خو څوک به د هغۀ د راتلو ورځ برداشت کړی؟... ځکه چه هغه د زرګر د اور او د دهوبی د صابون په شان دے."
(ملاکی ۳ : ۱-۲)

## عیسیٰ مسیح مقدس کوونکے دے.

هغه مونږ د دِ دپاره پاک، صفا او مقدس کوی چه مونږ د خدای په وړاندی د پیغمبرانو په شان بیالزامه او بی عیبه شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو د ځان دپاره غوره کړی یئ. زما پیروی کوئ. د دِ قیمت د دنیا هغه هر څۀ دے څۀ سره چه تاسو مینه کوی. د دِ ګټه هغه هر څۀ دی کوم چه زما پلار سره دی. هیڅوک هم په کوششونو خپلی لاری د آسمان طرف ته نۀ شی اوړدولے. څوک په بتانو، په فلسفی، په خیالونو یا فکرونو باندی خدای نۀ شی پیدا کولے کۀ دوی بابل هم جوړ کړی نو خدای به هغوی ګډوډ کړی. زما پیروی وکړئ، ما سره مینه وکړئ ځکه چه زۀ واحد لاره یم...

"لکه چه تا زۀ دنیا ته را استولی یم دغسی ما دوئ دنیا ته استولی دی. اؤ اوس زۀ د دوئ د خاطره خپل ځان مقدس کوم چه دوئ هم د حقیقت په وسیله مقدس شی. خو زۀ یواځی د دوئ دپاره دعا نۀ کوم بلکه د هغه ځا دپاره هم څوک چه د دوئ د کلام په وسیله په ما ایمان راؤړی. تۀ دوئ ټول یو کړه."
(یوحنا ۱۷ : ۱۸-۲۱)

# عیسیٰ مسیح د اوبو چینه ده.

هغه داسې چینه ده چه د وچې دشتې په مینځ کښې د ژوند پاکې او خالصې اوبۀ راوولې. عیسیٰ مسیح فرمائي... زۀ ستاسو نه خبر یم. زۀ ستاسو د هغه خاوندانو نه خبر یم چا سره چه تاسو اوسیږئ کله چه تاسو ما سره مینه ښکاره کړئ. زما د کوهې نه اوبۀ اوڅکئ او ځان دپاره ذخیرې مۀ جوړوئ ځکه چه دا مصنوعي او زر ماتیدونکې دي. زما نه اوڅکئ چه تاسو نه د ژوندون د اوبو داسې ذخیره جوړه شي کومې چه به نۀ ختمیدونکې وي او دا به هغه ټولو ته ورسي څوک چه ستاسو نه ګیر چاپیره دي...

"حوصله پیدا کړې او مۀ ویریږئ. ګورئ ستاسو خدای جزا او سزا سره راتلونکے دے. آو خدای به راځي او تاسو به بچ کوی. په هغه وخت به د ړاندو سترګې او د کڼو غوږونه کولاؤ شي. نو ګوډیان به لکه د اوسو په شان ټوپونه وهي او ګونګیان به د خوشحالئ سندرې وائي. او په بیابان او دشتو کښې به د اوبو دریابونه راوځي. وچې زمکې به تالاب شي او د تږې زمکې نه به د اوبو چینه جوړه شي.
(یشعیاه ۳۵ : ۴-۷)

# عیسیٰ مسیح د جلال نه ډك دے.

هغه د خدای حضوری ده او هغه د خدای خلکو هغه وخت وپیژندو کله چه د هغهٔ د جلال نور هغه ځائ روښانه کړو کوم ځائ کښې چه هغه موجود وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما کلام روزانه ووایئ او خپل ځان کښې یې جذب کړئ او د خپل ځان او بدن حصه یې کړئ. زما کلام خپلو دوستانو او د خپلې کورنئ نورو خلکو سره ووایئ او دا واورئ چه زهٔ هغوی ته څهٔ وایم. دا زما خواهش دے چه تاسو داسې وکړئ ځکه چه په داسې کولو به تاسو د هغه فضل نه خبر شئ کوم چه په تاسو، ستاسو په کورنئ، ستاسو په همسایه او په ټولې دنیا باندې دے...

"ځکه چه دوه یا درې تنه چه چرته هم زما په نوم یو ځای شی نو زهٔ به د دوئ په مینځ کښې یم."
(متی ۱۸ : ۲۰)

# عیسیٰ مسیح یو شان دے.

هغه هیڅ کله نۀ بدلیږی. عیسیٰ مسیح د انسان په شان په زمکه هر ځۀ وکړل او خپلو مریدانو ته یی د هر ځۀ کولو طاقت ورکړو او نن هم هغه هغه خلکو ته قوت ورکوی څوک چه په هغۀ باندی ایمان لری. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو ته په ټولو ناپاکو روحونو اختیار درکړو چه تاسو ئی د خلکو نه اوباسئ او خلکو ته د هر قسم د بیمارو او مرضونو نه شفا ورکړئ. زۀ تاسو ته دا وایم چه لاړ شئ او خلکو ته ووایئ "چه د خدای بادشاهی نژدی ده." خلکو ته شفا ورکړئ، مړی ژوندی کړئ، جزام پاک کړئ، بدروحونه اوباسئ، او څنګه چه تاسو ته مفت ملاؤ شوی دی داسی تاسو هم مفت ورکړئ. د سرو او د سپینو تلاش مۀ کوئ. آیا دا کلام په تاسو کښی پیدا شوے دے؟ چه څۀ تاسو وغواړئ نو هغه به تاسو ته ملاؤ شی...

"عیسیٰ مسیح پرون، نن او تل تر تله په یو شان دے."
(عبرانیان ۱۳ : ۸)

اکتوبر ۱۹

## عیسیٰ مسیح شیلوه دے.

هغه "امن ورکوونکے،" "آرام،" "رالیږلے شوے،" او "برحق دے." یعقوب د مخکښی نه رویه کتلی وه چه خدای به د یهوداه د قبیلی نه شیلوه، مسیحا راولیږی او هغه به د ټولو خلکو بادشاه وی. هغه به خلک د هغه هر څۀ کولو قابل کړی د کوم دپاره چه خدای هغوی پیدا کړی دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ ستاسو په ژوند د حکومت کولو دپاره راغلے یم. کله چه تاسو زما په لاره ځئ نو تاسو ته به آرام اطمینان، امن او تکمیل حاصل شی. تاسو د خپل ځان نه بغاوت او سرکشی لری کړئ چه تاسو زما په کامیابئ باندی پوهه شئ...

"د یهوداه د نسل نه به بادشاهی او د حکومت عصا تر هغه پوری لری نۀ شی. تر څو چه شیلوه رانۀ شی او قومونه به د هغۀ فرمانبرداری کوی."
(پیدایښت ۴۹ : ۱۰)

## عیسیٰ مسیح تیز نمر په شان ځلیدونکی دے.

د هغهٔ په موجودګئ کښې د ډیوی یا د نمر ضرورت نشته ځکه چه په هغهٔ کښې تیارهٔ نشته او هغه د همیشه رڼا ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو د دنیا نور یئ. پریږدئ چه ستاسو نور په نورو خلکو وځلیږی چه هغوی ستاسو ښهٔ کارونه وګوری. ما ټول نعمتونه او صلاحیتونه تاسو ته درکړل او زهٔ دِ دپاره تاسو کښې دننه یم چه زما مینه، خوشحالی او امن ستاسو د سترګو او مخونو په وسیله نورو ته وځلیږی او چه هغوی ستاسو په وجه خدای ته راشی. نن ما پریږدئ چه ستاسو په وسیله وځلیږم...

"اؤ د دِ ډیوټونو په مینځ کښې یو د "ابن آدم په شان" وو چه تر پښو پوری یی چوغه آغوستی وه اؤ په سینه یی د سرو زرو سینه بند تاؤ کړے وو. د سر ویښتهٔ یی لکه د واؤری یا سپینی وړئ په شان سپین وو اؤ سترګی یی د اور د شغلو په شان وی.اؤ هغهٔ په ښی لاس کښې اُووه ستوری نیولی وو اؤ د هغهٔ د خلی نه یوه تیره دوه مخی توره راووتله اؤ د هغهٔ څیره د تیز نمر په شان ځلیده."
(مکاشفه ۱ : ۱۳ ، ۱٦)

# عیسیٰ مسیح سورے دے.

هغه په دشتو په میرو او په وچه زمکه زمونږ پناه ګاه ده او مونږ ته آرام او تازګی راکوی او زمونږ حفاظت کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... د دِ نوی مادی پرسته او ترقی یافته سوسائټی د لاندی د هېوکو داسی دره ده کومه چه د خدای د جذبوونکی حضور په رڼا سپینه (پاکه) شوی ده. زهٔ داسی نمر یم چه تشوالی او زوال ښکاره کوم. زهٔ داسی سورے یم کوم چه د هغو خلکو حفاظت کوی څوک چه په خپل زړهٔ سره زما تلاش کوی. ما ته بغیر د څهٔ ویری نه راشئ او خپل ځانونه کولاؤ کړئ. زهٔ به په مینه او نرمئ سره تاسو پاک کړم. او زهٔ غواړم چه تاسو ته د بیا ژوندی کیدو ژوندون درکړم...

"کله چه خدای د صیون د لوریانو ګندګئ پاکوی نو د یروشلیم وینه به د انصاف په روح او د سوځونکی روح په وسیله وینځی. نو بیا به د صیون په هر کور کښی او مجلسونو کښی د ورځی وریځی او د شپی رڼا پیدا کیږی. او ټول جلال به د یو چترئ په شان وی. او یوه خیمه به وی کومه به چه د ګرمئ په ورځو کښی د سوری ځائ او د طوفان او جهړئ په وخت کښی د آرام او پناه ځائ وی."
(یشعیاه ۴ : ۴-۶)

اکتوبر ۲۲

# عیسیٰ مسیح کرونکے دے.

هغهٔ خپل خلک د ښهٔ تخم په شان په زمکه خوارهٔ کړل چه هغوی د خدای د بادشاهئ دپاره ښهٔ فصل تیار کړی. د تخم کرونکی زمه واری دا وی چه هغه د فصل نه گنده بوټی وباسی او وئی سوځوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو منتخب کړئ، ما تاسو وکرلئ او چه تاسو غټیږئ نو زهٔ ستاسو حفاظت کوم. د خپل ځان نه گیرچاپیره د خور شوی بدو فکر مهٔ کوئ کوم چه تاسو د الزام لگولو او نورو خلکو ته د تکلیفونو ورکولو دپاره استعمالول غواړی ځکه چه دا د دښمن سازش دے څوک چه تاسو بربادول غواړی. پریږدئ چه د مینی، خوشحالئ، امن، صبر، مهربانئ او د رحمدلئ میوه په تاسو کښی پیدا شی. د خدای په بادشاهئ کښی زما مقصد برخی شئ...

"ښهٔ تخم کرونکے ابن آدم دے، پټی دا دنیا ده، ښهٔ تخم د بادشاهئ زامن دی اؤ جمدر د شیطان اؤلاد دے. اؤ هغه دښمن چا چه جمدر کرلی دی هغه ابلیس دے، فصل روستئ زمانه ده اؤ لو کوونکی فرښتی دی."

(متی ۱۳ : ۳۷-۳۹)

اکتوبر ۲۳

## عیسیٰ مسیح تخم (نسل، اولاد) دے.

د خدای تخم د مریم نومی ښځی په خیټه کښی دِ دپاره واچولے شو چه مسیح پیدا شی. عبرانیان خپل ځانونه د پلار په نسل کښی شماری نو ځکه په پیدایښت کښی چه د مسیح په باره کښی کومه پیشن ګوئی شوی وه هغه بالکل مختلف او بی مثاله وه. چه هغه به د یو داسی ښځی نه پیدا شی چه هغه به د سړی نه بالکل ناواقفه وی. شیطان به په مسیح باندی حمله وکړی خو مسیح به پری غالب شی. او اوس د شیطان ټول طاقت د مسیح د پښو د لاندی دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما په تاسو کښی خپل تخم وکرلو، او په دِ کښی د خدای بادشاهی، رښتیا او په شیطان باندی د غالب کیدو قوت دے. د دِ تخم پرورش زما د کلام په اوبو او د خدای د عبادت په نمر وکړئ...

"او زهٔ به ستا او د ښځی په مینځ کښی او ستا د اولاد او د ښځی د اولاد په مینځ کښی دښمنی واچوم نو دوی به ستا سرټکوی او تهٔ به د دوی پوندی چیچي."

(پیدایښت ۳ : ۱۵)

## عیسیٰ مسیح عصا ده.

د خدای په لاس کښې عیسیٰ د اختیار عصا ده کومه چه د خدای د لوئ او عظیم سلطنت نښه ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو د بادشاه خپلې شوی لوریانی او زما د غوره کړے شوی ناوی برخې یئ. ما تاسو په خپل جلال او د ګلونو په هغه جامو ښایسته کړی یئ کومې چه ما ډیزاین کړې دی. ستاسو جامې به د سروزرو، د موتیانو او د قیمتی کاڼو په امیلونو سنګار وی. دا هغه خالص سوچونه، کلام او اعمال دی کوم چه په تاسو کښې زما د کار کونکی روح القدس په ذریعه راځی. خپل ځان نه ګنده خرابی او د خپل صداقت جامې وباسئ چه زۀ درته د خپلې شکرګزارئ جامې واچوم...

"اے خدایا! ستا تخت تل تر تله دے. ستا د سلطنت عصا د صداقت عصا ده. تا د صداقت سره مینه او د بدکارئ نه نفرت وکړو نو په دِ وجه مالکه ستا خدای ته د خوشحالئ په تیلو د خپلو ټولو همسرو نه زیات مسح کړی."
(زبور ۴۵ : ٦ ، ٧)

# عیسیٰ مسیح نخښنه ده.

یشعیاه نبی د اول نه پیشن ګوئی کړی وه چه هغه به د یوی پیغلی جینئ نه پیدا شی او هغه به د اسرائیلو دپاره د خدای د حفاظت نخښنه وی. هغه د یونس نښه ده؛ څنګه چه یونس دری ورځی د کب په خیټه کښی وو دغسی هغه هم دری ورځی په قبر کښی وو او بیا ژوندے شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو یو نوی ځائ ته ځئ نو تاسو د خپلی لاری پیدا کولو دپاره مختلفی نخښنی استعمالوئ. نو دغسی تاسو د خدای د بادشاهئ په سفر کښی هم په ما باندی نظر ساتئ، زما پیروی کوئ، زما فرمانبرداری کوئ، او په ما ایمان ساتئ. او زهٔ هغه نخښنه یم چه تاسو سره مینه کوم...

"خو فرښتی ووئیل چه: ویریږئ مه! ما تاسو ته یو زیرے راوړے دے چه د خلکو دپاره به یوه لویه خوشحالی وی، چه نن د داؤد په ښار کښی ستاسو خلاصوونکے پیدا شوے دے چه هغه مسیح مالک دے! اؤ ستاسو دپاره د هغهٔ دا نخښنه ده چه یو ماشوم به په اوړنی کښی نغښتے په اخور کښی پروت وموموئ."
(لوقا ۲ : ۱۰-۱۲)

اکتوبر ۲۶

## عیسیٰ مسیح پرقیدونکی (ځلیدونکی) ستوری دی.

هغه داسی ځلیدونکے شهزاده دے چه په قومونو حکومت کوی؛ او هغه دا اختیار هغوی ته هم ورکوی څوک چه غالب شی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما عیسیٰ خپله فرښته درولیږله چه تاسو ته د هغه څیزونو ګواهی درکړی کوم چه د کلیسا ګانو دپاره دے. زۀ د داؤد د نسل نه او د سحر ځلیدونکے ستورے یم. او روح القدس او ناوی وائی چه راشئ، او هغه تږی خلک پریږدئ څوک چه دا خواهش کوی چه د ژوندون اوبۀ مفت اوڅکی...

"زۀ خو به هغه ګورم صحیح خو اوس نه. هغه به ما ته ښکاری هم خو د نزدی نه نۀ. د یعقوب نه به یو ستورے راوځی او د اسرئیل نه به یو عصا راوچته شی او هغه به د موآب تندی په وهلو وهلو مات کړی، او ټول هنګامه کوونکی به هم هلاک کړی."
(شماره ۲۴ : ۱۷)

# عیسیٰ مسیح نوی سندره ده.

هغه د نوی ساز او تازه شاعرئ آغاز دے کوم چه د تیرو شوو ټولو روحانی سندرونه ښۀ او معیاری دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... صفیناه نبی پیشن ګوئی کړی وه چه "مالکه کوم خدای چه تاسره دے هغه قادر دے؛هغه به مونږ بچ کړی، هغه به ستا د خوشحالئ په وجه خوشحالی کوی، هغه به په خپله مینه کښی خوشحاله وی، او هغه به په سندره وئیلو کښی ستا دپاره خوشحالی کوی." د یوحنا په مکاشفه کښی تاسو ګورئ چه فرښتو او رسولانو به په یو ځائ سندری وئیلی. زۀ ساز او سندره یم. په دِ سندره کښی خپله حصه زده کړئ او نورو خلکو سره یو ځائ آسمانی (روحانی) سندری ووایئ...

"کله چه هغۀ واخستو نو څلور حیوانان اؤ څلیریشت مشران د هغه ګډوری په وړاندی په سجده شول، اؤ د هر یو مشر سره یو ستار وو اؤ ورسره د خوشبوئ نه ډک د سرو زرو جامونه وو چه د پاکانو دعاګانی دی. اؤ هغوئ یوه نوی سندره وئیله چه: تۀ د دِ لائق یی چه کتاب واخلی اؤ مهرونه یی مات کړی ځکه چه تۀ حلال کړے شوی اؤ په خپله وینه دِ د خدای دپاره له هر خیل، له هری ژبی اؤ له هر قوم اؤ امت خلق په بیعه واخستل. اؤ له هغوئ نه تا د کاهنانو بادشاهی جوړه کړه چه زمونږ د خدای خدمت وکړی اؤ هغوئ به په مزکه بادشاهی کوی."
(مکاشفه ۵ : ۸-۱۰)

## عیسیٰ مسیح لټوونکی دے.

د خدای د تابعدارئ او شکرګزارئ (عبادت) په طور عیسیٰ د هغه خلکو د تلاش کولو خواهش کوی څوک چه د هغهٔ د آسمانی کور د لاری نه نادرکه شوی وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما ډیر وخت تاسو د بیابانونو په لارو باندی ولټولئ دِ دپاره چه تاسو خپلو لاسونو ته راولم. ما سره نور خلک هم شته چه چغی وهی څکه چه هغوی ویریږی او لاره نهٔ شی پیدا کولے. آیا تاسو به هغه محفوظ او د ډیرو خلکو ځائ پریږدئ او ما سره به د هغوی د لټولو دپاره لاړ شئ؟

"ستاسو څهٔ خیال دے؟ فرض کړئ چه د یو سړی سل ګډی دی. کهٔ په هغو کښی یوه ورکه شی، آیا هغه دا نوری یو کم سل د هغی یوی د لټولو دپاره د غرهٔ په خوا کښی پری نهٔ ږدی؟ اؤ چه کله هغه دا بیامومی نو زهٔ تاسو ته دا وایم چه هغه د هغی په موندلو د دِ یو کم سلو د موجودګئ نه زیات خوشحاله شی."
(متی ۱۸ : ۱۱-۱۳)

اکتوبر ۲۹

# عیسیٰ مسیح مقدس دے.

عیسیٰ هغه پاک ځائ دے چرته چه خدای اوسيږی او چرته چه مونږ د خپل حفاظت دپاره تللے شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... په دِ زمکه چرته چه د شیطان بادشاهی ده او چرته چه په تاسو پوری په ما د ایمان لرلو په وجه ټوقی کیږی تر دِ چه تاسو زما د نوم دپاره تکلیفونه زغمئ نو د دِ هر تکلیف د ختمولو دپاره ما خپل زړهٔ کښی پریږدئ. زهٔ به ستاسو مقدس ځائ یم. تاسو به د خپلو دښمنانو په وړاندی زما پلار سره په یو دسترخوان یو ځائ کښینئ او هغهٔ سره به خبری کوئ کهٔ چری تاسو ماسره زما په مقدس ځائ کښی اوسيږئ...

"تهٔ رب الافواج ته مقدس ګوره او د هغهٔ ویریږه او د هغه خائف اوسه. او هغه به یو مقدس وی خو د اسرائیل د دواړو کورنو دپاره به د غم او د تیندک کاڼے وی."
(یشعیاه ۸ : ۱۳ ، ۱۴)

# عیسیٰ مسیح د ژوندی خدای زوی دے.

په زړی عهد نامه کښی د ژوندی خدای تصور به د بی‌بسه کانو د بتانو سره کیدلو. په مسیح کښی مونږ د خدای همدردی او په شیطان د غالب کیدلو قوت ګورو. عیسیٰ مسیح فرمائی... نن به تاسو فیصله کوئ چه تاسو د ژوندی خدای خدمت کوئ کوم چه تاسو سره مینه کوی یا په دِ دنیا کښی چه د دروغو خدایان دی. تاسو زما د مینی دپاره پیدا شوی یئ کومه چه زۀ تاسو سره کومه او کله چه تاسو د ځان دپاره مړه شئ او زما په مینه کښی ژوندی شئ نو تاسو ته به حقیقی خوشحالی ملاؤ شی...

"هغۀ ورته ووئیل چه "تاسو څۀ وایئ، چه زۀ څوک یم؟" شمعون پطروس جواب ورکړو، "تۀ د ژوندی خدای زوی مسیح یی." بیا عیسیٰ ووئیل، اے د یوحنا زویه شمعونه! تۀ بی شکه بختور یی، تا دا خبره د فانی انسان نه نۀ ده زده کړی بلکه زما آسمانی پلار دا ستا په زړۀ کښی اچولی ده."
(متی ۱٦ : ۱۵-۱۷)

# عیسیٰ مسیح مسافر دے.

دوه زره کاله مخکښې د یهودی رواج په مطابق هغه پردے او یو مسافر ګڼلے کیدو. د هغۀ خپلو خلکو هغه د ښار نه وشړلو او هم خپلو خلکو په هغۀ ایمان رانۀ وړو. مذهبی مشرانو هغه خطرناک ګڼلو او هغوی د هغۀ د مرګ منصوبې جوړولې. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه زۀ په صلیب باندې وم نو په هغه وخت هم ما خپل پلار ته ووئیل چه دوی معاف کړه. زۀ غواړم چه ستاسو رویه هم هغه خلکو سره هم داسې وی څوک چه ستاسو نه نفرت کوی. کله چه زۀ تاسو کښې یم نو تاسو به پوهه شئ چه په ردکوونکی به تاسو څنګه معافی سره غالب شئ. دِ دپاره به تاسو مسافرو ته خوش آمدید (هر کلے) وائی لکه څنګه چه تاسو ما ته هر کلے وئیلے دے...

"کله چه زۀ وږے وم تاسو زۀ موړ کړم، اؤ چه تږے وم اوبۀ مو د څښلو دپاره راکړې، اؤ چه زۀ مسافر وم نو تاسو زۀ خپل کور ته ننه ایستم."
(متی ۲۵ : ۳۵)

## عیسیٰ مسیح د شیطان د کور تالا کوونکی دے.

هغه د مرګ په وسیله دوزخ ته لاړو او د خدای هغه خلک یی هلته نه راوستل چا چه د هغهٔ د راتلو انتظار کولو. نن هغه د شیطان په بادشاهئ کښې داخلیږی او هغه خلک خلاصوی څوک چه د شیطان په قبضه کښې دی او د چا نه چه خلاصون اخیستل شوے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... د خپلو شاګردانو په حیثیت ما تاسو ته اختیار درکړے دے چه هغه مضبوط سړے شیطان اوتړئ او د هغهٔ قیمتی کور تالا کړئ او زما هغه خلک تری راولئ کوم چه هغهٔ زما نه پټ کړی دی. ما تاسو ته پوهه درکړه دِ دپاره چه تاسو ته پته ولږی چه هغه به په څنګه زنځیر تړئ. ما تاسو ته اختیار درکړو چه د هغوی زنځیرونه مات کړئ او خپل روح القدس د هغوی په ژوند کښې پریږدئ. او په دعا کښې مونږ د هغوی مدد کولے شو څوک چه آزادی غواړی...

"خو هیڅوک هم د زورور په کور په زور ننوتی نهٔ شی اؤ د هغهٔ سامان تالا کولے نهٔ شی تر څو چه هغه زورور سړے یی تړلے نهٔ وی، بیا د هغهٔ کور لوټلی شی."
(مرقوس ۳ : ۲۷)

## عیسیٰ مسیح د تینده‌کی خوړلو کاڼی دے.

په مصلوب شوی مسیح باندی ایمان لرل د یهودیانو دپاره د تیندک کاڼے او د غیر یهودو دپاره کم عقلتوب دے. په هغهٔ کښی مونږ د مذهبی رسمونو یا کارونو دپاره نه بلکه د یو بل سره د مینی کولو دپاره رابللی کیږو. عیسیٰ مسیح فرمائی... ماته وګورئ. ما تاسو ته ایمان درکړو چه تاسو د تیندک خوړلو نه بچ شئ. ما تاسو ته هغه مینه او معافی درکړه د کومی چه تاسو ته ستاسو ورونو او خویندو ته او دِ فانی دنیا ته ضرورت دے. زما مینه ستاسو ده...

"نو بیا مونږ څهٔ ووایو؟ چه غیریهودی قومونه چه د خدای سره د صادق کیدلو کوشش یی ونهٔ کړو خو هغهٔ هغوئ د ایمان په وسیله صادق کړل. خو بل پلو چه بنی اسرائیلو چه د شریعت په وسیله د خدای سره د صادق کیدلو کوشش وکړو نو هغوئ کامیاب نهٔ شول. داسی ولی وشول؟ د دِ وجه دا وه چه د هغوئ کوشش د ایمان په وسیله نهٔ وو بلکه په عمل وو. هغوئ په کاڼی تیندک وخوړلو. لکه چه صحیفی وائی چه: "ګورئ، زهٔ دلته په صیون کښی د تیندک یو کاڼے اؤ د غورزولو دپاره یو ګټ ږدم، خو څوک چه په هغهٔ ایمان لری، هغه به شرمولی نهٔ شی."."
(رومیان ۹ : ۳۰-۳۳)

نومبر ۳

# عیسیٰ مسیح شکست ورکوونکی دے.

هغه ګناه او مرګ ته شکست ورکړو. اوس مونږ په خوشحالئ سره د هغۀ په جلوس کښی شاملیدئ شو ځکه چه عیسیٰ مسیح کامیاب شوے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... "خو د خدای شکر دے څوک چه په مسیح کښی مونږ لکه د قیدیانو د فتحمندئ په جلوس بیائی اؤ د هغۀ د عِلم خوشبوئ زمونږ په وسیله په هر ځای خوروی" (دویم کورنتیان ۲: ۱۴). آیا تاسو محسوسوئ چه ستاسو د ژوند څۀ برخی خرابی دی؟ هغه ماته راوړئ چه زۀ یی د معافئ په اوبو وینځم، او چه د خپلی مینی عطر په تاسو واچوم او چه تاسو خوشحاله شئ چه کله تاسو ته پته ولګی چه د خدای حقیقی کلام په تاسو کښی دے...

"د هغۀ سره ژوندی کړئ اؤ زمونږ ټول ګناهونه یی وبخښل. هر څۀ چه مونږ د شریعت د حکمونو په خلاف قصورونه کړی وو، هغه په یوه روزنامچه کښی لیکلے شوی وو، هغۀ هغه د روزنامچی لیک په خپله وران کړو، یعنی هغه یی په سولئ ټک وهلو، اؤ زمونږ د مخی نه یی لری کړلو. اؤ هغه شان هغۀ د حکومتونو اؤ د اختیار د خاوندانو وسلی واخستلی، یعنی د سولئ په سبب هغوئ له د ماتی ورکولو سره یی د ټولو په مخکښی ماتے خوړلی دښمنان څرګند کړل."
(کولوسیان ۲ : ۱۳-۱۵)

نومبر ٤

# عیسیٰ مسیح بدل شوے دے.

د پطروس، یعقوب او یوحنا په موجودګئ کښې د عیسیٰ شکل بدل شو او د هغهٔ مخ او جامې د نمر په شان په ځلیدو شوې. او خدای د هغهٔ جلال پخپله ښکاره کړو او وئې فرمائیل، "چه دا زما محبوب زوئ دے د چا نه چه زهٔ رضا یم. (متی ۱۷ : ۵). عیسیٰ مسیح فرمائی، ځکه چه زهٔ په تاسو کښې اوسیږم نو ستاسو دماغونه (ذهنونه) نوی شوی دی. ستاسو خواهشونه به بدل شی کهٔ تاسو غواړی چه د خدای ښهٔ او کامله مرضی ستاسو شی...

"اؤ د هغوئ په موجودګئ کښې د هغهٔ شکل بدل شو اؤ د هغهٔ مخ لکه د نمر وځلیدو اؤ هغهٔ جامې لکه د رڼا سپینې شوې."
(متی ۱۷ : ۲)

# عیسیٰ مسیح ماهر او تکړه اُستاذ دے.

هغه مونږ د دِ قابل کوی چه پوهه شو چه هم خدای واحد لاره ده. هغه مونږ ته په مثالونو او تجربو دا ښائی چه مونږ به څنګه د خدای خلق جوړ شو. د هغۀ تعلیم زمونږ اوچت خیالونه، عمل او عکس العمل کټ کوی او زمونږ خواهشونه، ارادی او زړونه د خدای د خوشحالئ په مطابق جوړه وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... هر کله چه تاسو د استاذ سره وخت تیر کړئ نو تاسو به څۀ زده کړئ. ما خپل روح القدس تاسو ته درکړے دے چه په تاسو کښی اوسیږی. د دِ په وجه تاسو زما په پښو کښی کیناستے شئ او زما حکمت حاصلولے شئ. په دِ دنیا کښی دا واحد مضبوط شے دے...

"څۀ وخت چه عیسیٰ دا خبری بس کړی نو خلق د هغۀ په تعلیم حق حیران شول. ځکه چه هغۀ د هغوئ د استاذانو په شان نه، بلکه د اختیار د خاوند په شان یی تعلیم ورکولو."
(متی ۷ : ۲۸ ، ۲۹)

# عیسیٰ مسیح وصیت کوونکی دے.

هغه کامل دے او خدای دِ دپاره راولیږو چه د خدای هغه ټولی وعدی هغوی ته په میراث کښی ورکړی څوک چه په هغهٔ ایمان لری. د هغهٔ د مرګ په وسیله د خدای شرط پورا شو او اوس مونږ د خدای د خپل شوو بچو په شان خوشحالئ کوؤ. عیسیٰ مسیح فرمائی... هر څهٔ چه ما تاسو ته درکړی دی دا زما د مرګ او بیا ژوندی کیدو په وجه ممکن دی او همیشه دِ پوری یوځائ دی. ما تاسو ته وخت، صلاحیت، پیسه او روحانی نعمتونه درکړل چه تاسو دا زما د هدایاتو، زما په طریقو او د هغه خلکو د راوستلو په مقصد کښی استعمال کړئ څوک چه زما کورنئ ته راتلونکی دی...

"نو بیا ولی د مسیح وینه له دِ نه زیات څهٔ ونهٔ کړی! هغهٔ د هغه روح په وسیله چه له ازل نه دے د خپل ځان د یو بی عیبه قربانئ په طور د خدای په مخکښی پیش کړو اؤ د هغهٔ وینه به زمونږ زړونه د داسی کارونو نه پاک کړی چه د هغوئ انجام مرګ دے، چه مونږ د ژوندی خدای عبادت وکړو. ځکه چه چرته چه وصیت دے هلته د وصیت کوونکی مرګ هم ثابتول ضروری دی."
(عبرانیان ۹ : ۱۴ ، ۱۶)

## عیسیٰ مسیح زمونږ خزانه ده.

هغه زمونږ داسی دولت او خزانه ده کوم چه د دِ دنیا د هر څۀ نه لویه او قیمتی ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... کۀ تاسو ما خپل قیمتی ملکیت گڼئ نو بیا تاسو خپل وسائل په آسمانی بینک کښی د زکوة او غریبانانو ته د ورکولو په اکاونټ کښی داسی جمع کړئ لکه چه تاسو هغوی ته په ورکولو کښی زما مدد کوئ. زۀ غواړم چه تاسو هغه خزانی هیڅ ونۀ گڼئ کوم چه د دِ دنیا په ذریعه قیمتی شوی دی. تاسو په ما کښی پوهه، حکمت، علم او قیمتی ملغلری ولټوئ ځکه چه تاسو د نورو ایماندارانو دوستانو سره په مینه کښی تړلے شوی یئ...

"د زیری دا کلام چه مونږ سره دے د یوی خزانی په شان دے چه د خاورو په لوښو کښی وی. خو داسی کیدل ضروری دی چه دا ښکاره شی چه د حده هورته قدرت د خدای له طرفه نه دے، نه چه زمونږ له طرف نه. مونږ د هر طرف نه مصیبتونه خو اوچتوو خو زپلے کیږو نه، پریشان کیږو ضرور خو نا امید نۀ یو، تنگولے کیږو خو یواځی پریښولے کیږو نه، غورزولے کیږو خو هلاکیږو نه. زمونږ په وجود کښی هر وخت د مسیح د مرګ نخښه ده چه د عیسیٰ ژوندون هم زمونږ په وجود کښی څرګند شی." (دویم کورنتیان ۴ : ۷-۱۰)

نومبر ۸

# عیسیٰ مسیح استوګنه (خیمه) ده.

هغه د خدای د اوسیدو داسی ځائ دے چرته چه مونږ د خدای په موجودګئ کښی کښینو او خدای سره مخامخ په مخامخ خبری کوؤ. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ تلے یم چه تاسو ته په خپل مقدس ښار کښی د غرۀ د پاسه کور جوړ کړم چرته چه به تاسو د خدای سره او د هغه د کورنئ سره د همیشه دپاره اوسئ. دا داسی د خوشحالئ د مینی او د خاموشئ ځائ دے چرته چه به ستاسو اوښکی اوچی شی او ستاسو زړو زخمونه ته شفا ملاؤ شی. د دعا په وسیله تاسو هر وخت زما پلار سره د رفاقت ساتلو دپاره ما ته راتلے شئ...

"اؤ ما پاک ښار، یعنی نوے بیت المقدس ولیدلو چه د خدای له طرفه له آسمان نه راکوزیدو، اؤ دا داسی تیار کړے شوے وو لکه چه ناوی د خپل خاوند دپاره ښکلی تیاره کړے شوی وی. ما له تخت نه یو اوچت آواز واؤریدو چه دا یی وئیل چه: ګورئ! اوس خدای د بنی آدمو په مینځ کښی استوګنه کوی، هغه به د هغوئ سره اوسیږی اؤ هغوئ به د هغۀ امت وی اؤ خدای به په خپله د هغوئ سره وی. هغه به د هغوئ د سترګو ټولی اوښکی وچی کړی."
(مکاشفه ۲۱ : ۲-۴)

نومبر ۹

# عیسیٰ مسیح د قوت برج دے.

هغه قلعه ده، هغه داسی جنګی قلعه ده چرته چه مونږ د خپلو دښمنانو نه ځان بچ کوو. عیسیٰ مسیح فرمائی... څومره چه تاسو ما ته نژدی راځئ دومره به تاسو د جنګ میدان صفا او واضح ګورئ. ما تاسو راوبللئ چه تاسو زما د هغه فوج حصه شئ کوم چه د خلکو یا قومونو خلاف جنګ نهٔ کوی بلکه د هغه شیطانی قوتونو خلاف جنګ کوی د کوم په ذریعه چه ګناه، بیماری او غمونه راځی. زما په حفاظت کښی ستاسو کار دا دی چه تاسو هغه مزارونه او هغه ټول غلط څیزونه تباه کړئ کوم چه د خدای د کلام خلاف راوچتیږی...

"اے خدایه زما فریاد واوره! زما په دعا غور وکړه. زهٔ به خپل خفه زړهٔ سره د زمکی د انتها نه تا له آواز کوم. تهٔ ما هغه کاڼی ته بوځه کوم چه ستا نه اوچت دی ځکه چه تهٔ زما پناه او د دښمنانو نه د بچ کیدلو دپاره اوچت برج یی. زهٔ به همیشه ستاسو په خیمه کښی اوسیږم. او زهٔ به ستا د وزرو په سوری کښی پناه اخلم. (سلاه)."
(زبور ٦١ : ١-۴)

# عیسیٰ مسیح حق دے.

هغه د طبیعت نه ربښتونے دے. هغه خدای سره د رشتی هغه معیار دے د کوم دپاره چه انسان پیدا شوے دے. په هغهٔ کښې خدای او انسان دواړه په واضحه توګه ښکاری. عیسیٰ مسیح فرمائی... په صداقت کښې بدن، ذهن او روح شامل وی. تاسو ما یا خپل ځان په هوښیارتیا (ذهانت) نهٔ شی پیژندلئ او کهٔ تاسو داسی کوئ نو دا کبر (غرور) او د بابل پُل تصویر دے. خپل ځانونه حلیم کړئ او په ایمان سره په هغه تنګه دروازه راشئ چرته چه زهٔ هغه یم د څهٔ چه ما دعویٰ کړی ده. نو بیا به تا ته حکمت او علم د خدای د تحفو په شان کولاؤ شی...

"عیسیٰ جواب ورکړو، زهٔ لار یم، زهٔ حق یم اؤ زهٔ ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نهٔ شی راتلے."
(یوحنا ۱۴ : ٦)

# عیسیٰ مسیح رښتینی دے.

هغه مضبوط، ایماندار، وفادار، او انصاف کوونکے دے. هغه مونږ ته کامل خدای ښکاره کوی. هغهٔ چه کوم کلام مونږ ته وئیلے دے او هر کلام چه هغه زمونږ زړهٔ کښی وائی هغه ټول د خدای هغه کلام سره یو شان دے کوم چه موسی او نورو پیغمبرانو ته ورکړے شوے وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د نبوت خواهش کوئ. زما په پښو کښی کښینئ چه زهٔ تاسو سره خبری وکړم او تاسو ته د خپل کلام په وسیله خوراک درکړم. په دنیا (زمکه) کښی د دِ قحط دے. خلک داسی کلام خوری چه د هغی نه هغوی نهٔ مطمئنیږی او نهٔ ورته توانائی ورکوی. زهٔ غواړم چه تاسو زما کلام واورئ او د ځان نه ګیرچاپیره خلک په هغه روټئ باندی ماړهٔ کړئ کوم چه ما تاسو ته درکړی دی...

"بیا ما آسمان پرانستلے ولیدو اؤ هلته زما په وړاندی یو سپین آس وو اؤ د هغهٔ د سوارهٔ نوم وفادار اؤ رښتینے دے، ځکه چه هغه په عدالت کښی اؤ په جنګ کښی رښتونے دے. اؤ د هغهٔ سترګی د اور د شغلو په شان دی اؤ په سر یی ډیر تاجونه وو. په هغهٔ یو نوم لیکلے شوے وو چه بی له دهٔ نه پری هیڅوک نهٔ پوهیدو. اؤ هغهٔ په وینو لړلی جامی آغوستی وی اؤ د هغهٔ نوم د خدای کلام دے."
(مکاشفه ۱۹ : ۱۱-۱۳)

نومبر ۱۲

## عیسیٰ مسیح نرم (زړهٔ سواندې) دې.

هغهٔ زمونږ د خاطره د آسمان تخت پریښودو او د یو کمزورې او نازک بدن ماشوم شکل یې اختیار کړو. څنګه چه هغه غټیدو نو خپل فوق الفطرت قوت یې د خدای د هدایاتو په مطابق استعمالول شروع کړل او خپلو پیروی کوونکو ته یې دا ښودل شروع کړل چه خدای د هغوی په وسیله څهٔ کول غواړي څوک چه په هغهٔ ایمان لري. عیسیٰ مسیح په هغه احساسونو او همدردو باندې نهٔ شرمیدو کوم چه هغهٔ کښې د خلکو د بیمارو او غمونو په وجه پیدا شوی وو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه زما د نرمئ روح په تاسو کښې وی نو بیا تاسو به نهٔ ویرېږئ چه نور خلک ستاسو په باره کښې څهٔ سوچ کوی. تاسو به د هغوی سره ژاړئ څوک چه په تکلیف کښې وی. تاسو به تر هغه وخته پورې زما د کلام تلاش کوی ترڅو چه تاسو د دِ قابل شئ چه د خپل ځان قربانی ورکړئ او زما شفا وګورئ...

"خو هغه د هغهٔ په وړاندې د نرمې غوټئ په شان او د وچې زمکې نه د جرړې په شان راوتو. نهٔ د هغهٔ کوم شکل و صورت شته نهٔ ښائست او کله چه مونږ هغهٔ ته ګورو نو څهٔ حسن و جمال یې نشته چه مونږ یې شوقین شو. خو بیا هم هغه زمونږ خوارئ اوچتې کړې او زمونږ غمونه یې برداشت کړل. اګرکهٔ هغه زمونږ د خطاګانو په وجه زخمی شو او زمونږ د بدکردارئ په وجه مړ کړے شو. او زمونږ د سلامتئ دپاره په هغهٔ باندې سیاست وشو د هغهٔ د وهلو په سبب مونږ ته شفا ملاؤ شوه."
(یشعیاه ۵۳ : ۲ ، ۴ ، ۵)

نومبر ۱۳

# عیسیٰ مسیح شنه ونه ده.

هغه د اسرائیل داسی څانګه ده چه پکی ژوند، اُمید او د خدای مکمل تابعداری ده. کۀ مونږ د هغۀ سره همیشه پیوسته اوسو نو د هغۀ ژوند به مونږ کښی راشی. کله چه مونږ خپله لاره منتخب کړو نو مونږ د یو بی‌کاره او وچی ونی په شان شو کومه چه صرف د سوځولو دپاره ښۀ وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... څوک چه معافی نۀ غواړی نو د هغوی هیڅ قدر نشته. ما ته د رحم ضرورت نشته خو زما په سولئ کښی تاسو دپاره بیا ژوندی کیدل دی. کۀ تاسو زما لاره د ځان دپاره منتخب کړئ نو په هغی کښی ستاسو دپاره صلیب او د همیشه ژوندون دے...

"عیسیٰ هغوئ ته مخ راواړوو اؤ ورته یی ووئیل، اے د بیت المقدس لونړو! په ما پسی ژړا مۀ کوئ خو په خپل ځان اؤ په خپل اؤلاد وژاړئ. ځکه چه کۀ دا کار د شنی ونی سره کیږی نو د وچی ونی سره به څۀ چل کیږی؟"
(لوقا ۲۳ : ۲۸ ، ۳۱)

# عیسیٰ مسیح پټ دے.

دا زمونږ دپاره ناممکنه ده چه د هغه برکت معلومات وکړو کوم چه مونږ ته خدای په عیسیٰ مسیح کښې راکړے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما پریږدئ چه زما د برکت په ټولو کښې هره ورځ ستاسو رهنمائی وکړم. زۀ به په بیابانونو، په ګډوډو اوبو، او په خطرناکو ځایونو کښې ستاسو رهنمائی کوم. کوم بزرګان (اولیا) چه ستاسو نه مخکښې تلی دی هغوی ستاسو دپاره خوشحالیانی کوی. زما برکت ستاسو دپاره د منا په شان دے. هره ورځ چه تاسو ته څۀ ملاؤ شی هغه پخپله وخورئ او یا یی په نورو خلکو تقسیم کړئ. زما برکت په دنیا کښې ستاسو دپاره په شیطان د غالب کیدلو یوه اهم وسله ده...

"په ما چه زۀ په ټولو پاکانو کښې له ورکوټی نه ورکوټے یم، دا فضل وشو چه زۀ غیر یهودیانو ته د مسیح د بی اندازی دولت زیرے ورکړم، اؤ په ټولو دا خبره ښکاره کړم چه هغه راز چه له ازل نه د ټولو څیزونو په پیدا کوونکی خدای کښې پټ وو، هغه به څنګه څرګند کړی، چه اوس د جماعت په وسیله د خدای قسم قسم حکمت هغه حاکمانو اؤ د واک خاوندانو ته معلوم شی څوک چه په آسمان کښې دی."
(افسیان ۳ : ۸-۱۰)

نومبر ۱۵

## عیسیٰ مسیح یو ځای ګوونکی دے.

په هغۀ کښې یهودیان، عربیان، او غیر یهودیان، سپین او تور، بوډهاګان او ځوانان، مالداره او غریبانان، ښځې او سړی، کمیونسټ او یا د خودمختار انسانیت منونکی، دا ټول د خدای ورکړے شوو خصوصیاتو سره د عیسیٰ مسیح په بدن کښې یو دی. هغه فرمائی... ما په هغه خلکو کښې ګورئ ځوک چه زما نوم اوچتوی. کله چه تاسو د قبولیت لاسونه د هغه چا نه راچاپیره کړئ ځوک چه ستاسو نه مختلف وی، نو بیا به تاسو پوهه شئ چه زما لاسونو تاسو نیولی یئ او دا دومره لوئی دی چه هر ځوک په کښې راځی...

"اۇ هغه ځنی رسولان، ځنی نبیان اۇ ځنی یی زیری آۆروونکی اۇ ځنی شپانۀ اۇ استاذان مقرر کړی دی، د دِ دپاره چه د خدای خلق د خدمت دپاره تیار شی اۇ د مسیح بدن په مونږ کښې وده وومی، تر څو چه مونږ ټول په ایمان راوړلو کښې یو شو اۇ د خدای زوی په ښۀ شان وپیژنو. دغسی به مونږ په ایمان کښې بالغان شو، یعنی د مسیح په شان به کامل شو."
(افسیان ۴ : ۱۱-۱۳)

# عیسیٰ مسیح سمبالوونکے دے.

هغه مونږ اوچتوی، مونږ برداشت کوی، زمونږ مدد کوی، او مونږ د دِ دپاره د خطرو نه بچ کوی چه مونږ د هغۀ زړۀ سره نژدی اوسو. عیسیٰ مسیح فرمائی... چا چه تاسو جوړ کړی یئ هغه به تاسو هیڅ کله هم نۀ پریږدی. څوک چه ټول څیزونه په یواځی سمبالوی هغه تاسو هم سمبالوی. نن په ما کښې آرام وکړئ. زما کلام پریږدئ چه تاسو نه چاپیره شی او ستاسو روح کښې ننوځی چه تاسو د دِ قابل شئ چه د ژوند په طوفانونو کښې ما سره زما په کشتئ کښې تیر شئ...

"خو په دِ آخره زمانه کښې یی مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه یی د ټولو څیزونو وارث وګرزولو اؤ د هغۀ په وسیله یی هم ټول کائنات پیدا کړل. چه هغه د خدای د جلال مظهر او د هغۀ د ذات عکس دے او ټول څیزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوی."
(عبرانیان ۱ : ۲-۳)

## عیسیٰ مسیح پوهه لري.

هغهٔ ته پوره علم دے چه دا هر څهٔ څنګه يو ځائ جوړ شول. عيسیٰ مسيح فرمائی... کله چه تاسو زما د شاګردانو په حيث ماته راشئ نو تاسو به حقيقت واورئ او پوهيږئ به پرى، ګورئ به او هغه به محسوسوئ، او په خپل زړهٔ کښې به پوه شئ او توبه به اوباسئ او شفا به درته ملاؤ شى. کله چه تاسو زما د بيا ژوندى کيدو ژوند حاصل کړئ نو زهٔ به ستاسو ذهنونه کولاؤ کړم چه تاسو زما په کلام پوهه شئ. زهٔ تاسو د دِ قابلوم چه تاسو خپله ګناه وګورئ او د هغى نه توبه اوباسئ چه معاف شى. زهٔ تاسو د دِ قابلوم چه تاسو زما کلام په نورو قومونو کښې څرګند کړئ، چه آغاز يى ستاسو د همسايه نه کيږى...

"اؤ د ټولو خلقو چه هغهٔ ته غوږ وو، د هغهٔ په پوهه اؤ په ځوابونو اريان دريان وو."
(لوقا ۲ : ۴۷)

## عیسیٰ مسیح هغه بخښنه ده چه د بیان نه بهر ده.

هغه د خدای هغه بخښنه ده کومه چه د بیان نه بهر ده. د دِ بخښنی اهلیت دا دے چه مونږ خپل ځان او هغه هر څۀ چه د نورو دپاره د عیسیٰ مسیح په بدن کښی لرو هغه وقف کړو او په عاجزئ سره د هغۀ خوشحالی حاصله کړو. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو هیڅ کله هم خدای ته څۀ نۀ شئ ورکولے. د هغۀ بخښنه همیشه تاسو ته درکوی. ما ته راشئ چه تاسو پوهه شئ چه څۀ ورکول دی، څنګه ورکول دی، چا ته ورکول دی، او ولی او کله ورکول دی. د خپلو رسمونو یا کورنو ضرورتونو نه مۀ ویریږئ او نورو ته د ورکولو خواهش مۀ کوئ، ځکه چه نور خلک هم تاسو له درکوی. دا ټول فانی دی. په ما کښی آرام وکړئ او ستاسو بخشش به په حقیقی روح کښی وی کوم چه به خودغرضئ نه پاک او د امن او خوشحالئ نه ډک وی...

"ځکه چه دِ خدمت نه به خلکو ته ثابت شی چه تاسو نۀ یواځی د مسیح زیرے منئ بلکه د هغۀ تابعداری هم کوئ، هغوئ به د دِ دپاره د خدای شکر کوی اؤ د دِ دپاره هم چه تاسو نۀ یواځی د هغوئ بلکه د ټولو خلکو مدد د زړۀ د اخلاصه وکړلو. ځکه چه په تاسو د خدای د لوی فضل په سبب چه په تاسو شوی دے، ستاسو لیواله دے اؤ ډیر په مینه ستاسو دپاره دعا غواړی. شکر دے د خدای د هغه بخښنی چه د بیان نه بهر ده." (دویم کورنتیان ۹ : ۱۳-۱۵)

نومبر ۱۹

# عیسیٰ مسیح بی‌داغه دے.

هغه زمونږ پاک او بی‌عیبه سردار کاهن دے او د هغهٔ پلار خدای سره نهٔ پریکیدونکی رابطه ده. زما او ستاسو دپاره د هغه قربانی کامله ده. عیسیٰ مسیح فرمائی... څهٔ شی تاسو وروستو نه نیولی یئ؟ ما ته یی پریږدئ چه تاسو نه یی لری کړم. زهٔ به د خپلی وعدی په مطابق تاسو د نورو ایماندارانو سره د خدای په وړاندی د هغی پاکی او د بی‌عیبی ناوی په شان پیش کړم، کوم سره چه زهٔ مینه کوم او زما د بدن برخه ده...

"ځکه چه دغه شان مشر کاهن زمونږ هم په کار دے چه هغه پاک اؤ بی ریا اؤ بی‌داغه وی، اؤ له ګناه ګارانو نه جدا کړی اؤ له آسمانونو نه اوچت کړے شوے وی. اؤ د هغه مشرانو کاهنانو په شان دِ ته محتاجه نهٔ وی چه هره ورځ اول د خپلو ګناهونو دپاره اؤ بیا د اسرائیل د امت د ګناهونو دپاره قربانئ ورکوی ځکه چه دا هغهٔ په یو ځل وکړل څهٔ وخت چه یی خپل ځان قربان کړو."
(عبرانیان ۷ : ۲۶ ، ۲۷)

# عیسیٰ مسیح نۀ بدلیدونکے دے.

هغه پرون، نن او د همیشه دپاره یو شان دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... په ما باندی یقین وساتئ ځکه چه زۀ تاسو سره مینه کوم، زما د مینی مطلب تاسو ته دا ښودل دی چه تاسو به څنګه خپل ځان بدلوئ. زۀ په نرمئ سره ستاسو دننه ټول څیزونه سوځوم چه ستاسو خیالونه او سوچونه پاک شی. زۀ په تاسو کښی ښۀ والے پیدا کوم او په تاسو کښی به تر هغه وخته پوری کار کوم ترڅو چه په تاسو کښی په سولئ شوی د کار اثر وشی...

"د کاهنانو شمیر ځکه زیات شو چه هغوئ د مرګ په وجه په خپلی عهدی باندی قائم پاتی کیدے نۀ شو. خو عیسیٰ تل تر تله ژوندے پاتی کیږی، نو ځکه هغه داسی کاهن دے چه د هغه په ځای بل هیڅوک نۀ مقرر کیږی."
(عبرانیان ۷: ۲۳-۲۴)

## عیسیٰ مسیح پتیره ډوډۍ ده.

کومه ډوډۍ چه هغه مونږ ته راکوی هغه عیسیٰ مونږ ته د خپل پاک بدن نه، او د خپل خمبیره قدرت نه او په خپلی مرضۍ راکوی. د دِ ډوډۍ په خوړلو مونږ خپل ځان د قبولی شوی قربانۍ په طور د خدای په وړاندی پیش کوؤ. عیسیٰ مسیح فرمائی... د خپل زړۀ په خواهشونو کښی د خپلی لاری د حاصلولو خمبیره ولټوئ. د خودغرضۍ خواهشونه د ځان نه وباسئ او وئی غورځوئ. کله چه تاسو زما د بڼۀ والی مزه واخلئ نو تاسو به نور هیڅ قسم ډوډۍ مطمین نۀ کړی...

"هغوئ د فسح دپاره تیاری وکړه. اؤ چه وخت راغے نو عیسیٰ سره د خپلو رسولانو ډوډۍ ته کښیناستو.بیا هغۀ ډوډۍ واخستله، شکر یی پری وکړو اؤ ماته یی کړه اؤ هغوئ له یی ورکړه اؤ وی وئیل، "دا زما بدن دے چه ستاسو دپاره ورکړے کیږی. زما د یادګار دپاره هم دغسی کوئ."
(لوقا ۲۲ : ۱۳-۱۴ ، ۱۹)

# هر څۀ د عیسیٰ د پښو لاندې دی.

پلار خدای بیا ژوندے شوے مسیح په آسمان کښې ځان سره کښینولو او هلته یې مسیح د هر قسم حکومت اؤ اختیار او قدرت اؤ ریاست اؤ د هر یو نوم نه زیات اوچت کړو کوم چه به نۀ تش په دې جهان کښې بلکه په راتلونکې جهان کښې هم آخستلے شی. (افسیان ۱ : ۲۱) عیسیٰ مسیح فرمائی... راشئ او ماسره کښینئ. زما په نظر خپل حالات او د شیطان قوت ته وګورئ. داسې وکړئ چه تاسو خپل بې‌حوصله توب، جذبات، او شکونه د ځان نه لرې کړئ. چرته چه مونږ ناست یو هلته ستاسو د ټولو دنیاوی مسئلو حل موجود دے ...

"اؤ هر څۀ یې د هغۀ د پښو د لاندې کړل اؤ هغه یې د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، اؤ جماعت له یې ورکړو چه هغه د جماعت مالک شی. جماعت د مسیح بدن دے، دا بدن د هغۀ نه کامل کیږی چه هغه له ټولو نه په هر څۀ کښې کامل وی."
(افسیان ۱ : ۲۳ ، ۲۴)

# عیسیٰ مسیح زمونږ صادق ثابتوونکے دے.

کله چه مونږ خپل ځان د هغهٔ نه بغیر کمزورے او ضرورت مند ګڼو نو عیسیٰ مسیح زمونږ مدد کوی. هغه په صفائی او حکمت سره زمونږ د ښیګړی دپاره فیصله کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما حکمت ستاسو دے کله چه تاسو وغواړئ. زما معافی ستاسو دپاره ده چه تاسو یی هغوی ته ورکړئ چا چه تاسو زخمی کړی یئ. ما پریږدئ چه تاسو په خپل ځائ کړم او تاسو آزاد کړم د هغه خوشحالئ دپاره د کوم دپاره چه ما تاسو تخلیق کړی یئ...

"ابن آدم په خوړلو څښلو ورله راغی اؤ دوئ وائی چه دهٔ ته ګورئ، یو ګیډه ور اؤ شرابی، د محصولچیانو اؤ بدکارانو ملګرے! خو بیا هم حکمت په خپلو کارونو صادق ثابت شو."
(متی ۱۱ : ۱۹)

# عیسیٰ مسیح د انګورو حقیقي بوټی دے.

هغه د اسرائیل داسی د انګورو څانګه ده چه میوه یی مینه، امن، خوشحالی، او مضبوط ایمان دے. مونږ ته د ډیر ژوند دپاره پکار دی چه په مضبوطه توګه هغۀ سره پیوست شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما د روح د ورکوټی تخم په وسیله به تاسو نه تازه او مزیداره میوه پیدا شی. دا میوه د ځان نه ګیرچاپیره خلکو ته زما د نعمت (بخشش) په طور ورکړئ. ستاسو د امن او مینی تخم به په داسی ځایونو کښی وشی چرته چه به ستاسو څۀ امید نۀ وی. زما خوشحالی به د هغه څانګو زخمونو ته شفا ورکړی کوم چه پلار د میوی نۀ ورکولو په وجه کټ کړی دی...

"حقیقی بوټے د انګور زۀ یم اؤ زما پلار باغوان دے. هره شنډه څانګه هغه پریکوی اؤ هر میوه نیوونکی څانګه پاکوی د دِ دپاره چه هغه نوره زیاته میوه ونیسی."
(یوحنا ۱۵ : ۱-۲)

# عیسیٰ مسیح د ناوادهٔ کړی پیغلې زوئ دے.

د عیسیٰ مسیح د معجزانه پیدائښت پیشنګوئی یشعیاه نبی څو سوه کاله مخکښې کړی وه. چه یوه ناواده کړی پیغله چه د سړی نه به هیڅ خبره نه وی د هغې به یو ماشوم پیدا شی او د هغهٔ پلار به خدای وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ د خپل پلار په مرضئ دِ دنیا ته بی‌یارومددګار راغلم. په دِ وجه خدای ما نه ډیر خوشحاله شو چه ما د انسان په شان نامعلومه ژوند او د خدای نه د ویریدونکی مور په غیږ کښې وخت تیر کړو. مریم د دِ خبری ثبوت دے چه یو انسان څنګه د خدای د حضور نه معموریږی او څنګه د خدای مرضی پوره کوی او د هغهٔ تعبداری کوی...

"خو خدای پاک به تاسو ته یو نشان درکوی. ګورئ یوه پیغله به حامله شی او د هغې به زوئ پیدا شی او هغه به د هغهٔ نوم عمانوایل کیږدی."
(یشعیاه ۷ : ۱۴)

## عیسیٰ مسیح د انګور بوټی دے.

هغه داسی ډېر (تنا) دے کوم چه د میوی پیدا کوونکو او میوه دار بوټو د څانګو د ژوند دپاره ډېر اهم وی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ماسره نژدی اودرېږئ. ټوله ورځ ماسره نژدی اوسئ. کله چه تاسو ماسره اوسیږی نو زما توانائی او قدرت به ستاسو په وسیله ښکاره کیږی. ستاسو مینه، خوشحالی، امن، برداشت، ښۀ والے، زړۀ سواندے، ایمانداری، نرمی او په ځان قابو ساتل زما هغه نعمتونه دی چه ستاسو نه ګیرچاپیره خلکو دپاره زما تحفی دی. داسی تخمونه په هغه ټولو میوو کښی هم شته کوم چه تاسو خلکو ته ورکوئ چه دنیا تری نه ډکه شی...

"زۀ د انګور بوټے یم اؤ تاسو زما څانګی یئ. څوک چه په ما کښی اوسی لکه زۀ چه په هغۀ کښی،نو هغه به ډېره میوه نیسی، ځکه چه زما نه بغیرتاسو هیڅ نۀ شئ کولے."
(یوحنا ۱۵ : ۵)

# عیسیٰ مسیح فتح ده.

هغۀ په شیطان او د هغۀ په طاقتونو فتح حاصله کړه. په هغۀ کښې مونږ خوشحالی کوو ځکه چه ټول دښمنان زمونږ د پښو لاندی دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... کۀ تاسو په خپلو حالاتو یا تاریخ کښې فتح نۀ شئ لیدلے نو دا صرف د دِ په وجه چه تاسو هغی ته زما په نظر نۀ ګورئ. زما سلطنت ته په شکرګزارئ او زما کور ته په ثنأ کولو او په ژړا ورننوزئ نو بیا به تاسو وګورئ...

"د مرګ لشه ګناه ده او ګناه د شریعت نه خپل طاقت بیا مومی. خو د خدای شکر دے چه هغه مونږ ته د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله فتح راکوی. نو اے زما خوږو وروڼو! ټینګ اؤ قائم اوسئ اؤ همیشه د مالک په کار کښې بوخت اوسئ ځکه چه تاسو خبر یئ چه په مالک کښې ستاسو خواری بی‌فائدی نۀ ده."
(اول کورنتیان ۱۵ : ۵۶-۵۸)

# عیسیٰ مسیح د خدای آواز دے.

څوک چه عیسیٰ پیژنی هغوی به د هغهٔ آواز هم پیژنی. په مکاشفه کښی د هغهٔ آواز د اوبو د شور په شان دے. په یوحنا کښی د هغهٔ آواز د ښهٔ شپونکی او د مینی کوونکی زلمی په شان دے. کهٔ چری مونږ د هغهٔ آواز ته غوږ ونیسو نو مونږ به د هغهٔ آواز واورو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د خپل ځان نه ګیرچاپیره مصنوعی آوازونه بند کړئ او مهٔ یی اورئ. زما آواز ته غور وکړئ. زهٔ تاسو ته د ژوندون د کلام خبری کووم...

"تاسو په خپله په دِ ګواهی ورکولے شئ چه ما وئیلی وو چه زهٔ مسیح نهٔ یم، زهٔ خو د هغهٔ د وړاندی را استولے شوے یم. ناوی د وادهٔ د زلمی وی اؤ د وادهٔ د زلمی دوست څوک چه ولاړ وی اؤ د هغهٔ خبری آؤری، هغه د وادهٔ د زلمی په آواز اؤریدو د خوشحالئ نه په جامو کښی نهٔ ځائیږی. دا خوشحالی اوس زما پوره شوه. په کار دی چه هغه لوی شی اؤ زهٔ ورکوټے."

(یوحنا ۳ : ۲۸-۳۰)

## عیسیٰ مسیح زمونږ آسمانی رویا ده.

د مرګ نه بیا ژوندے شوے مسیح په آسمان کښې د خدای په ښی لاس ناست دے او زمونږ د ذهنونو نه هر یو بندیز (بوج) د خپل قدرت لرونکی حضور په وسیله لرې کوی. هغۀ د دمشق په لاره پولوس سره هم داسی وکړل. هغه غواړی چه ما او تاسو ته هم خپل ځان ښکاره کړی. عیسیٰ مسیح فرمائی... په نور کښې را داخل شئ چه ستاسو سترګی هم د نور نه ډکی شی. دا نور به ستاسو په وسیله داسی ځلیږی لکه چه یو کور د غرۀ په سر باندی ځلیږی. او څوک چه تاسو ګوری هغوی به پوهه شی چه زۀ راغلم...

"بادشاه سلامته! زۀ په لاره کښې وم چه په غرمه کښې می د آسمان نه یوه رڼا ولیده چه د نمر نه هم زیاته روښانه وه چه زما اؤ زما د سفر د ملګرو چاپیره زلقیده. اؤ مونږ ټول په مزکه پریوتلو اؤ بیا ما په عبرانئ ژبه کښې یو غږ واؤریدلو... زۀ عیسیٰ یم چه تۀ می عذابوی. نو ځکه اے اګریپا بادشاه! زۀ د دِ آسمانی رویا نه نافرمانه نۀ شوم."
(اعمال د رسولانو ۲٦ : ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵ ، ۱۹)

## عیسیٰ مسیح پړده ده.

د هغهٔ بدن د ژوندی خدای کلیسا (هیکل) دے. د هغهٔ بدن د هغه مقدسو ځایونو پړده ده چرته چه خدای خپل ځلیدونکی جلال سره اوسیږی. د صلیب په وجه هغه پړده وشلیده او دروازه کولاؤ شوه چه ایمانداران د خدای مقدس ځائ ته ورننوزی او هغهٔ سره مخامخ په مخامخ خبری کوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... دننه راشئ. په شوق سره د دننه راتلو خواهش کوئ. پلار او زهٔ تاسو سره ډیر څهٔ تقسیمول غواړم خو دِ دپاره ستاسو دننه راتلل ضرور دی...

"نو اوس اے ورونړو! چه مونږ د عیسیٰ د وینی په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړهٔ وریو، په هغه نوی اؤ ژوندئ لار چه هغهٔ زمونږ دپاره د پړدی له مینځ نه خلاصه کړی ده، یعنی د خپل بدن په وسیله اؤ چه زمونږ دغه شان لوی کاهن دے چه د خدای د کور مختیار دے، نو راځئ چه خدای ته ورشو اؤ په داسی حالت کښی چه زمونږ زړونه رښتینی وی، زمونږ ایمان د مضبوط وی، زمونږ ضمیر دِ د ګناه د احساس نه پاک وی، او زمونږ بدنونه دِ په صفا اوبو سره وینځلی وی."
(عبرانیان ۱۰ : ۱۹-۲۲)

دسمبر ۱

# عیسیٰ مسیح کار کوونکی دے.

عیسیٰ مسیح د خپل پلار په هدایاتو د عمل کولو په وجه د دِ قابل شو چه عجیبه معجزی یې په داسی ځایونو کښی وکړلی چرته چه د څۀ امید وؤ. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما په کلام کښی د ډبیدلو په وجه او د ایماندارانو خلکو سره په یو ځائ د عبادت او ثناء وئیلو په وجه ستاسو ایمان مضبوطیږی. زۀ غواړم چه تاسو په دِ ایمان ولرئ (باور وساتئ) چه ستاسو او د هغه سرو او ښځو چه د خدای دی په وسیله زما د کارونو نه لوئ لوئ کارونه ممکن دی. تاسو زما پیرو کار یئ...

"چه زۀ دا وایم چه پلار په ما کښی دے اؤ زۀ په پلار کښی نو په دِ باور وکړئ اؤ یا د دِ کارونو په سبب باور وکړئ. ربښتیا ربښتیا تاسو ته وایم، څوک چه په ما ایمان راوړی هغه به هم هغه څۀ کوی لکه چه یی زۀ کوم، اؤ هغه به لا د دِ نه هم زیات کارونه کوی ځکه چه زۀ پلار له روان یم."
(یوحنا ۱۴ : ۱۱ ، ۱۲)

# عیسیٰ مسیح کلام دے.

هغه د خدای د مخکښې نه موجود، تخلیق شوے، د نور نه ډک، ظاهریدونکے، او طاقتور کلام دے. په هغۀ کښې د خدای د سوچونو مطلب، د هغه وئیلی شوی کلام او دلائل په مکمل توګه او ترتیب سره موجود دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... پریږدئ چه زما کلام ستاسو زړۀ سره خبرې وکړی او په تاسو کښې ځۀ نوی او تازه څیزونه پیدا کړی. کله چه تاسو زما په کلام کښې ډوب شئ نو زۀ په تاسو کښې او تاسو په ما کښې شئ او مونږ یو شو...

"په ازل کښې کلام وو اؤ کلام د خدای څخه وو اؤ کلام خدای وو، دغه په ازل کښې د خدای څخه وو. اؤ د هغۀ په وسیله ټول څیزونه په وجود کښې راغلل. ځۀ چه په وجود کښې راغلل، یو څیز هم بغیر د هغۀ نه په وجود کښې رانۀ غے. په هغۀ کښې ژوندون وو اؤ هم دغه ژوندون د بنی آدمو نور وو."
(یوحنا ۱ : ۱-۴)

# عیسیٰ مسیح لائق (قابل) دے.

هغه د هری قبیلی، زبان او قوم د تعظیم او عبادت لائق دے. برکت جلال، عزت او سلطنت د هغهٔ دی ځکه چه هغه په زمکه او آسمان کښی د هر څهٔ جوړوونکے دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله چه تاسو زما حمدوثناء وایئ نو دا تاسو د پلار او روح القدس حمدوثناء وایئ ځکه چه مونږ یو یُو. څهٔ د حمدوثناء لائق دی؟ د دِ په باره کښی سوچ وکړئ. د پیدا کولو د عمل نه وروستو پیدا کوونکی پخپله خپل ځان د خپل پیدا کړو دپاره ورکړو. زهٔ د ټول حمدوثناء لائق یم ځکه چه ما خپل ټول هر څهٔ ستاسو دپاره ورکړل. زما د حمدوثناء په وسیله تاسو ترقی کوئ او د هغهٔ په شان کیږی د چا چه تاسو تعریف کوئ...

"بیا چه ما وکتل نو د بی شماره فرښتو آوازونه می واؤریدل چه هغه د تخت اؤ د حیوانانو اؤ د مشرانو نه چاپیره وی اؤ د هغوئ شمار په زرګونو اؤ لکونو کښی وو، اؤ هغوئ په زوره چغی وهلی چه: "هغه ګډورے چه حلال کړے شو، د دِ لائق دے چه ټول قدرت، دولت، حکمت، لوئی، عزت، شان اؤ تعریف ومومی!"
(مکاشفه ۵ : ۱۱-۱۲)

## عیسیٰ مسیح لاره ده.

هغه زمونږ د سفر هغه ذریعه او لار ده کومه چه د خدای بادشاهئ ته ځی. دا داسی سفر دے په کوم کښی چه مونږ د منزل طرف ته روزانه کوم قدمونه اخلو دا ډیر قیمتی دی. (د دِ منزل په سفر کښی چه مونږ کوم قدمونه روزانه اخلو دا ډیر اهم او قیمتی دی). عیسیٰ مسیح فرمائی... زهٔ لار یم، زهٔ حق یم، او زهٔ ژوندون یم. ډیر خلک چه د دِ حقیقت نه خبر شی نو تیندک وخوری. ځکه چه هغوی نهٔ پوهیږی چه رحم یعنی زهٔ هغوی ته راغلے یم او هغوی خپلو خدایانو ته د نژدی تللو کوشش کوی. څومره برکتی دی هغه خلک د چا طاقت چه زما نه دے؛ او د چا په زړهٔ کښی د صیون نرئ لاره وی...

"نو اوس اے وروڼو! چه مونږ د عیسیٰ د وینی په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړهٔ وریو، په هغه نوی اؤ ژوندئ لار چه هغهٔ زمونږ دپاره د پړدی له مینځ نه خلاصه کړی ده، یعنی د خپل بدن په وسیله اؤ چه زمونږ دغه شان لوی کاهن دے چه د خدای د کور مختیار دے، نو راځئ چه خدای ته ورشو اؤ په داسی حالت کښی چه زمونږ زړونه رښتینی وی، زمونږ ایمان دِ مضبوط وی، زمونږ ضمیر دِ د ګناه د احساس نه پاک وی، او زمونږ بدنونه دِ په صفا اوبو سره وینځلی وی."
(عبرانیان ۱۰ : ۱۹-۲۲)

دسمبر ۵

## عیسیٰ مسیح آب حیات دے.

هغه د اوبو د هغه چشمی ذریعه ده د کوم نه چه د ژوندون اوبۀ راځی او د ژوندون خوشبو د عیسیٰ مسیح په وینه کښی ده. (عیسیٰ مسیح د ژوندون د اوبو هغه ذریعه ده د کوم خوشبو چه د هغۀ په وینه کښی ده). په هغۀ کښی د مکمل خوشحالئ امکانات شته دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... پریږدئ چه زما د ژوندون اوبه په تاسو کښی جمع شی او چه د نۀ ختمیدونکی دریاب په شان بهیږی. کله چه تاسو خپل ځان تش محسوس کړئ نو د اوبو هغه ذریعی ته ووایئ چه تاسو ډک کړی. ستاسو د ژوند په سختو او مشکل حالاتو کښی به خوشحالی او اطمینان تاسو سره وی او په دِ وجه به تاسو خوشحالی محسوسوئ...

"عیسیٰ ووئیل، "هر هغه څوک چه دا اوبۀ وڅښی هغه به بیا هم تږے کیږی. خو کومی اوبه چه زۀ ورکوم د هغی د څښلو نه پس به څښونکے هیڅکله هم بیا نۀ تږے کیږی. زۀ چه کومی اوبۀ ورکوم هغه به په هغۀ کښی د ننه یوه چینه شی چه همیشه به بهیږی اؤ د تل ژوندون به ورله ورکوی." ښځی ووئیل، مالکه! هغه اوبۀ ما له راکړه نو زۀ به هم بیا نۀ تږی کیږم اؤ په دی لاره به بیا اوبو وړلو له نۀ راځم."
(یوحنا ۴ : ۱۳ ، ۱۴)

# عیسیٰ مسیح تازه شراب دی.

هغۀ د خپلی ورځی دپاره پاک او خاص شراب تیار کړی وو کوم چه د انګورو نه ویستل شوی وو. هغۀ خپلو مریدانو ته ووئیل چه کوم شراب چه هغه مونږ له راکوی دا د هغۀ وینه ده. کله چه مونږ دا اوڅکو نو د هغۀ وینه په مونږ کښی راشی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ په تاسو کښی راتلل غواړم چه ستاسو په وسیله په کاملو طریقو وبهیږم. زما د وینی قیمتی شراب وڅکئ. او څنګه چه تاسو معاف کړے شوی یئ هم داسی تاسو هم د ځان نه ګیرچاپیره هغه خلق معاف کړئ چا چه تاسو ته تکلیف درکړے دے...

"بیا یی کنډول راواخستو، د خدای شکر یی پری وویستو اۇ په دی وینا سره یی هغوئ ته ورکړو چه: د دِ نه ټول وڅښئ. ځکه چه دا زما وینه ده چه د خدای وعده قائموی اۇ د ډیرو خلکو د ګناهونو د معافئ دپاره توئیږی."
(متی ٢٦ : ٢٧ ، ٢٨)

دسمبر ٧

## عیسیٰ مسیح حکمت دے.

هغه د حکمت هغه ذریعه ده د کوم په وسیله چه په مختلفو زمانو کښی علم حاصل کړے شو. په هغهٔ کښی د پوهی دا قابلیت دے چه هغه د خلکو د حالاتو نه خبر دے. هغه د پاک او صفا عدالت کولو قابل دے. عیسیٰ مسیح فرمائی... د پلار نه حکمت وغواړئ. کله چه هغه تاسو ته حکمت درکوی نو هغه تاسو ته یو ژوندے سړے یعنی ما درکوی چه زهٔ ستاسو خواهشات د هغهٔ د مرضئ قابل کړم. او داسی به مونږ یو ځائ یو...

"او د یسی د تنی نه به یوه څانګه راوځی او د هغی د بیخ نه به یو بارآوره څانکه پیدا شی. او د خدای روح به په هغهٔ کښی ایساریږی. د حکمت او پوهی روح، د مصلحت او قدرت روح، د معرفت او د خدای د ویری روح."
(یشعیاه ۱۱ : ۱ ، ۲)

دسمبر ۸

# عیسیٰ مسیح د خدای له طرف نه حکمت دے

هغه داسی ښۀ او مکمله تحفه ده کومه چه د نورونو د پلار د طرف نه ده او د هغۀ په نور کښی بدلون نۀ راځی. هغه د خدای د مرضئ د پیژندلو خزانه ده. په هغۀ کښی امتیاز او داسی علم دے کوم چه د انصاف د لاری رهنمائ کوی. په هغۀ کښی مونږ د شیطان د لارو نه آزاد شوی یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما حکمت داسی نور دے کوم چه د امن لاره ښکاره کوی. په دِ کښی ستاسو دپاره هر قسم برکت دے او هغه دِ دپاره چه تاسو یی هم زیات ورکړئ. زۀ به تاسو د دِ قابل کړم چه تاسو خپل برکتونه په حکمت سره استعمال کړئ...

"خو تاسو د خدای له خوا په مسیح عیسیٰ سره یووالے لرئ چه زمونږ دپاره د خدای له لوری حکمت ګرزیدلے دے، یعنی صداقت اؤ پاکوالے اؤ فدیه. لکه چه لیکلی دی: "څوک چه فخر کوی هغه دِ په مالک فخر کوی." "
(اول کورنتیان ۱ : ۳۰ ، ۳۱)

## عیسیٰ مسیح عجیبه دے.

هغه د هغه عجیبه معجزو، حیرانووونکو او پاریدونکو څیزونو نه ډک دے کوم چه هغهٔ کړی دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... تاسو زما د بدن حصی یئ. نن اُمید وکړئ چه زما نرمی ستاسو په وسیله ظاهره شی او بیا به عجیبه کارونه کیږی. کهٔ تاسو د معجزی اُمید کوئ نو زما حمدوثناء وکړئ زما شکرگزاری وکړئ او زما نوم ته جلال ورکړئ. یو معجزه چه تاسو وګورئ نو په هغی زما حمدوثناء وایئ ځکه چه دا زما د هغه کار یوه وړه حصه ده کوم چه زهٔ کوم. څنګه چه یشعیاه نبی وئیلی دی چه د هغهٔ د سلطنت یا د هغهٔ د امن به اختتام نهٔ وی...

"هم دغه شان زمونږ دپاره یو هلک پیدا شو او مونږ ته یو زوئ راکړے شو او سلطنت به د هغهٔ په اوږو باندی وی او د هغهٔ نوم به عجیبه مشیر، خدای قادر، د ابدیت پلار او د سلامتی شهزاده وی."
(یشعیاه ۹ : ٦)

## عیسیٰ مسیح زخمی کړے شوے دے.

هغه تر هغه وخته پورې وهلے شو او وتزنولے شو تر څو پورې چه ساه د هغه نه نۀ وه تللې. زمونږ د ګناهونو سزا، زمونږ د بیماریانو او غمونو درد د هغه په بې‌عیبه او پاک بدن باندې واچولے شول. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ ستاسو دپاره دوزخ (عالم ارواح) ته لاړم او په کامیابئ سره ترې نه بیا راوتم. خپلو حالاتو ته اجازت مۀ ورکوئ چه هغه تاسو د کامیابئ حاصلولو نه او په دِ کښې د ګرځیدلو نه منع کړی. ځکه چه دا د همیشه دپاره ستاسو دی...

"بلکه هغه زمونږ د خطاګانو په وجه زخمی شو او زمونږ د بدکردارئ په وجه مړ کړے شو. او د هغۀ د وهلو په سبب مونږ ته شفا ملاؤ شوه."

(یشعیاه ۵۳ : ۵)

## عیسیٰ مسیح وفادار او رښتینے ګواه دے.

هغۀ په خپله خوښه خپل ژوند زمونږ دپاره ورکړو. عیسیٰ مسیح دِ دپاره شهید شو چه مونږ صداقت وپیژنو. عیسیٰ مسیح فرمائی... زۀ ستاسو د ژوند په دروازه ولاړ یم او ټکوم یی. آیا تاسو ما دننه نۀ پریږدئ چه تاسو د هغه ټولو څیزونو نه آزاد کړم کوم چه د خدای د طرف نه نۀ دی؟ کاملیت هلته راځی چرته چه زۀ مالک یم...

"چه ورته آمین وائی، چه هغه وفادار رښتینے ګواه دے اؤ د هغۀ په وسیله خدای هر څۀ پیدا کړل. هغه فرمائی چه... زۀ تا له دا صلاح درکوم چه له ما نه په اور کښی صفا شوی سرۀ زر واخله چه شتۀ من شی اؤ سپینی جامی واخله چه د خپل بربنډتوب شرم پری پټ کړی اؤ د سترګو رانجۀ را نه واخله چه تۀ بینا شی. هر چاسره چه مینه لرم هغوئ زۀ ملامت کوم اؤ په ادب یی ساتم، نو ځکه غیرت وکړه او توبه وکړه."
(مکاشفه ۳ : ۱۴ ، ۱۸-۱۹)

# عیسیٰ مسیح زمونږ جغ دے.

مونږ د نورو ایماندارانو سره د عیسیٰ مسیح د هغه مقصد او منصوبی په وسیله یو ځائ یو کوم چه زمونږ د ژوند دپاره دی. په هغۀ کښی زمونږ د بار وزن سپکیږی. هغه مونږ ته آرام راکوی. عیسیٰ مسیح فرمائی... ما تاسو دِ دپاره نۀ یئ راغوښتی چه دنیا بچ کړئ بلکه دِ دپاره چه زما د هغه منصوبی تابعداری وکړئ کوم چه ستاسو د ژوند دپاره ده. په شوق سره خواهش وکړئ چه په دِ رشته او آرام کښی داخل شئ. ستاسو د ښۀ والی دپاره دا زما د ټولو نه ښۀ څیز دے...

"اے تاسو چه ټول خواری کوئ اؤ پنډ مو دروند دے، ماله راشئ اؤ زۀ به آرام درکړم. زما جغ په غاړه کړئ اؤ له ما نه زده کړئ، ولی چه زۀ حلیم یم اؤ په زړۀ کښی غریب، اؤ ستاسو روحونه به آرام مومی. ولی چه زما جغ په ورلو کښی پوست دے اؤ زما پنډ سپک دے."

(متی ۱۱ : ۲۸-۳۰)

# عیسیٰ مسیح زمونږ هو دے.

هغه نۀ بدلیدونکے او د اعتبار قابل دے. په هغۀ کښې د خدای ټولې وعدې پوره شوې دي او زمونږ هم په هغۀ کښې دی. عیسیٰ مسیح فرمائی... هغه ټول څیزونه چه خدای اسرائیلو او هغه خلکو سره چا چه هغۀ سره مینه کوله او د هغۀ فرمانبرداری یې کوله وعدې کړې وې هغه ټولې په ما کښې دي. خپل ځانونه کولاؤ کړئ زما د ډیر څۀ حاصلولو دپاره په دِ تپوس چه، "زه خپل ژوند څنګه وقف کړم؟"

"ځکه چه د خدای چه هر څومره لوظونه دی هغه په مسیح کښې هو شو، اؤ هم دغه وجه ده چه د هغۀ په وسیله پرې آمین هم وشو، د دِ دپاره چه زمونږ په وسیله د خدای جلال څرګند شی."
(دویم کورنتیان ۱ : ۲۰)

# عیسیٰ مسیح د خلاصون توپئ ده.

په عیسیٰ مسیح کښی مونږ ته د خدای هر یوه اسلحه ملاویږی. کله چه مونږ په مسیح کښی خپل ذات وپیژنو او په دِ پوهه شو چه په هغۀ کښی زمونږ حصه څۀ ده نو داسی زمونږ د ضمیراو شعور، یادونو، خوبونو، او خواهشونو حفاظت پخپله کیږی. عیسیٰ مسیح فرمائی... زما قیمتی وینه په خپل سر باندی د مسح په شان واچوئ ځکه چه دا هغه اسلحه ده کوم چه تاسو د هغه ټولو غلطو سوچونو نه بچ کوی کوم چه تاسو پریشانه او بیلاری کوی. زۀ تاسو د دِ قابل کوم چه تاسو خپله ویره او غلط سوچونه ختم کړئ او زۀ هره ورځ ستاسو ذهنونه تازه کوم کله چه تاسو په ما باندی نظر کوئ...

"خو مونږ چه د ورځی یُو مونږ باید بیدار اوسو، اؤ د ایمان اؤ د مینی زغره آغوستی اؤ د خلاصون د اُمید ټوپئ په سر کړو. ځکه چه خدای مونږ د غضب دپاره نه، بلکه د دِ دپاره مقرر کړی یو چه مونږ د خپل مالک عیسیٰ مسیح په وسیله خلاصون بیا مومو. اؤ هغه زمونږ د خاطره ځکه مړ شو چه کۀ مونږ بیدار یو یا کۀ اودۀ، ټول د هغۀ سره ژوند تیر کړو."
(اول تسالونیکیان ۵ : ۸-۱۰)

# عیسیٰ مسیح د صداقت زغره ده.

هغه زمونږ د زړۀ او زمونږ د جذباتو ساتونکے او حفاظت کوونکے دے. اګر کۀ مونږ ګناهګار يو خو د هغۀ ښۀ والے او انصاف مونږ معاف کوی او پاکوی. د هغۀ د وینی د جامو د اغوستو په وجه مونږ د خدای په وړاندی په دعا کښی اودریدے شو او د شیطان په خلاف جنګ ته اودریدے شو. عیسیٰ مسیح فرمائی... کله نه چه زۀ په تاسو کښی یم نو کومه اسلحه چه ستاسو په کار ده او کوم صداقت چه ستاسو په کار دے هغه تاسو سره دے. څنګه چه نُور ستاسو د بدن په وسیله ځلیږی هم داسی پلار سره زما رشته ستاسو په وسیله ځلیږی. او داسی به ستاسو دعاګانی د اثر نه ډکی او ستاسو عبادت به د پورا زړۀ نه وی...

"زۀ به د خدای نه ډیر خوشحاله یم زما ځان به زما په خدای کښی خوشحاله وی ځکه چه هغه ما ته د نجات کپړی واغوستی. هغۀ په صداقت سره خپلی جامی ماته داسی واغوستی لکه څنګه چه يو زلمے په ځان سهری اچوی او ناوی خپل ځان په خپلو کالو باندی سنګهاروی."

(یسعیاه ٦١ : ١٠)

(او په اول کورنتیان ١ : ٣٠ کښی یئ هم وګورئ)

# عیسیٰ مسیح د امن د زیری پښی (څپلئ) دی.

عیسیٰ مسیح زمونږ پښی وینځی او د هغه لاری دپاره یی تیاره وی کومه چه هغۀ مونږ دپاره منتخب کړی ده. اګر کۀ دا لار ډیره سخته ده خو هغه زمونږ پښی په خپلو پڼو کښی پټوی. په دِ پڼو کښی چه مونږ چرته هم ځو نو د خدای او انسان په مینځ کښی مونږ د صلح زیرے ورکوو. عیسیٰ مسیح فرمائی... په خپلی کورنئ کښی د امن پڼی اچول شروع کړئ. پریږدئ چه هغه سبق تاسو ته تسلی درکړی کوم چه تاسو زده کړی دی چه تاسو د دنیا په قومونو کښی په دعا کښی وګرځئ...

"یقیناً زما خلک به زما نوم پیژنی او په هغه ورځ به پوهیږی چه وئیوونکے هم زۀ وم. ګورئ زۀ حاضر یم. د هغۀ پښی په غرونو باندی څومره ښۀ ښکاری څوک چه خوشخبری راوړی او د سلامتئ پیغام ورکوی او د خیریت خبر او د نجات اعلان کوی. څوک چه د صیون نه فرمائی چه ستاسو خدای به حکومت کوی."
(یشعیاه ۵۲ : ۶-۷)
(او په افسیان ۲ : ۱۳-۱٦ کښی یئ هم وګورئ)

## عیسیٰ مسیح د حق ملابند (پتیٔ) دہ.

د هغه په صداقت او وفادارئ مونږ محفوظ یو. په عیسیٰ کښی حقیقی روح د هغه د بدن اهم حصی محفوظه وی؛ او مونږ دواړه په هغهٔ کښی په هغه حقیقی روح کښی پټ یو. عیسیٰ مسیح فرمائی... د هوښیارو خلکو دا سوچ وو چه هغوی زما د هغه حقیقت نه خبر شی کوم چه به هغوی آزاد کړی، خو هغوی اوس هم زما نه خبر نهٔ دی. کله چه تاسو خپل ځان زما د هغه مینی تابع کړئ کوم چه ستاسو ګیرچاپیره دہ، نو بیا به تاسو حقیقت نه خبر شئ او خوشحالئ به کوئ...

"عیسیٰ جواب ورکړو، زهٔ لار یم، زهٔ حق یم اؤ زهٔ ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نهٔ شی راتلے. کهٔ چری تاسو زهٔ پیژندلے نو تاسو به پلار هم پیژندلو. اوس تاسو هغه پیژنئ نو هغه تاسو لیدلے دے."
(یوحنا ۱۴ : ٦ ، ۷)

## عیسیٰ مسیح د روح هغه توره ده کوم چه د خدای کلام دے.

"ځکه د خدای کلام ژوندے اؤ اثرناک اؤ د هری یوی دوه مخی توری نه زیات تیرۀ دے، چه د ځان اؤ روح نه تیریږی اؤ اندام اندام او مغز مغز جدا کوی اؤ د زړۀ په خیالونو اؤ ارادو تحقیق کوی. اؤ د هغۀ د نظر نه هیڅ څیز پټ نۀ دے بلکه د چا سره چه زمونږ حساب دی، د هغۀ په نظر کښی ټول څیزونه څرګند اؤ بی پړدی دی... او هغه عیسیٰ مسیح د خدای زوئ دے..."

"په ازل کښی کلام وو اؤ کلام د خدای څخه وو اؤ کلام خدای وو، دغه په ازل کښی د خدای څخه وو. اؤ د هغۀ په وسیله ټول څیزونه په وجود کښی راغلل. څۀ چه په وجود کښی راغلل، یو څیز هم بغیر د هغۀ نه په وجود کښی رانۀ غے. په هغۀ کښی ژوندون وو اؤ هم دغه ژوندون د بنی آدمو نُور وو."
(یوحنا ۱ : ۱-۴)

# عیسیٰ مسیح د ایمان باِل دے.

د سر نه تر پښو پورى د ایمان ډال په عیسیٰ مسیح کښې زمونږ دے کوم چه مونږ د تیارو د شهزاده (شیطان) د حملو نه بچ کوی. دا ډال د خداى د کلام سره نۀ ماتیدونکی رابطه ده. "... تاسو په هغه څیزونو او خبرو قایم اوسئ کوم چه تاسو زده کړی دی اؤ په کومو چه ستاسو یقین دے. اؤ تاسو د وړوکوالی راسی د هغو پاکو نوشتو نه خبر یئ، کوم چه تاسو ته په عیسیٰ مسیح د ایمان راوړلو او د خلاصون موندلو دپاره پوهه دربخښی."

"نو بیا چه د ګواهانو دومره لویه وریځ زمونږ نه چاپیره ده نو راځئ چه مونږ هم هر یو پیټی اؤ هغه ګناه چه مونږ په اسانئ سره نښلوی د ځان نه لرى کړو، اؤ په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلیږو چه مونږ ته وړاندى ده. اؤ د ایمان بانی اؤ کاملوونکی عیسیٰ ته وګورو چه د هغی خوشحالئ په ځای چه د هغۀ د نظر د وړاندی وه."
(عبرانیان ۱۲ : ۱-۲)

## په زړه عهد نامه کښې خدای يهوواه يرې، (مالک قرباني مهيا کوونکې) دے.

"او څنګه چه ابراهيم خپل شاته وکتل نو يو پسه يئ وکته چه ښکر يئ په ګڼو بوټو کښې نښتے وو. نو ابراهيم لاړو او هغه پسه يئ ونيوۀ او د خپل زوئ په بدل کښې يې سوځيدلې قرباني وکړه. او ابراهيم د هغه ځائ نوم يهواه يرى کيښودو نو په دِ وجه تر ننه پورى دا متل مشهور دے چه د خداى په غرۀ به مهيا کيږى."

(پيدايښت ۲۲ : ۱۳-۱۴)

## يهوواه عيسىٰ مسيح خپل ځان د خداى د ګډورى په طور پيش کړو.

"بله ورځ يحيى وليدل چه عيسىٰ هغه طرف ته راځى. هغۀ ووئيل چه: وګورئ! د خداى ګډورے چه د دنيا ګناه په ځان وړى! يحيى دا ګواهى هم وکړله چه: ما روح القدس د آسمان له مخى لکه د يوى کونترى په شان په راکوزيدو وليدلو چه په هغۀ نازل شو. ما دے نۀ پيژندو، خو هغه چا چه زۀ يى په اوبو د بپتسمى ورکولو دپاره راليږلے يم هغۀ ما ته ووئيل، هر کله چه تۀ روح القدس په چا په راکوزيدو ووينى اؤ په چا رانازل شى نو تۀ به پوهه شى چه هم دا هغه سړے دے چه په روح القدس به بپتسمه ورکوى."

(يوحنا ۱ : ۲۹ ، ۳۲ ، ۳۳)

دسمبر ۲۱

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهوواه رافې،
## (زۀ خدای ستاسو شافی یم.)

"او هغه وفرمائیل، کۀ چرې تاسو د خپل خدای خبرې په مینه واورېدې او هغه کارونه مو وکړل کوم چه د هغۀ په نظر کښې ښۀ دی او د هغۀ حکمونه مو ومنل او د هغۀ په آئین مو عمل وکړو نو زۀ به په هغه بیماریانو کښې کوم چه ما په مصریانو کښې راولیږلې دی یو هم په تاسو نه را نۀ ولم ځکه چه زۀ خدای ستاسو شافی یم."

(خروج ۱۵ : ۲٦)

## یهوواه عیسیٰ مسیح شفا ورکوونکې دے.

"کله چه ماښام شو نو خلکو عیسیٰ له ډېر داسې کسان راوستل چه پیریانو نیولی وو اؤ هغۀ د هغوئ نه په یو حکم پیریان وشړل اؤ ټول رنځوران یې جوړ کړل، چه دغه رنګ د یشعیاه نبی په وسیله وئیلی شوی دا پیشن ګوئی پوره شی چه "هغۀ زمونږ رنځونه اؤ کمزورئ اوچتی کړی." "
(متی ۸ : ١٦ ، ١٧)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهواه نسي، (خدای زمونږ علم "جهنډا") ده.

او کله پورې چه به موسی لاس اوچت کړے وو تر هغه پورې به بنیاسرائیل غالب وو او کله به چه هغۀ لاس ځوړند کړو نو عمالیقی به غالب شول... او هارون او حوار یو اخو نه او بل دیخوا نه د هغۀ لاسونه سنبهال کړې وو. نو بیا د هغه لاسونه د نمر غورځیدو پورې په مضبوطئ سره اوچت وو. او یشوع عمالیق او د هغۀ خلکو ته د توری په زور شکست ورکړو... او موسی یوه قربانګاه جوړه کړه او د هغې نوم یې یهواه نسي کیښودو."

(خروج ۱۷ : ۱۲ ، ۱۳ ، ۱۵)

## یهواه عیسی' مسیح زمونږ علم (جهنډه) ده.

"لکه څنګه چه موسی په بیابان کښې مار په لوړه خیژولے وو دغسې به ابن آدم هم وخیژولے شی، دپاره د دِ چه هر څوک چه په هغۀ ایمان راوړی نو هغه به هم په هغۀ کښې د تل ژوند ومومی."
(یوحنا ۳ : ۱۴ ، ۱۵)
"اؤ کله چه زۀ د مزکی نه وخیژولے شم نو زۀ په ټول ځان ته راکاږم."
(یوحنا ۱۲ : ۳۲)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهوواه مکادیش، (خدای زمونږ پاکوونکے) دے.

"خو بنی‌اسرئیلو ته دا هم وایه چه تاسو به زما سبتونه ضرور منئ. دا دِ دپاره چه دا زما او ستاسو په مینځ کښې ستاسو د تیر شوو نسلونو یوه نخښه وی چه تاسو پوهه شئ چه زۀ خدای ستاسو پاکوونکے یم"

(خروج ۳۱ : ۱۳)

## یهوواه عیسیٰ مسیح زمونږ پاکوونکے (مقدس کوونکی) دے.

"ځکه خو عیسیٰ هم د خپلی وینی په وجه د امت د پاکولو دپاره د ښار د دروازی نه بهر تکلیف وزغملو. نو راځئ چه د هغۀ په سپکاوی کښې شریک شو اؤ د خیمه ګاه نه بهر هغۀ له لاړ شو."
(عبرانیان ۱۳ : ۱۲ ، ۱۳)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهواه شیلوم،
## خدای زمونږ صلح "امن" دے.

"نو بیا جدعون هلته د خدای دپاره قربان ګاه جوړه کړه او د هغې قربان ګاه نوم یې شیلوم کیښودو او هغه د ابیعزریو په عفره کښې ترننه پورې موجوده ده."

(قاضیان ٦ : ٢۴)

## یهواه عیسیٰ مسیح زمونږ صلح (امن) دے.

"ځکه چه هم هغه زمونږ صلح ده، یعنې د یهودیانو اؤ د غیریهودیانو. اؤ د جدائی کوم دیوال چه په مینځ کښې وو، هغه یې ونړوو، یعنې د شریعت هغه حکم چه د شریعت په طور وو، یې منسوخ کړو چه خپل ځان کښې د دواړو نه یو نوے انسان پیدا کړی اؤ صلح راولی. اؤ د خپلې سولئ په وسیله دښمنی ختمه کړی چه د هغې په وسیله دواړه په یو بدن کښې شریک کړی اؤ خدای سره یې یو کړی."

(افسیان ٢ : ١۴-١٦)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهوواه سبت، (خدای رب الافواج) دے.

"ما خدای په یو لوئ او عظیم تخت باندی ناست وکتلو او د هغهٔ د جامو د لمنی نه هیکل معمور شو... مقدس، مقدس، مقدس رب الافواج دے، او ټوله زمکه د هغهٔ د جلال نه معموره ده. او د آواز کوونکی په آواز سره درشل او بنیادونه وخوځیدل او هغه کور د دوړو نه ډک شو."

(یشعیاه ٦ : ١ ، ٢-٣)

## یهوواه عیسیٰ مسیح رب الافواج دې.

"یشعیاه دا خبری ځکه کړی وی چه د عیسیٰ لوئی هغهٔ ولیدله اؤ د هغهٔ په حق کښې یی خبری کولی. نو عیسیٰ په چغو ووئیل، "کله چه یو سړے په ما ایمان راوړی نو هغه نهٔ یواځی دا چه په ما ایمان راوړی بلکه په هغه چا هم چه زهٔ یی راستولے یم اؤ څوک چه ما وینی هغه به هغه څوک ووینی چه زهٔ یی راستولے یم."

(یوحنا ١٢ : ٤١ ، ٤٤-٤٥)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهوواه ایلون، (خدای تعالی) دے.

"زۀ به د خدای د صداقت په مطابق د هغۀ شکر ګزاری کوم او د خدای تعالی د نوم حمدوثناء به وایم."

(زبور ۷ : ۱۷)

## یهوواه عیسیٰ مسیح د ټولو نه لوئی او عظیم دے.

"په تیره زمانه کښې خدای زمونږ د پلارانو نیکونو سره ډیر ځله په مختلفو طریقو سره د نبیانو په معرفت خبری وکړلی. خو په دی آخره زمانه کښې یی مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه یی د ټولو څیزونو وارث وګرزولو اؤ د هغۀ په وسیله یی هم ټول کائنات پیدا کړل. چه هغه د خدای د جلال مظهر او د هغۀ د ذات عکس دے او ټول څیزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوی. هغۀ ګناهونه پاک کړل اؤ په آسمان کښې د قادر مطلق خدای په ښی لاس کښیناستو. نو داسی یی زوی له فرښتو نه دومره غوره شو څومره چه هغۀ په میراث کښې د هغوئ نه لوی نوم موندلے وو."
(عبرانیان ۱ : ۱-۴)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهوواه راه، خدای زمونږ شپونکے "چوپان" دے.

"خدای پاک زما شپون دے. ما ته به د هیڅ کمے نهٔ وی. هغه ما د ځرند په (مالځړ) شنو شنو ځایونو کښې کښینوی. هغه ما د راحت چینو ته بوځی. او زما ژوند بحال کوی. هغه ما د خپل نوم په خاطر د صداقت په لارو باندی بوځی."

(زبور ۲۳ : ۱-۳)

## یهوواه عیسیٰ مسیح زمونږ شپون دے.

"زه ښهٔ شپونکے یم اؤ ښهٔ شپونکے د ګډو دپاره خپل سر ورکوی. ښهٔ شپون زهٔ یم. زهٔ خپلی ګډی پیژنم اؤ ګډی ما پیژنی، لکه چه ما پلار پیژنی اؤ زهٔ پلار پیژنم، اؤ زهٔ خپل ځان د ګډو دپاره قربانوم. او زما نوری ګډی هم شته چه هغه د دِ شپول نهٔ دی، خو د هغوئ راوستل ضروری دی اؤ هغوئ به هم زما آواز آؤری، نو بیا به رمه یوه شی اؤ شپونکے به یی هم یو وی."

(یوحنا ۱۰ : ۱۱ ، ۱۴-۱۶)

## په زړه عهد نامه کښې خدای یهوواه تسدکینو، خدای زمونږ راستباز دے.

"ځکه چه خدای صادق دے. هغه صداقت خوښوی او راستباز به د هغهٔ دیدار وکړی."

(زبور ۱۱ : ۷)

## یهوواه عیسیٰ مسیح زمونږ راستباز دے.

"خو تاسو د خدای له خوا په مسیح عیسیٰ سره یووالے لرئ چه زمونږ دپاره د خدای له لوری حکمت ګرزیدلے دے، یعنی صداقت اؤ پاکوالے اؤ فدیه. لکه چه لیکلی دی: "څوک چه فخر کوی هغه د په مالک فخر کوی." "

(اول کورنتیان ۱ : ۳۰-۳۱)

## په زړه عهد نامه کښې خدای يهوواه شمع، خدای حاضر دے.

"نو بيا هغۀ ووئيل چه زۀ تاسره ځم او تاته آرام درکوم."

(خروج ۳۳ : ۱۴)

"... او د ښار نوم به د هغه ورځ نه دا وی چه خدای هلته دے."

(حزقی‌ايل ۴۸ : ۳۵)

## يهوواه عيسىٰ مسيح موجود (حاضر) دے.

"بيا عيسىٰ ورغے اؤ خبرى يى ورسره وکړی اؤ ورته يى ووئيل چه "د آسمان اؤ د مزکی ټول واک ماته راکړے شوے دے. ځکه تاسو په مزکه خوارۀ شئ او ټول قومونه زما مريدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدوس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ. او دا تعليم ورکوئ چه په هغه ټولو خبرو عمل کوئ چه ما تاسو ته حکم کړے دے. او دا يقين لرئ چه زۀ به تل تاسو سره يم، تر آخره وخته پورى."
(متی ۲۸ : ۱۸-۲۰)

# یهوواه عیسیٰ مسیح خلاصوونکی مسیحا دے.

"د عیسیٰ مسیح د پیدایښت بیان داسی دے چه هر کله چه د هغۀ مور مریم یوسف ته کوژدن شوه نو د وادۀ نه وړاندی معلومه شوه چه هغه د روح القدس نه امیدواره ده. یوسف یو نیک سړے وو، نو هغۀ د هغی د بدنامئ نه د بچ کولو دپاره په پرده کښی د کوژدن ماتولو نیت وکړو. هغۀ دا نیت کړے وو چه په دِ کښی د خدای یوه فرښته په خوب کښی ورته راغله اؤ ورته یی ووئیل چه "اے د داؤد زویه یوسفه! د مریم سره د وادۀ کولو نه مۀ ویریږه ځکه چه د هغی امیدواری د روح القدس په قدرت ده. د هغی به زوی وشی اؤ تۀ پری عیسیٰ نوم کیږده، ولی چه هغه به خپل امت د ګناهونو نه خلاصوی." دا هر څۀ ځکه وشول چه خدای د نبی په معرفت څۀ وئیلی وو هغه پوره شی: "کورئ، یوه پیغله به امیداواره شی اؤ زوی به یی وشی اؤ د هغۀ نوم به عمانوایل کیږدی" چه معنی یی ده، خدای زمونږ مل دے. هر کله چه یوسف د خوبه بیدار شو نو د خدای د فرښتی حکم یی ومنو اؤ مریم یی خپل کور ته د خپلی ښځی په طور راوسته. اؤ تر هغی یی لاس ورنۀ وړو تر څو چه یی زوی پیدا شوے نۀ وو، اؤ د هغۀ نوم یی عیسیٰ کیښوودو."

(متی ۱ : ۱۸-۲۵)